د **اَنَابَت اِلَی اللّٰه** او **اِطَاعَت اِلَی اللّٰه** لپاره د **رُجُوع اِلَی اللّٰه** عَمَل ډېر **مُجَرّب تَرِین** عَمَل دئ. که چیرې زړه و اللّٰه ته مَائِل نَه وي نو دا **وِرد** په تَوَجّه سره هره وُرځ سَل (100) واره وَایَه زړه به دې نُورَانِي شي
سُبحَانَ مَن یَّرَانِي سُبحَانَ مَن یَّسمَعُ کَلاَمِي سُبحَانَ مَن یَّذکُرُنِي وَلاَیَنسَانِي .
ددې سره دا عَمَل هم سَل وَاره وَایَه

اَللّٰهُ حَاضِرِي اَللّٰهُ نَاضِرِي اَللّٰهُ مَعِي .

... د مَعدُور لپاره بهتَرِین عَمَل ...

که څوک په لاَس. پُښَه. ستر که. عُوَر مَعذُور وي. نو په کَثرَت سره دې دا

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

آیت پر اُوبو **دَم** کړي. او په مَعدُه ور دي وچیبني. آیت دادئ

أَلَهُم اَرجُلٌ يَّمشُونَ بِهَا. اَم لَهُم اَيدٍ يَّبطِشُونَ بِهَا. اَم لَهُم اَعيُنٌ يُّبصِرُونَ بِهَا .

... د ژړي رُوحَاني علاَج ...

(1) که چاته ژړئ (**يَرقان**) وي. نو اَوّل دي يَو وار **سُورَةُ الفَاتِحَه** بيا اُوَه (7) وار **سُورَةُ الحَشر** بيا يَو وار **سورة القُرَيش** وَوَايِي او پر اُوبُو دي **دَم** کړي. تر څو چي فائده نَه وي شوي تر هغه وخت دي په مَرِيض چيبنِي .

(2) هره وُرَځ دي اَويَا (70) واره دا **دُعَاء** وَايِي

حَسبُنَا اللهُ وَنعمَ الوَكِيلُ .

(3) د اللہ تعالٰي دا نُوم ,,**اَلحَسِيبُ**،، دژې سوه (300) وَارَه پر اُوبُو باندي دَم کَه. يَو وِيشت (21) وُرَځي دي مريض دغه اُوبَه چيبنِي انشَآءَاللہ صِحّتيَاب به شي .

(4) دا آيت

سَبَّحَ لِلّهِ مَافِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرضِ وَهُوَ العَزِيزُ الحَكِيمُ .

يَوسَل يَو (101) وَار وَوَايَه. او

اِيَّاکَ نَعبُدُ وَاِيَّاکَ نَستَعِينُ .

يَوسَل دُوَه شُپيتَه (162) وَارَه وَوَايَه. پر اُوبُو يې دَم کَه. هغه اُوبَه ډيري ډيري چيبنَه. انشَآءَاللہ د ژړي شکايت به ختم شي .

(5) د ژړي (**يَرقَان**) لپاره اِسمِ اِلٰهِي **يَاوَاجِدُ** د مَاخَستَن د لمونځ وروسته څُورَلس (14) وَارَه وَايَه.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(6) د ژړي (**يَرقان**) لپاره **سُورَةُ البَيِّنَه** پر اُوبو باندي دَم که. مريض دي هغه اُوبَه وچيښي. فَائدَه مَند عَمَل دئ.

... د لاَعلاَج مرض او دظَالم د ظُلم څخه د نجَات نُسخَه ...

(1) کَه يو څوک نَاجُوړه وي. او د ډاکتر په ذهن کي بِيمَارِي نَه رائي. هيڅ دَوَاء هم اَثَر نَه کوي. يا د ظَالم ظُلم انتِهَاء ته رسېدلئ وي. نو هره وُرَځ درې سوه دِيَارلس (313) واړه دا آيَت وَوَايَه او د آسمان و طرف ته چُو (**چُف**) کَه. او مريض ته پر اُوبُو باندي دغه **دَم** کَه. مريض دې وچيښي. او دا عَمَل به يَوو ويشت (21) ورځي کوې. آيت دادئ

فَدَعَا رَبَّهُ اَنِّي مَغلُوبٌ فَانتَصِر .

(2) کَه يو څوک نَاجُوړه وي. او لاَعِلاَج مَرَض کي مُبتَلاَء وي. هيڅ دَوَاء هم اَثَر نَه کوي. نو په خپله مَرِيض دي دا آيت په **کَثرَت** سره وَايِي

اِذنَادْي رَبَّهُ اَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَ اَنتَ اَرحَمُ الرَّاحِمِينَ .

(3) د **لاَعلاَج مرض** لپاره دي **سورة الفَاتحَه** د سَهَار. مَاپُښين. مَاځيګر د لمونځ وروسته اُوَه اُوَه (7) واړه وَايِي ... او دا عَمَل دي اُوَه (7) وُرَځِي جاري وَسَاتِي.

(4) مريض يا نَارُوغَه انسَان دي د مَاخَستَن د لمونځ وروسته په خپله سَل (100) واړه دا وَايِي. الله تعالٰي به شِفَاء ورکړي .

سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ .

... د هر دَرد (دړد) او لاَعلاَج مرض نُسخَه ...

(1) د هر دَرد (دړد) او لاَعِلاَج نَاجُوړئ لپاره پر مريض دَاډَوَل **دَم** وکه. په اَوّل او آخِر کي دري واړه **دُرُود شريف** وَوَايَه. او په مينځ کي اُوَه واړه

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د **بسم الله الخ** سره **سورة الفاتحه** وَوَايَه. او دري واره **سورة الاخلاص** وَوَايَه. ددې ټولو ثَوَاب و **حضرت عَلّامَه مَخدُوم محمّدهَاشم سِنَدهِي** ته وَبَخښَه. او بيايې پر مَريض باندې دَم (**چُف**) كه. انشَآءَالله په هغه وخت به مريض ته الله تعالٰي شِفَاء وركړي. د **شوګر** او **كِينسَر** رنګه اَمرَاضُ (نَارُوغَئ) لپاره ډېر فَائِدَه مَند دئ. دُرُود شريف دادئ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰي مُحَمَّدٍ بِعَدَدِ كُلِّ دَاءٍ وَّ دَوَاءٍ. وَبَارِك وَسَلِّم .

(2) كه څوك نَاجوړه وي او دا آيت پر هغه مَريض باندې اُوَه (7) واره **دَم** كې. ډېر ژر به الله تعالٰي **شِفَاء** وركړي. آيت دادئ

وَلَا تَحْلِقُوا رُؤُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضاً أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ .

(3) د هر مرض او هر دَرد (درد) لپاره حضرت تهانوي فرمايي چې **تفسيرِ حُسَيني** نقل كړي دي چې يَوسړئ **محمّدوَاسِع** نومېدئ. د هغه پريوځاى دَرد شو نو **خَادِم** ته وويل چې **طَبِيب** راوغواړه. طَبِيب (ډاكټر) نَصرَاني (**عِيسَايِي**) وُ. خَادِم هلته رَوَان وُ. په لاَره كې **خضر عليه السّلام** ورته ملاؤ شو. پوښتنه ځيني وكړه چې چيرې رَوَان يې؟ **خَادِم** عرض وكه چې فُلاَن بزرګ مَرِيض (بِيمَار) دئ **طَبِيب** راولم. ورته وفرمائل وَاپَس ببرته وُلاړ شه. هغه بُزرګ ته زُومَا (زَمَا) سَلاَم كوه او ورته ووايه چې ستا لپاره د نَصرَانِي ډاكټر څخه عِلاَج كول مُنَاسِب نَه دئ. او دا آيت وَايَه. حضرت تهانوي فرمايي چې زَه د دَرد لپاره دا ياد يا بَل حديث هم ليكم. **تَعويذ** يعني آيت دادئ

وَبِالْحَقِّ أَنزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... د نَفسَانِي خُواهشَاتُ څخه د نجَات نُسخَه ...

هر لمونځ وروسته دي لَفظ ,, الله،، د زړه پـه تَوَجّـه سره وَوَايِـي. د شَهَادَت پر ګوته دې دَم کړي. بيادي د شَهَادَت ګوته پر زړه باندي تېره کړي.

... د بِيده سړي څخه رَاز معلوموِل ...

د نَابَالِغ انجِلئ د بَدَن پر کپړه (مَثَلاً **قمِيص**) باندي. د دُوَه شَنبَه (پيس) په شُپَه. چي د شُپې پِنځه ګنټې تيري شي دا آيتونه وليکه. د بِيده سړي ګوم چي تَه يې رَاز معلوموِ دهغه پر سِينَه يې کښېږده. نو چي ده هر څه کړي وي هغه به وَوَايِي. آيتونه دادي:

وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْساً فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا وَاللّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ. فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا كَذَلِكَ يُحْيِي اللّهُ الْمَوْتَى وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ .

پام لرنه :- مګر دا په هغه ځائ کي جائز دئ چيري چي شَرعًا **تَجَسّس** جائز وي. که نَه نو بيا دا عَمَل کول حرام دئ.

... د بِيدې سُنځي څخه رَاز معلوموِل ...

د نَابَالِغ انجِلئ د بَدَن پر کپړه (مَثَلاً **قمِيص**) باندي. د دُوَه شَنبَه (پيس) په شُپَه. چي د شُپې پِنځه ګنټې تيري شي دا آيتونه وليکه. د بِيدې سُنځي ګوم چي تَه يې رَاز معلوموِ دهغې پر سِينَه يې کښېږده. نو چي دې هر څه کړي وي هغه به وَوَايِي. آيتونه دادي

يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُواْ نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُواْ بِعَهْدِي أُوفِ بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ. وَآمِنُواْ بِمَا أَنزَلْتُ مُصَدِّقًالِّمَامَعَكُمْ وَلاَ تَكُونُواْ أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ وَلاَ تَشْتَرُواْ بِآيَاتِي ثَمَناً قَلِيلاً وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ. وَلاَ تَلْبِسُواْ الْحَقَّ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُواْ الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ .

پام لرنه :- مکر دا په هغه ځای کې جائز دئ چیرې چې شَرْعًا **تَجَسّس** جائز وي. که نه نو بیا دا عَمَل کول حرام دئ.

... د حَج د استطاعَت لپاره مُجَرّب عَمَل ...

که څوک د حَج طَلَب لري. او بنکاره هیڅ دَوَل **وَسِیلَه** نه وي. نو دا آیت دي په کَثرَت سره وایي. تر څو چې مَطلَب یې نه وي پوره شوئ

لَقَد صَدَقَ اللّٰهُ رَسُولَهُ الرُّؤیَا بِالحَقِّ لَتَدخُلُنَّ المَسجِدَ الحَرَامَ اِنشَآءَ اللّٰهُ آمِنِینَ مُحَلِّقِینَ رُءُوسَکُم وَ مُقَصِّرِینَ لاَ تَخَافُونَ. فَعَلِمَ مَا لَم تَعلَمُوا فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَالِکَ فَتحًا قَرِیبًا .

... هر کال به د حَج یا عُمرې سَعَادَت ورته حاصل شي ...

چې کله **طَوَاف وَدَاع** (یعني طَوَاف رُخصَت) وکړي. دهغه وروسته دي د **مِیزَابِ رَحمَت** (رَحمَت **تَرنَاوَه**) کښته دُوَه رکعته **صَلاَةُ الحَاجَت** اداء کړي. بیا دي مخامخ د کعبې شریفې پر دېوال باندي په ګوتَه سره دا آیت ولیکي

اِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَیکَ القُرآنَ لَرَآدُّکَ اِلٰي مَعَادٍ .

ددې وروسته دي **دُعَاء** وکړي. چې یَا اللّٰه مَاتَه هر کال د حَج او عُمرې سَعَادَت رانصیب کړې. بیا چې کُوم وخت **ګورته** راشي نو بیا دي هم دُوَه رکعته **صَلاَةُ الحَاجَت** اداء کړي. دهغه وروسته دي سُورَةِ یٰسٓ وَوَایِي. او پر هر مُبِین دي اُوَه (7) وَارَه **سُورَةُ الفَاتِحَه** وَوَایِي. چې سورَةُ پُورَه شي نو د اللّٰه تعالٰي څخه دي **دُعَاء** وکړي چې اللّٰه تعالٰي مَاتَه هر کال د حَج او عُمرې سَعَادَت رانصیب کړي. اِنشَآءَاللّٰه هر کال به

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

زِيَارَت ورته نصيب كيږي. (دا د **عُلَمَآء ديوبَند** د اكابرينُ مُجَرّب عَمَل ذئ. چې كُوم حضرات او قَارِئين دا عَمَل وكړي نو دا ليكونكئ دي هم په دغه **دُعَاء** كي شَامل كړي.)

... چې څَاه كاږي د خُوږُو اُوبُو طَلَب لري ...

(1) چې څوک څَاه كَنِي (كاږي) او غواړي چې په څَاه كي خُوږي **اُوبَه** پيدا كړي. نو د څَاه كَندَلو پر وخت دي خپله نبې پُښَه د څَاه پر ځائ وَوَهِي دا آيت دي اُوَه (7) واره وَوَايِي

اُركُض بِرِجلِكَ هٰذَا مُغتَسَلٌ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ .

(2) د څَاه د كندَلو پر مَحَال دي هره وُرَځ په اَوّل او آخر كي يَولس (11) واره **دُرُود تَنَجّينَا** وَايِي (د هغه ذكر مخته راغلئ دئ). بيادي دا آيت يَوويشت (21) وَارَه وَايِي اِنشَآءَاللّٰه خُوږي او ډيري **اُوبَه** به پيدا شي.

اُركُض بِرِجلِكَ هٰذَا مُغتَسَلٌ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ .

... د ډُوډَئ د بركت لپاره ...

د **ډُوډَئ** څخه مخكي دي **سورة التّين** (وَالتِّين وَالزَّيتُـونِ الخ) وَوَايِي او پر **مَالكه** دي دَم كړي. بيادي هغه **مَالكه** وروَاچوي.

... د اُلفَت او مُحَبّت د پيدا كولو بِهتَرين نُسخَه ...

(1) كه تَه د يوچا په زړه كي مُحَبّت پيدا كوې. يا د خَاندَان د خلكو تر مينځ نَاتّفَاقي وي. نو د اِتّفَاق د پيدا كولو لپاره هر وُرَځ دا آيت يولس (11) واره وَايَه. آيت دادئ

وَ اَلَّفَ بَينَ قُلُوبِهِم. لَو اَنفَقتَ مَا فِي الاَرضِ جَمِيعًا مَّا اَلَّفتَ بَينَ قُلُوبِهِم. وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَينَهُم. اِنَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ .

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(2) د وُرُونُو او خُوَندُو تر مینځ د مُحَبّت د پیدا کېدو لپاره دي هر مَانښام سَل سَل (100) واره **اَلمَلِکُ القُدّوسُ** وَایِي. دُښمَنِي به په مُحَبّت بدله شي.

(3) د وُرُونُو او خُوَندُو تر مینځ د اِختِلاَفات دختم کولو لپاره هره وُرَځ سَل (100) واره دا آیت وَیَل ډېر فائده لري

اَللّٰهُ الصَّمَدُ .

(4) که پر خُوښِي باندي لَفظ ,,**بَدُوحُ**،، ولیکې. چي هر څوک یې وخوري هغه به ستاسره ډېر مُحَبّت شروع کړي. او که چیري د ,,**بَدُوحُ**،، لَفظ پر چَارَه یا چَاقُو باندي ولیکې بیا په هغه چَارَه یا چَاقُو باندي یَوشَئ پرې (کاټ) کړې او په چایې وخورې نو هغه به هم ستاسره ډېر زِیَات مُحَبّت شروع کړي .

(5) د خَاندَان تر مینځ د اختلاَف دختم کولو. د دُوئي تر مینځ د مُحَبّت پیدا کولو لپاره دا ډېر مُجَرّب عَمَل دئ. هره وُرَځ یو څلو پښت (41) وَارَه دا **اَورَاد** وَایَه ..... یایې د څُورَاک یا چِیښَاک پر شَي باندي یَولس (11) وَارَه وَایَه. دَم کوه یې. بیادې د کُور ټول اِنسَانَان وخوري یادې وَچیښي. **اَورَاد** دادي

وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ. هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ. وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً مَّا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَـٰكِنَّ اللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ إِنَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ. يَارَحْمٰنَ كُلِّ شَيءٍ وَّرَاحِمَهُ اَذِلَّةٍ عَلَي الْمُؤمِنِينَ اَعِزَّةٍ عَلَي الكَافِرِينَ .

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... د مُحَبّت د پیدا کولو نادر عَمَل ...

دا عَمَل د حضرت مولانا شاه عبد العزیز مُحَدّث دهلوي (رحمۃ اللہ علیہ) د **مَعمُولاَت عزیزي** څخه مُستَفَاد دئ. که د مېړه او مَیني ترمینځ مُوافَقَت نَه وي. یا د دُوُشریکانُ ترمینځ جګړه وي. نو دغه کَلِمات دي پریوه شرینې (میتَایِي/خُوږ شي) باندي **دَم** کړي. او بیادي په وخوري. نَفرَت او دُښمَني به ختم شي. مُحبّت به پیدا شي

طس طسمّ حٰم عسق مَرَجَ البَحرَینِ یَلتَقِیَانِ بَینَهُمَا بَرزَخٌ لاَیَبغِیَانِ.

... د مُحَبّت د پیدا کولو اُوَه (7) ځانبَستونه ...

دچا سره چي تَه مُحَبّت کول غواړي نو پر اُوَه کاغَذَانُو باندي دا اُوَه (7) ځانبَستونه ولیکه. بیایي په هغه انسَان وَچیبَنَه. د هغه به ستا سره مُحَبّت پیدا شي. اَوّل. دُوَیَم. دَرَیَم څلورم الخ **ځانبَستونه** دادي

(1) بِسمِ اللهِ وَمِنَ اللهِ وَاِلَي اللهِ وَلاَحَولَ وَلاَقُوَّةَ اِلاَّبِاللهِ.

(2) بِسمِ اللهِ اِنَّهُ مِن سُلَیمَانَ وَاِنَّهُ بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ. اَلاَّ تَعلُوا عَلَيَّ وَاْتُونِي مُسلِمِینَ.

(3) فَقَالَ ارْكَبُواْ فِيهَا بِسْمِ اللّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ.

(4) شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ.

(5) وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَاتَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلاَّ يَعْلَمُهَا وَلاَ حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الأَرْضِ وَلاَ رَطْبٍ وَلاَ يَابِسٍ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(6) لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً مَّا أَلَّفَتْ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَـٰكِنَّ اللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ إِنَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ.

(7) لَآإِلٰهَ اِلاَّ هُوَ عَلَيهِ تَوَكَّلتُ وَاِلَيهِ مَتَابٌ.

... د کورنۍ اختلافاتو د ختمولو علاج ...

سُورَة القُرَيش دي د سَهَار د لمونځ وروسته سَل (100) واره وَوَايِي.

... په خوشحالي سره د وُرُوټو د جُدَايِي لپاره ...

چي څوک غُوَارِي د وُرُوټو څخه په ښه خوشحالي او رَضَامَندي سره بېش (مَالِي تَقسِيم) وکړي نو هغه دي هره وُرَځ **سُورَة االتِّين** (وَالتِّينِ وَالزَّيتُونِ الخ) نَه لس (19) واره وَوَايِي.

... د ظَالِم د دَفعَ کولو لپاره جَلَالِي عَمَل ...

د ظَالِم د دَفعَ کولو لپَارَه دا آيت دري وُرَځي يَوويشت (21) يَوويشت (21) واره وَايَه. دا ډېر جَلَالِي آيت دئ. که پرنَاجَائزُ ځائ وَوَايِي نو تَه په هَلاکت کي اَچَوِي. چي کله د ظَالِم ظُلم اِنتِهَآءَ ته ورسيږي. هغه وخت دا عَمَل کوه. آيت دادئ

فَقُطِعَ دَابِرُ القَومِ الَّذِينَ ظَلَمُوا. وَالحَمدُ لِلّٰهِ رَبِّ العٰلَمِينَ .

... پر ظَالِم او دُښمَن د غَلَبَه د حاصلولو عَمَل ...

(1) چي مَظلُوم د ظَالِم په مخکي پِنځوس (50) واره بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ وَوَايِي نو الله تعالٰي به هغه ظَالِم **مَغلُوب** کړي. او دا لُوَستُونکئ به غَالِب کړي.

(2) پر دُښمَن باندي د غَلَبَه او فَتحيَابئ لپاره دا **دُعَاء** ډېره ډېره وَايَه

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اَللّٰهُمَّ مُنزِلَ الكِتَابِ. مُجرِيَ السَّحَابِ. سَرِيعَ الحِسَابِ. هَازِمِ الاَحزَابِ اِهزِمهُم.

... د دُښمَنَانُ تر مينځ بې اتّفَاقي پيدا کولو عَمَل ...

(1) د دُښمَنَانُو په مَابَين کي د بې اتّفَاقئ د پيدا کولو لپاره په اَودَس سره **سُورَةُ الکَوثَر** څلوېښت (40) وَارَه وَوَايَه: دهغه وروسته د ټولو دُښمَنَانُ نومونه واخله چي د دُوئي ټولو تر مينځ دي جُدَايي راشي. دُوئي دي سره بې اتّفَاق شي. او دُوئي دي مَاتَه هيڅ دَوَل نُقصَان ونه رسوي. څو وُرَځي وروسته به وَوِيني چي په دُښمَنَانُ کي به اِختِلاَف او بې اتّفَاقي راشي. او په خلکو کي به د مَظلُوم **عِزّت** قائم شي.

(2) د دُو قبرو په مَابَين (مينځ) کي کښېنَه دا آيت وَوَايَه

وَاَلقَينَا بَينَهُمُ العَدَاوَةَ وَالبَغضَآءَ اِلٰي يَومِ القِيَامَةِ

او د دغه آيت دا نَقشَه هم مخته کښېږده. دهغه دُښمَنَانُ تَصَوّر وکه.

وَاَلقَينَا	بَينَهُمُ	العَدَاوَةَ	وَالبَغضَآءَ
بَينَهُمُ	العَدَاوَةَ	وَالبَغضَآءَ	اِلٰي
العَدَاوَةَ	وَالبَغضَآءَ	اِلٰي	يَومِ
البَغضَآءَ	اِلٰي	يَومِ	القِيَامَةِ

پام لرنه :- دا عَمَل د ناجائز او غلط تَعَلّقَاتُ د ختم کولو لپاره دئ.

... د بېروني مَمَالکُ د خَطَرَاتُ څخه د حفَاظَت نُسخَه ...

چي څوک هره وُرَځ سَل (100) واره دا آيت وَايِي نو د بَاهَر نَرئ (مَلکُو) د شَر او **خَطَرَاتُ** څخه به خُوندي پاته وي.

حَسبُنَا اللّٰهُ وَنِعمَ الوَکِيلُ. نِعمَ المَولٰي وَنِعمَ النَّصِيرُ.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... د حضور (ﷺ) د زِيارَت کولو مُجرّب عَمَل ...

(1) که څوک غواړي چې د حضور (ﷺ) سره همکلام شي يا په خُوب کې د حضور (ﷺ) زِيارَت (**دِيدَار**) وکړي. نو هغه دي د شُپې د يوبدُو پر وخت د دې آيت تَسبِيح (سَل واره) وَوايِي. آيت دادئ

اِنَّ اللهَ وَمَلآئِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَي النَّبِيِّ يَا اَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيهِ وَسَلِّمُوا تَسلِيمًا .

(2) د جُمعَه په شُپه دي د درې جُمعې پَرلَپَسې زَر (1000) واره دا **دُرُود شريف** وَوايِي

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَي سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ النَّبِيِّ الاُمِّي .

(3) که څوک غواړي چې په خُوب کې د حضور (ﷺ) په زِيارَت سره خپل ځان مُشَرّف کړي نو ده ته په کار دئ چې دُوَه رکعته لمونځ اداء کړي. او په هر رکعت کې د **سُورَةُ الفَاتِحَه** (اَلحَمدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ الخ) وروسته سَل (100) واره **سُورَةُ الاخلَاص** (قُل هُوَ اللهُ اَحَدٌ الخ) وَوايِي. چې د لمونځ څخه فَارِغ شي نو اُوه (7) واره دي دا **دُرُود** وَوايِي

وَصَلَّي اللهُ عَلَي النَّبِيِّ الاُمِّيِّ .

انشَآءَاللّٰه د حضور (ﷺ) په زِيارَت سره به **مُشَرّف** شي. چې کله دا عَمَل کوي نو د دې څو خَبرُو خيال دي وَساتي. **بَدَن** به پاک وي. **کپړې** به پاک وي. **بِستَرَه** به پاک وي. پر دغه ټولو شيَانُو دي سَه خُوشبُو (**عَطرُونَه**) واچوي. چې د مَنگَل (سه شَنبَه) وُرَځ ختم شي د بُدَه (چهارشَنبَه) په شُپه دي شروع کړي. اِنشَآءَ اللّٰه په اَوّله شُپه. که نَه وُ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نو په دې شُپې کې به د حضور (ﷺ) په زِیارَت سره **مُشَرّف** شي. دا هم د مَشَائِخُ **مُجَرّب عَمَل** دئ.

(4) د جمعې د لمونځ وروسته دي پر کاغَذ باندي مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ. اَحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ پِنځه دېرش (35) وَارَه وليکلي. او هره وَرَځ يې د لَمَرد راختو پر وخت **دُرُودشريف** وَايَه او دغه کاغَذ ته ګوره. په دې پر کَثرَت سره به دِيدَار مُبَارک تاته نَصِيب شي.

(5) د جُمعَه په نِيمَئ شُپه کې په اَودَس سره سُورَةُ القُرَيش زره (1000) وَارَه وَوَايَه. بيا بِيدَه شه. اِنشَآءَاللهُ د حضور (ﷺ) مُبَارک دِيدَار به دي نصيب شي.

(6) د جُمعَه په شُپَه دُوَه رکعته نَفل لمونځ اداء که. په هر رکعت کې د **سُورَةُ الفَاتِحَه** وروسته پِنځه دېرش (35) وَارَه **سُورَةُ الاخلَاص** وَوَايَه. دلمانځه وروسته زَر (1000) وَارَه دا **دُرُودشريف** وَوَايَه دُعَاء وکه. انشَآءَاللهُ بله جُمعَه به نَه وي راغلې چې د حضور (ﷺ) زِيَارَت به دي نَصِيب شي. که چيرې په يَووَار دي نَصِيب نَه شو نو دې جُمعې دغه عَمَل جاري وساته. **دُرُودشريف** دادئ

صَلَّي اللهُ عَلٰي مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ.

... د جَنّتُ الفِردَوس د وَارث جوړېدو لپاره مُجَرّب عَمَل ...

د شُپې د بِيدبِدُو پر وخت دي دا آيتونَه ضرور وَايِي. ځکه چې دا آيتونه د انسَان دعزّت حِفَاظَت کوي. بې لمانځه انسَان ته د لمونځ رَغبَت ورکوي. د فُضُول خبرو څخه مَنَع کوي. او د جَنّت وَارِث يې جوړوي

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

قَد اَفلَحَ المُؤمِنُونَ. اَلّذِينَ هُم فِي صَلاَ تِهِم خَاشِعُونَ. وَ الّذِينَ هُم عَنِ اللّغـو مُعرِضُونَ. وَ الّذِينَ هُم لِلزّكوٰةِ فَاعِلُونَ. وَالّذِينَ هُم لِفُرُوجِهِم حَـافِظُونَ. اِلاّ عَلٰي اَزوَاجِهِم اَو مَا مَلَكَت اَيمَانُهُمّ فَاِنّهُم غَيرُ مَلُومِينَ. فَمَـن اِبتَغٰـي وَرَآءَ ذَالِكَ فَاُلٰئِكَ هُمُ العَادُونَ. وَ الّذِين هُم لاَمَانَاتِهِم وَعَهدِهِم رَاعُونَ. وَالّذِينَ هُم عَلٰي صَلَوَاتِهِم يُحَافِظُونَ. اُولٰئِكَ هُمُ الوَارِثُونَ. اَلّذِينَ يَرِثُونَ الفِـردَوسَ هُم فِيهَا خَالِدُونَ.

... د جَادُو رُوحَاني علاَج ...

(1) كه چيري دا شَک وي چي جَادُو شوئ دئ يا د جَادُو عَلاَمَات ښكاره كيږي. نو د جَادُو د اَثَر د ختم كولو لپاره يَولس (11) وُرَځِي سَل سَل (100) واره دا آيت وَايَه او پر مَريض يې چُو (چُف) كوه.

پام لرنه :- ددې عَمَل په جِريَان كي بَل هيڅ دَول عَمَل مَه كوه.

قُلنَا لاَتَخَف اِنّکَ اَنتَ الاَعلٰي. وَ اَلقِ مَا فِي يَمِينِکَ تَلقَف مَا صَنَعُوا. اِنّمَا صَنَعُوا كَيدُ سٰحِرٍ. وَ لاَ يُفلِحُ السّٰحِرُ حَيثُ اَتٰي.

(2) چې پريو چا باندې د جَادُو يا يو اَثَر شُبَه وي. يا وُرَځ تر هغه بَلَه يې دِمَاغي تَوَازُن خرابيږي. او دا شَک وي چې يو چا څه اَثَر پر كړئ دئ. نو دا آيت يَو ځلو پښت (41) واره پر اُوبو دَم كه. په هغه يې وَچِيښَه

ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ . مُطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ . وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُـونٍ . وَلَقَدْ رَآهُ بِالأُفُقِ الْمُبِينِ . وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ . وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ . فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ . إِنْ هُوَ إِلاّ ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ . لِمَن شَاءَ مِنكُمْ أَن

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

يَسْتَقِيمَ. وَمَا تَشَاؤُونَ إِلاَّ أَن يَشَاء اللّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ .

(3) د جَادُوگرانُ په مَجلس کي د دُوئي د سِحر او جَادُو څخه د ځان ساتلو لپاره دي يَولس (11) واره دا وَوَايِي

حَسبُنَا اللهُ وَنِعمَ الوَكِيلُ .

(4) هر وُرَځ دي يَولس (11) واره دا آيت وَايِي

وَ لاَ يُفلِحُ السّٰحِرُ حَيثُ اَتٰي .

(5) سورة هُمَزَه (وَيلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِ الخ) دي اُوَه (7) واره وَوَايِي پر مريض دي چُو (چُف) کړي.

(6) که څوک غواړي چي د جَادُو او سحر څخه ځان محفوظ وساتي. نو هغه دي د **سورة طٰهٰ** دريمه رکوع مُکَمّله (د **منهَا خَلَقنٰكُم** ... څخه تر ... **ذَالِكَ جَزَاءُ مَن تَزَكّٰي** ... پوري.) پر خپل ځان دَم کړي. او د گورنِيَانُ لپاره دي پر اُوبو باندي دَم کړي .

(7) سَهَار په نَهَار اُوَه (7) داني **عَجوَه څورمَا** خورل هم د **جَادُو** د ختم کولو لپاره ډېر مُفيد دي. ځکه چي د حضور (ﷺ) اِرشَاد دئ:-

مَن اَصبَحَ بِسَبعِ تَمرَاتِ عَجوَةٍ لَّم يَضُرُّهُ، ذَالِكَ اليَومَ سَمٌّ وَّلاَ سِحرٌ

(بخاري شريف)

ترجمه :- چي څوک سَهَار اُوَه (7) داني **عَجوَه څورمَا** وخوري. نو ده ته په دغه وُرَځ هيڅ دَول **زَهر** او **جَادُو** نُقصَان نَه شي رسولائي.

پام لرنه :- **عَجوَة** په مَدِينَه منوّرَه کي مخصوص څورمَا ده. چي د څورمَا په ټولو اَقسَامُ کي بِهتَرِين او عُمدَه څورمَا ده. او که چيري پر

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دغه **عَجوَه خُورمَاوُ** باندي **آيَةُ الكُرسِي** هم وَوَيل شي نو بيابه ډېره زياته فائده وي .

... د جَادُو د ختم کولو اُوَه (7) دُعَاء گانِ ...

(1) اُوَه واره دي دا **دُعَاء** وَوَايِي او پر مريض دي **دَم** کړي

اَسئَلُ اللهَ العَظِيمَ رَبَّ العَرشِ العَظِيمِ اَن يَّشفِيکَ .

(ترمذي شريف)

(2) مريض دي په خپله پر مُتَأثِّر مقام باندي لاَس کښيږدي. دري واره دي **بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ** وَوَايِي بيادي اُوَه (7) واره دا **دُعَاء** وَوَايِي او **دَم** دي کړي. اِنشَآءَاللّٰه ژَر به اللّٰه تعالٰي شِفَاء ورکړي

أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدرَتِهِ مِن شَرِّ مَا اَجِدُ وَ اُحَاذِرُ .

(مُسلِم شريف)

(3) دا **دُعَاء** وَيل او **دَم** کول هم ډېر **مُفِيد عَمَل** دئ

اَللّٰهُمَّ رَبَّ النَّاسِ اَذهِبِ البَأسَ وَاشفِ اَنتَ الشَّافِي لاَشِفَاءَ اِلاَّ شِفَاءُکَ شِفَاءً لاَيُغَادِرُ سَقَمًا .

(بُخاري شريف)

(4) أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِن كُلِّ شَيطَانٍ وَّهَامَّةٍ وَّمِن كُلِّ عَينٍ لاَمَّةٍ.

(بُخاري شريف)

(5) أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِن شَرِّ مَاخَلَقَ.

(مُسلِم شريف)

(6) أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِن غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِن هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَاَن يَّحضُرُونَ .

(ابوداؤد شريف)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(7) حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص به دغه **تعوّذات** و عقلمند بچانُ ته وريادول. او چې کوم ډبر کشني بچان وُ. هغوئي ته به ورليکل او **تعويذ** به ځيني جوړاوئ. او بيابه و بچانُ ته ورپه غاړه کاوئ.

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لَايُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَافَاجِرٌ مِن شَرِّ مَاخَلَقَ وَبَرَأَ وَذَرَأَ وَمِن شَرِّ مَايَنزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمِن شَرِّ مَايَعرُجُ فِيهَا وَمِن شَرِّ مَاذَرَأَ فِي الاَرضِ وَمِن شَرِّ مَايَخرُجُ مِنهَا وَمِن شَرِّ فِتَنِ اللَّيلِ وَالنَّهَارِ وَمِن شَرِّ كُلِّ طَارِقٍ اِلاَّ طَارِقًا يَّطرُقَ بِخَيرٍ يَارَحمٰنُ.

... د هفت (7) سلام عمل ...

که پريوچا باندي د جادُو يا اثر په ذريعه سره مرض او ناجوړي مُسلّط شوي وي، نو دا **آيات شفاء** او **هفت سلام** پولس (11) واره ووايه پر **اوبو** يې دم کړه. مريض دي هغه اوبه وچيښي. او پر **تيلو** باندې دم کړه. مريض دي په هغه **تيلو** خپل ځان مالش کړي. **هفت سلام** دادي

(1) سَلاَمٌ قَولاً مِّن رَّبٍّ الرَّحِيمِ (2) سَلاَمٌ عَلٰي نُوحٍ فِي العٰلَمِينَ (3) سَلاَمٌ عَلٰي اِبرَاهِيمَ (4) سَلاَمٌ عَلٰي مُوسٰي وَهَارُونَ (5) سَلاَمٌ عَلٰي اِلياسِين (6) سَلاَمٌ عَلَيكُم طِبتُم فَادخُلُوهَا خَالِدِينَ (7) سَلاَمٌ هِيَ حَتّٰي مَطلَعِ الفَجر.

او **آيات شفاء** دادي

(1) وَيَشفِ صُدُورَ قَومٍ مُّؤمِنِينَ (2) وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ (3) يَخرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّختَلِفٌ اَلوَانُهُ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ (4) وَنُنَزِّلُ مِنَ القُرآنِ مَاهُوَ شِفَآءٌ وَّرَحمَةٌ لِّلمُؤمِنِينَ (5) وَاِذَا مَرِضتُ فَهُوَ يَشفِينِ (6) قُل هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًي وَّشِفَآءٌ.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... د استقامت في الدّين لپاره عمل ...

کلمه شهادت دي هره ورځ سل (100) واره وايي.

... د هر ډول رُوحاني امراض څخه د نجات لپاره ...

هره ورځ دي اويا (70) واره دا وايي

لاَ حَولَ وَلاَقُوَّةَ اِلاَّ بِاللهِ العَلِيِّ العَظِيمِ .

... د هر ډول بدني امراض څخه د نجات لپاره ...

هره ورځ دي اوه (7) واره **سورة الفتح** وايي. يعني

اِنَّا اَرسَلنَا لَکَ فَتحًا مُبِينًا. لِيَغفِرَ لَکَ اللهُ مَاتَقَدَّمَ الخ

... د هر ډول دائو (بدني امراض) څخه د نجات لپاره ...

(1) که پر بدن **داني** راختلي وي. نو پاک خاؤره راواخله. د شهادت ګوته په هغه وکړه. دغه کلمات وايه او په دغه خاؤرو لړل شوي ګوته باندي ددي **داني** شاوخوا ليکه (ګول دائره) راوګرزوه. يولس ورځي (11) يولس (11) واره دغه **دم** وکه. **انشآء الله** هر ډول **داني** به ختم شي. کلمات دادي

بسمِ اللهِ رَبِّنَا. تُربَةُ اَرضِنَا. بِرِيقَةِ بَعضِنَا. لِيُشفٰي سَقِيمُنَا. بِاِذنِ رَبِّنَا .

(2) که پر بدن **داني** راختلي وي. نو د شهادت ګوته په لاړو (**نانو**) نوده. بيا دري واره **بسم الله الله اکبر** او يو وار دا آيت

اَم اَبرَمُوا اَمرًا فَاِنَّا مُبرِمُونَ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وَوَايَه. دَم (**چُف**) پر وکه. او هغه لاړي (**نَانِي**) پر دغه **دَانَه** باندي ومومه. **سُبحَانَ الله** ډېر **عجيب** او **غَرِيب** اَثر لري. بيا خُصُوصًا چي اَودَس وکړي فَورًا چي بَدَن يې لا **نَود** (نُنَد) وي که دا عَمَل وکړي نو ددې **اَثر** ډېر زِيَات وي ..... د سُبحَو لپاره دغه عَمَل پر تېلُ باندي وکه. يعني پر لاړُو (**نَانُو**) باندي **دَم** وکه. هغه **نَانِي** په تېلو باندي ګډي که: الحمد لله ددې **دَم** سره ډېر سخت مريضان جوړ شوي دي. حَتّي چي د **ګَوِي** رنګه زَخمونه. او چي ګوتي به بالکُل رژېدلي وي هغه مريضان هم ددې تېلو لګولو (**اِستِعمَال**) سره الله تعالٰي جوړ کړي دي.

(3) د بَدَن د هر ډَول دَانُو لپاره دغه آيتونه په يوه پاک لُوښي کي په سِيَاهي سره وليکه. بيايي په رُوغَنِ بَنَفشَه سره پر بمينځه. او هغه بيا پر دغه دَانُو باندي و مُومَه. اِنشَآءَ الله داني به جوړي شي. آيتونه دادي

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا. فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا. لاَ تَرَى فِيهَا عِوَجًا وَلاَ أَمْتًا .

... د لاَسُو او پُښُو د زَخُو مُجَرّب عِلاَج ...

که پر لاَسُو يا پُښُو باندي زَخِي (دَاني) راختلي وي نو دهغه يو شَافِي عِلاَج دادئ چي اَوّل يَو وَار **دُرُود شريف** وَوَايَه بيا يَولس (11) وَارَه **سُورَة يٰسٓ شريف** وَوَايَه. بيا دُوَه سوه (200) وَارَه **سُورَة الاخلاص** وَوَايَه په آخر کي بيا يَو وَار **دُرُود شريف** وَوَايَه. پر اُوبُو يې دَم (**چُف**) که. ځَنه اُوبَه وچيښَه او ځَه اُوبَه پر دغه دَانُو (**زَخُو**) باندي وَمُومَه. اِنشَآءَ الله زَخِي به ختم شي. دا زُومَا خپله ذَاتِي **مُجَرّب عَمَل** دئ.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... د نَظَرِ بَد لپاره مُفيد عَمَل ...

(1) كه څوک نَظَر شوئ وي. او دا ښكاره كيږي چې شَايَد بَد نَظَر وَهَلئ دئ. نو طَاق (تَاک) واره ﴿يا أوَه (7) وَارَه﴾ دي پر مَرِيض باندي دا آيتونه دَم كړي او بيادي پر مريض چُو (چُف) كړي.

وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ . وَمَا هُوَ إِلاَّ ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ .

(2) په ابنِ عَسَاكِر كي حديث دئ چې حضرت جبرائيل (عليه السلام) حضور (ﷺ) ته تشريف راوړئ. حضور (ﷺ) غَمزَدَه وُ. جبرائيل (عليه السلام) ددې سَبَب پُوښتَنَه وكړه نو حضور (ﷺ) ورته وفرمايل چې حَسَن او حُسَين نَظَر شوي دي. حضرت جبرائيل (عليه السلام) وفرمايل. دا نَظَر حَق (رِشتُونَئ) او يَقِينًا لكېدونكئ شَئ دئ. تَا وَلِي دا كلمات نَه دي ويلي دي چې دُوئي دي د الله تعالي په پَنَاه كي وركړي وائ؟ حضور (ﷺ) پُوښتَنَه وكړه. هغه كَلِمَات كوم دي؟ حضور وفرمايل

اَللّٰهُمَّ ذَا السُّلطَانِ العَظِيمِ وَالمَنِّ القَدِيمِ ذَا الوَجهِ الكَرِيمِ وَلِيَّ الكَلِمَاتِ التَّامَّاتِ وَالدَّعوَاتِ المُستَجَابَاتِ عَافِ الحَسَنَ وَالحُسَينَ مِن اَنفُسِ الجِنِّ وَ اَعيُنِ الاِنسِ .

چې حضور (ﷺ) دا دُعَاء وويل. نو دواړه هَلكَان په هغه وخت پر پُښُو ولاړ شول او د حضور (ﷺ) په مخكې بَازَئ شروع كړې. حضور وفرمايل خلكو! خپلو ځانو ته خپلو بِي بِي كَانُ ته او خپلو اَولادُو ته په

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دغه پَناه (د جبرائیل په دُعَاء) سره پَناه ورکوئ. دغه رنګه بله د پَناه **دُعَاء** نشته.

فائده:- په اَوّل او آخر کې **دُرُودشریف** وَوایه بیا دري واړه دا **دُعَاء** وَوایه او پر مَریض یې **دَم** که. او په یوه مَجلس کې دري واړه دا عَمَل وکه. په **دُعَاء** کې دَننه چې د **حضرت حَسَن** او **حضرت حُسَین** نومونه دي پر هغه ځائ د موجوده مَریض نوم واخله. مَثَلاً عَافِ المُحسنَ مِن اَنفُسِ الجِنِّ وَ اَعیُنِ الاِنسِ.

(3) چې څوک نَظَر شوئ وي نو دا دُعَاء پر وَوایه او دَم (**چُف**) یې که. **دُعَاء** داده

بِسمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ اَذهِب حَرَّهَا وَبَردَهَا وَوَصَبَهَا.

ددې وروسته دا وَوایه **قم باذن الله**.

(4) چې پر کشني باندي یَووَار په اَودَس سره **آیَةُ الکُرسِي** وَوایې. نو توله وُرَځ به د نَظَر بَد څخه محفوظ وي.

(5) چې نَظَر شوئ وي. پر هغه باندي دا عَزِیمَت وَوایه. دَم یې که

اِذَا الشَّمسُ کُوِّرَت عَینُ المِعیَانِ عُوِّرَت. اِذَا السَّمَآءُ اِنفَطَرَت عَینُ المِعیَانِ طُیِّرَت. وَیلٌ لِلمُطَفِّفِینَ عَینُ المِعیَانِ حُقِّنَ. اِذَا السَّمَآءُ اِنشَقَّت عَینُ المِعیَانِ وُقِّت. وَالسَّمَآءِ ذَاتِ البُرُوجِ عَینُ المِعیَانِ تَمُوجُ. وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ فِي کُلِّ عَینٍ بَارِقٍ. سَبِّح اِسمَ عَینُ المِعیَانِ تَعُمُّ. هَل اَتَاکَ حَدِیثُ الغَاشِیَةِ عَینُ المِعیَانِ مَاشِیَةً. فَسَیَکفِیکَهُمُ اللّٰهُ وَهُوَ السَّمِیعُ العَلِیمُ.

(6) چې څوک نَظَر شوئ وي. پر هغه باندي **سُورَةُ الهُمَزَة** (وَیلٌ لِّکُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ الخ) وَوایه. دَم یې کم.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... د خپل نَظَر علاَج ...

که چاته دا خَطرَه وي چي خپل ځان دي په خپله نَظَر کړي. نو ده ته په کار دئ چي کله خپل ځان. يا خپل مَال. يا خپل اَولاَد. يا د بَل وُرور مَال او اَولاَد وَوِينِي نو دهغه لپاره دي د بَرکَت دُعَاء وکي. او دا دي وَوَايِي

مَاشَآءَاللهُ لاَقُوَّةَ اِلاَّ بِاللهِ اَللّٰهُمَّ بَارِک عَلَيهِ .

اِنشَآءَاللهُ دده د نَظَر به هيڅ اَثَر نښکاره نَه کړي .

... د مجلس څخه د غمبدلي انسَان د وَلاَړوُلو نُسخَه ...

که چيري ستاسره دَاډَوَل څوک کښيني چي پرتَا باندي بُوج وي. نو دا آيتونه پَټ وَوَايَه. هغه انسَان به دا الله تعالٰي ه حُکم سره ژَړ وَلاَړ شي

تَذرُوهُ الرِّيَاحُ وَکَانَ اللهُ عَلٰي کُلِّ شَيءٍ مُّقتَدِرًا ..... رَبَّنَا اکشِف عَنَّا العَذَابَ اِنَّا مُؤمِنُونَ ..... يَومَئِذٍ يَّصدُرُ النَّاسُ اَشتَاتًا ..... اِنفِرُوا خِفَافًا وَّ ثِقَالاً .

... د جِنّاتُ (پيرَانَانُ) د ليري کولو نُسخَه ...

(1) که په يو ځاي کي پيرَانَان وي. نو اَويَا (70) واره دي دا وَوَايِي

سَلاَمٌ قَولاً مِّن رَبٍّ الرَّحِيمِ .

او بيا دي دا وَوَايِي (بَحُرمَتِ آدَم عليه السّلاَم بَحُرمَتِ نُوح عليه السّلاَم بَحُرمَتِ سُلَيمَانِ عليه السّلاَم بَحُرمَتِ يُونَس عليه السّلاَم بَحُرمَتِ مُحَمّد (ﷺ) بَحُرمَتِ چَاريَار .

(2) چي په کُور جِنّات (پيرَانَان) وي. اِنسَانَان تنګوي. يَا د کُور څخه غَلاَوِي کوي. نو هره وُرَځ دي د **سورة اَلبَقَرَة** اَوّله او آخِري رکوع اُوَه (7) واره وَايِي. په حِفَاظَت به شي .

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(3) د جِنّاتُ (پيرَانَانُ) د اَثَر د ليري کولو لپاره دي يَو واريا دري واره **سورة المُزّمِل** د مَريض په غُوږ کي په زوره **دَم** کړي.

(4) حضرت تهانوي (رحمة الله عليه) فرمايي چي اِمَامِ غَزَالِي (رحمة الله عليه) د يوه بُزرګ قصّه نَقل کړې ده. چي د يوه بُزرګ مينځه د شپې **بَولُو** ته کښېنَستَه. نو د آسيب (پيرِي) د اَثَر څخه بيهوښ شوه. هغه بُزرګ راپورته شو دا کَلمَات يې پر وَوَيَل (دَم/چُف يې کړل). په هغه وخت هغه مينځه ښَه شوه. کَلمَات دادي

بِسمِ اللهِ الرّحمٰنِ الرّحِيمِ. المّص. طٰهٰ. طٰسٓمّ. كٓهٰيٰعٓصٓ. يٰسٓ وَالقُرآنِ الحَكِيم. حٰمٓعٓسٓقٓ. قٓ. نٓ وَالقَلَمِ وَمَايَسطُرُونَ.

(5) چي څوک د هر لمونځ وروسته دا **دُعَاء** دري واره وَايِي نو د همېشه لپاره به جِنّات دده څخه لاَس واخلي. **دُعَاء** داد

حَسبِيَ اللهُ وَكَفٰي. سَمِعَ اللهُ لِمَن دَعَا. وَلَيسَ وَرَآءَ اللهِ المُنتَهٰي.

(6) که چيرې څوک هر څومره د جِنّاتُ (پيرَانَانُ) په قَبضَه کي راغلئ وي. نو يَو وار دي **آيَةُ الكُرسِي** وَوَايِي. او اَويَا (70) وار دي

وَلَايَؤدُهُ حِفظُهُمَا وَهُوَ العَلِيُّ العَظِيمُ.

وَوَايِي. **جِنّات** ده ته هيڅ دَول نُقصَان نَه شي رسولائي.

... د تَبِي لپاره ډېر مُفيد اَعمَال ...

(1) چي سَخته تَبه وي پر مريض باندي بَار بَار دا **دَم** کوه. پر چُو (**چُف**) کوه

قُلنَا يَانَارُ كُونِي بَردًا وَ سَلَامًا عَلٰي اِبرَاهِيمَ.

(2) پر مريض باندي دا **دُعَاء** وَوَايَه دَم (**چُف**) يې که

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بِسمِ اللهِ الكَبِيرِ. أَعُوذُ بِاللهِ العَظِيمِ مِن كُلِّ عِرقٍ نَعَّارٍ وَمِن شَرِّ حَرِّالنَّارِ.

(3) چې تَبَه وي نو د مَرِيض پر مَلاَ (شَا) باندې په ګوتَه سره د **اَذَان** کَلمَات (**اَللهُ اَکبَر اَللهُ اَکبَر. اَللهُ اَکبَر اَللهُ اَکبَر. اَشهَدُ اَن لآاِلٰهَ اِلَّااللهُ الخ**) ولیکه. انشَآءَآللهُ تَبَه به ختم شي.

(4) د تَبِي لپاره پر پاک لُوښي باندې په سیَاهِي سره دا آیت ولیکه. بیایې د هغه ځَاه (ځَا) په اُوبو سره پرېمنځَه چې لُمَرنَه پر رَاځي. بیا دري غَړَپَه په مریض وَچیښَه. پاته اُوبَه د مریض پر شَا (مَلا) ورتُوئي که. دري وُرَځي دا عَمَل جاري وساته. آیت دادئ

إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَى أُوْلَئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ.

(5) پر اُوبُو باندې دا **وِرد** وَوایَه. تَبجَن اِنسَان دي په دغه اُوبُو **غُسل** وکي. **وِرد** دادئ

بِسمِ اللهِ حَبَسَ حَابِسٌ. وَحَجَرٌ يَّابِسٌ. وَشِهَابٌ قَابِسٌ. رُدَّت عَينُ العَائِنِ عَلَيهِ وَعَلَي اَحَبِّ النَّاسِ اِلَيهِ. فَارجِعِ البَصَرَ هَل تَرَي مِن فُطُورٍ. ثُمَّ اِرجِعِ البَصَرَ كَرَّتَينِ يَنقَلِبُ اِلَيكَ البَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيرٌ.

(6) د **يَااَللهُ يَارَحمٰنُ يَارَحِيمُ** څو څابنښتُونَه ولیکه. مریض دي هره وُرَځ یَو یَو په اُوبُو کي اَچَوي. هغه اُوبَه دي چیښي.

... د یَوَاریځي تَبِي علاَج ...

د مریض د واړه لاَسُونَه بنَه ورپرېمنځَه. بیا د بَنِي لاَس پر نُوکَانُ باندې **ک ه ي ع ص** یعني پر بَتَهْ ګوته یې **ک**. د شَهَادَت پر ګوته یې **ه**. پر دَرَیمَه ګوته یې **ي**. پر څلورمه ګوته یې **ع**. پر پِنځَمَه یعني خَچَئ ګوته یې **ص** ولیکه ..... او د کَنِ لاَس د ګوتو پر نُوکَانُ یې **ح م ع س ق** یعني پر بَتَه

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ګوته يې ح. د شَهَادَت پر ګوته يې م. پر دَرَيَمه ګوته يې ع. پر څلورمه ګوته يې س. پر پِنځَمه يعني خَچئ ګوته يې ق ولیکه. مریض دي کله نا کله دې خپلو نُوکانُ ته ګوري. انشآءالله په اَوّل وار کې نه نو په دُوَيم وار به ضرور دغه يَوَارِئَه تَبَه ختم شي.

... د يَوَارِيئي سَرِې تَبِي علاَج ...

چې سره تَبَه وي. يَخ يې کيږي نو دا آيت پر اُوبو باندي دَم کې مريض دې وچيښي سره تَبَه به ختم شي. مريض به بَنَه شي. دا عَمَل دې وُرَئي جاري وَسَاتَه. د تَبِي د رَاتَګ څخه يوه ګنټه مخکې پر اُوبو دَم کوه. مريض دې چيښي. آيت دا دئ

فَلَمَّا تَجَلّٰي رَبُّهُ لِلجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَّخَرَّ مُوسٰي صَعِيقًا .

... د يَوَارِيئي تَودې (ګرمي) تَبِي علاَج ...

چې ګرم يعني تَودَه تَبَه کيږي. يَوَه وُرَئ وي. بله وُرَئ نَه وي نو دا آيت وَوَايَه. دَم يې کَه. يا يې پر صَفَا پلټ باندي وليکه. په اُوبو يې پر پِنځَه. مريض دې هغه اُوبَه وچيښي. اِنشَآءَالله صِحّت به پيدا کړي. آيت دا دئ

اِنَّ الَّذِينَ اِتَّقَوا اِذَا مَسَّهُم طَائِفٌ مِّنَ الشَّيطَانِ تَذَكَّرُوا فَاِذَا هُم مُبصِرُونَ .

... د سَرسَام (دِمَاغِي تَبِي) علاَج ...

پُورُوعَنِ بَلَسَان باندي يَولس (11) وَارَه سُورَةَ العَنكَبُوت وَوَايَه. دَم يې کَه. بيا دې مريض په هغه تپلو باندي سَر غُورَوِي. اِنشَآءَالله د سَرسَام مرض يعني دِمَاغِي تَبَه به ختم شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... د ملېریا (ټبي) علاج ...

چې لوئ انسان وي نو اسم الٰهي **یَامُقَدِّمُ** د مَاخَستَن د لمونځ وروسته یَوسَل څلور (104) واړه ووایه. دَم یې کَه ..... او چې کشنئ هَلک یا انجلي وي نو اسم الٰهي **یَامُؤَخِّرُ** د مَاخَستَن د لمونځ وروسته څلور سوه اَتَه شُپېتَه (468) واړه ووایه. دَم یې کَه.

... د ټبي لپاره یو بَل مُفید عَمَل ...

چې **سُورَةُ الشَّمس** د ټبجَن انسان په غُوږ کي ووایي نو اِنشَآءَاللهُ بنَه به شي.

... د ډېر چاغ (پَنډ) انسان علاج ...

چې څوک ډېر پَنډ وي. دا هم یَو مرض دئ. او دئ غواړي چې پَنډوَل (چاغوالئ) یې ختم یا کَم شي نو دهغه علاج دادئ چې د مَاخَستَن د لمونځ وروسته یَوسَل څلور (104) واړه اِسمِ الٰهي **یَامُقَدِّمُ** او شپږ اَتیا (86) واړه اِسمِ الٰهي **یَابَدِیعُ** وایي.

... د قرض (پُور) د وصولو لپاره ...

د پُور د وصولولو لپاره دي یَوکس سوه یَوکس (1111) واړه دا ووایي

یَامُذِلُّ.

په اَوّل او آخر کي دي یَوکس (11) واړه **دُرُودشریف** ووایي.

... د قرض (پُور) د اداء کولو نُسخَه ...

(1) کَه څوک **مَقرُوض** وي نو هغه دي **سَهَار** او **مَاښَام** درې درې (3) واړه دا **دُعَاء** وایي. ژَر به قرض (پُور) اداء شي

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

قُلِ اللّٰهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَن تَشَاء وَتَنزِعُ الْمُلْكَ مِمَّن تَشَاء وَتُعِزُّ مَن تَشَاء وَتُذِلُّ مَن تَشَاء بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . تُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَتَرْزُقُ مَن تَشَاء بِغَيْرِ حِسَابٍ . اَللّٰهُمَّ فَارِجَ الْهَمِّ وَكَاشِفَ الْغَمِّ وَمُجِيبَ دَعْوَةِ الْمُضطَرِّ رَحْمٰنَ الدُّنيَا وَالآخِرَةِ رَحِيمَهُمَا تُعطِيهِمَا مَن تَشَآءُ وَتَمنَعُ مِنهُمَا مَن تَشَآءُ اِرحَمنِي رَحمَةً تُغنِينِي بِهَا عَن رَّحمَةٍ مَّن سِوَاكَ. اَللّٰهُمَّ اَغنِنِي مِنَ الفَقرِ وَاقضِ عَنِّي الدَّينَ وَتَوَفَّنِي فِي عِبَادَتِكَ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِكَ اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالحُزنِ وَاَعُوذُبِكَ مِنَ العَجزِ وَالكَسَلِ وَاَعُوذُبِكَ مِنَ الجُبنِ وَالبُخلِ وَاَعُوذُبِكَ مِن غَلَبَةِ الدَّينِ وَقَهرِالرِّجَالِ اَللّٰهُمَّ اكفِنِي بِحَلاَلِكَ عَن حَرَامِكَ وَاَغنِنِي بِفَضلِكَ عَمَّن سِوَاكَ. اَللّٰهُمَّ اَرجُوا رَحمَتَكَ فَلاَ تَكِلنِي اِلٰي نَفسِي طَرفَةَ عَينٍ وَاَصلِح لِي شَانِي كُلَّهُ لاَاِلٰهَ اِلاَّ اَنتَ .

(2) که څوک غواړي چې په هيڅ وخت مَقرُوض نَه شي. يا که چيري مَقرُوض شوئ وي نو هغه قَرض يې ژر اداء شي. نو هغه دي د مَاپُنبِين د لمونځ وروسته سَل (100) واړه دا **دُرُودشريف** وَوايِي او **دُعَاء** دي وکړي. په هيڅ وخت به مَقرُوض نَه شي. او که مَقرُوض وي ژر به قَرض اداء شي. **دُرُودشريف** دادئ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰي مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰي آلِهِ وَبَارِک وَسَلِّم .

(3) د رِزق د پراخئ او د قرض څخه د نجات لپاره د سَهَار د سُنّتُو او فَرضُو په مَابَين کې اُوه (7) واړه دا آيت وَوايَه. په اَوّل او آخر کې دري دري (3) واړه **دُرُودشريف** وَوايَه. بيايې پر خپل ځان چُف (دَم) که. آيت دادئ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لاَ تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ .

... چې عُوَا/ګامبنَه/بُزَه/مېږه ناجوړه وي ...

چې عُوَا عُوَيئ. ګامبنه يا پُسَه مريض وي نو دا کښته بيان شوې دُعَاء ځلور وَارَه وَوَايَه د حَيوَان په بنې سَپَرمَه کې چُف (چُو) که. او دري وَارَه يې وَوَايَه د حَيوَان په کَنَه سَپَرمَه کې چُو (دَم) که. دُعَاء داده لاَبَاْسَ اَذهِبِ البَاْسَ رَبَّ النَّاسِ اِشفِ اَنتَ الشَّافِي لاَيَكشِفُ الضُّرَّ اِلاَّ اَنتَ .

... چې عُوَا/ګامبنَه/بُزَه/مېږه نَه دريږي ...

چې عُوَا يا ګامبنه يا پُسَه لُوبشي او هغه نَه دريږي. نو د سورة يٰس په آخِري رکوع کې د (اَوَلَم يَرَوا اَنَّا خَلَقنَا) څخه تر (وَمَا يُعلِنُونَ) پورې وَوَايِي. پر دُودَئ دې دَم کړي. هغه دُودَئ دې حَيوَان ته ورکړي.

... چې حيوان شُوخي کوي ...

که چيرې د سُوَارلَئ حيوان مَثَلاً آس يا وُنس د سُوارلَئ پر وخت شُوخي کوي. نَه دريږي نو دا آيت دري وَارَه وَوَايَه. دهغه په غُوږ کې چُو (چُف) که. اِنشَآءَاللّٰه آرام به شي. آيت دادئ

أَفَغَيْرَ دِينِ اللّٰهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ .

... د حيوانانُ د خُولې. د نُوکَانُ او نورو اَمرَاضُ علاَج ...

چې د غُوَا يا ګامبنې يا د پُسَه تر خُولَه اُوبَه بَهيږي. يايې د نُوکَانُ مرض وي يايې بَل مَرَض وي نو دهغه علاَج دادئ چې د جُمعَه په وُرَځ د لَمَر د راختو پر وخت د انځَر درختي پر لرکي باندې څلوېښت (40)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وِاړه دا آیت وَوایَه. او بیا هغه لرګئ دري وَاړه د ددې **مَریض حَیوان** پر بَدَن تپر که. اِنشَآءَاللّٰه مرض به ختم شي. آیت دا دئ .

فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا كَذَلِكَ يُحْيِي اللّٰهُ الْمَوْتَى وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ .

... دنَاحَق مُقَدّمَاتُ. د تُهمَتُو او بې عِزّتِي څخه ...

... د خَلاَسُون لپاره ...

که یو څوک په نَاحَق مُقَدّمَه (کېس) کي پَسَاؤ شوئ وي. یا یوچا تُهمَت (اِلزَام) پر لګولئ وي. یا د یوچا په عِزّت کي څه فَرق راغلئ وي. نو هغه دي دا آیت ډېر ډېر وَایِي. عِزّت به بَحَال شي

وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ .

... تر مرګ پورې د صحیح سَالِم پاته کېدو لپاره ...

چې څوک وغواړي چې د مرګ تر وختې پورې تولې اَعضَاء دُرَست. صحیح سَالِم پاته وي. رُوغ جُوړ وي نو هره ورځ دي دري واړه دا آیت وَایِي پر ځان دي دَم کوي. آیت دا دئ

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَةَ اللّٰهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لاَ تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ .

... په اِستِخَارَه کي د صحیح خبرې د معلومولو نُسخَه ...

د ماخَستَن د لمونځ وروسته دُوَه رکعَت نَفل د **اِستِخَارې** په نِیّت اداء کړئ. دهغه وروسته دا آیتونه یَوسَل یَو (101) وار وَوایَه. او دهیڅ چا سره خَبَرِي مَه کوه بِیدَه شه. اِنشَآءَاللّٰه صحیح خَبَرَه به درته بنکاره شي

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وَأَسِرُّوا قَوْلَكُمْ أَوِ اجْهَرُوا بِهِ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ . أَلاَ يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ .

... د کېنسَر / طَاعُون او دَائُو څخه د بَچ کېدو مُجَرّب عَمَل ...

چې څوک سَهَار او مَابنَام يَولس (11) واره دغه اَسمَآءُ الحُسنٰې وَايِي هغه به سَرَطَان (کېنسَر) طَاعُون او دَائُو څخه محفوظ شي

يَا مَالِکُ ..... يَا قُدُّوسُ ..... يَا سَلاَمُ

... ذ دُنيَا او آخرَت د نعمَتُو د حاصلولو نُسخَه ...

(1) که څوک غُوَارِي چې په دُنيَا کي هم ده ته هر نعمَت ملاؤ شي او په آخرَت کي هم الله تعالٰى ده ته نعمَتُونَه ورکړي. نو هغه دي سَهَار او مَابنَام دري (3) واره دا آيتونه وَايِي. اِنشَآءالله د دُنيَا او آخرَت نعمتونه به الله تعالٰي ورکړي

مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاء غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوا مَاء حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءهُمْ .

(2) کد ته غواړي چې د الله تعالٰي هر نعمَت تاته حَاصِل شي. نو هره وُرَځ سَهَار او مَابنَام اُوه (7) واره دا دُعَاء وَايَه. او په هره حال کي د الله تعالٰي شُکر کوه.

قُلْ إِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاء وَاللّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ . يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَن يَشَاء وَاللّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ .

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... د مرګ څخه علاوه د هر شي څخه د حفاظت نسخه ...

په مُسنَدِ بَزّار کي د حضور (ﷺ) حدیث دئ. چې حضور (ﷺ) ارشاد وفرمایئ: چې کله تاسو پر بستَرَه باندې پرېوزئ نو **سورة الفاتحه** او **سورة الاخلاص** (قُل هُوَ اللهُ اَحَدٌ الخ) وَایَاست. نو د مرګ څخه عَلاوَه بَل د هر شِي څخه به محفوظ شئ.

... چې غائب انسان دي په زړه کي یاد کړي ...

که ته غواړې چې غَائِب تَا په خپل زړه کي یَاد کي. نو اُوَه واره په دې نِیّت دا وَوَایَه چې زَه د فُلاَنِي غَائِب (مَثَلاً) په یاد شَم. **دُعَاء** داده

إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلاَ لَهُ الْخَلْقُ وَالأَمْرُ. تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ.

... د بَاهَر مُلک د وېزې د حَاصلَوُلو لپاره نُسخه ...

(1) دغه لاَندي ذِکرشوي **اَوراد** دي کله نَا کله وَایِي

یَا لَطِیفُ یَا لَطِیفُ یَولَس سوه (1100) واره.

حَسبُنَا اللهُ وَنِعمَ الوَکِیلُ درې سوه دِیارلَس (313) واره.

(2) درې سوه دِیارلَس (313) واره دي دا وَایِي

سُبحَانَ المَلِکِ القُدُّوسِ.

(3) که څوک غُوَاړي چې ده ته د بَاهَر مُلک نِښنَلتِي (شهریّت) ملاؤ شي نو هغه دي یَولَک پِنځه وِیشت زره (125000) واره دا وَایِي

اَللهُ الصَّمَدُ.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

هره وُرځ دي دري زره يَو سَل پنځويشت (3125) واره وَايِي. چې دا به په څلوېښت وُرځ کې پوره شي.

... د شوګر علاج د قرآن په برکت ...

په اَوّل او آخر کې دي دري واره **دُرُود شريف** او په مَابَين کې دري واره دا آيتونه وَوَايِي او پر اُوبُو دي چُوَ (چُف) کې او بيادي وَچيښِي

رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلْطَانًا نَّصِيرًا .

د الله تَعَالٰي په فَضل سره ډېرو مريضَان ته په دي نُسخَه سره شِفَاء ملاؤ شوي ده .

پام لرنه :- که چيري د دې خبرو خِيَال وساتل شي نو بيا به فائده ډېره زِيَات وي .

(1) پر تېرو شوو ګناهونو دي په اِخلاَص سره توبه وکړي.

(2) او آيندَه کې د ګناه نَه کولو پَيښک قَصد وکړي.

(3) اِستِغفَار دي په کَثرَت سره وَايِي.

(4) او په جماعت سره دي د لمونځ پَابَندِي کوي. ډېر ژر به د دې فائده په سترګو وَوِيني. د دې عَمَل عَام اِجَازَت دئ .

(2) که د شوګر مريض هره وُرځ يَو څلوېښت (41) واره دغه آيت وايِي. الله تعالٰي به شِفَاء ورکړي.

(3) د سَهَار د لمونځ وروسته پِنځوس (50) وُرَځي د **ګُډو جُوس (رَس)** وَبَاسَه. پر يَوَه ګلاس **رَس** باندي يَو ويشت (21) وَارَه دا آيت **دَم**

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

كه. او بيا نَه سوه (900) قَدَم (**گام**) هره وُرَځ تَک کوه. **انشآءَالله** هر قِسم **شوګر** به دي ختم شي. آيت دا دئ

وَقُل رَّبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلْطَانًا نَّصِيرًا .

(4) دُوي نِيمي مِيَاشتي (يعني پنځه اَويَا وُرَځي) بِلاَنَاغَه دري وَارَه سَهَار او دري وَارَه مَابنَام دي دا **دُعَاء** وَايِي او پر اُوبُو دي دَم کوي. بيادي چيښي. انشَآءَالله د **شوګر** مرض به ختم شي. **دُعَاء** داد

رَّبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلْطَانًا نَّصِيرًا .

... د کِپنسَر خاص علاَج ...

(1) په اَوّل کي دي سَل واره بِسمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ وَوَايِي بيادي يَوسِ سوه (1100) واره د قُرآني آيت دا حِصّه وَوَايِي

مُسَلَّمَةٌ لاَشِيَةَ فِيهَا .

بيادي پر **اُوبُو/مِيوَه** او **دَوَايِي** باندي پنځه ويشت (25) واره چُو (چُف) کي. په فَارِغ وخت کي دي د دغه آيت وِرد جَارِي وساتي او دغه اُوبَه دي تَوله وُرَځ اِستِعمَالوِي.

(2) د هر فرض لمونځ وروسته دي د نِسي لاَس د شَهَادَت ګوته د سَجدي ځائ ته يُوسِي. او هلته دي دري واره د ګول دَائِري په شکل کي دغه ګوته پرله وګرزوي. او دغه اَلفَاظ دي دري (3) واره وَوَايِي

يَا اَللهُ ... يَا رَحْمٰنُ ... يَا رَحِيمُ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

او بيادي ګوته پورته کړي. پر ګوم ځائ چې تکليف وي هلته دي ګوته يُوسي. پر هغه ځائ دي د ګول دَائِرې په شکل کي وګرزوي او بيادي دغه اَلفَاظ وَوَايِي

يَا اَللّٰهُ ... يَا رَحْمٰنُ ... يَا رَحِيمُ

بيادي دغه ګوته ذ سَر څخه وَنيسې تر يوې پُښې پورې او د بَلي پُښې څخه ونيسې تر سَر پورې د ګول دائرې په شکل کي وګرزوي. او دغه اَلفَاظ دي ووَايِي

يَا اَللّٰهُ ... يَا رَحْمٰنُ ... يَا رَحِيمُ

په فَارِغ وختو کي د دغه اَلفَاظُ وِرد جاري وساتي. او مَرِيض ته وَوَايِي چې هغه هم دغه وِرد کوي. اِنشَآءَ اللّٰه فَيض يَاب به شي. لاَعِلاَج مريضان د دې عَمَل په برکت سره صِحّت يَاب شوي دي.

(3) کَه يَو څوک کښنسر شوئ وي. او هغه زَخم يې په هيڅ ډَول نَه جوړيږي. نو اُوَه (7) وُرَځي پر لَپَسې هره وُرَځ سَل سَل (100) وَارَه د اللّٰه تعالٰي دا نُوم ,,يَارَقِيبُ،، ووَايَه. پر مريض يې دَم کوه. اِنشَآءَاللّٰه په دغه اُوَه وُرَځي کي به بِالکُل زَخم جوړ شي.

(4) بِسمِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

د اَلرَّحِيم مِيم د اَلحَمدُ لِلّٰه د لاَم سره يَوځائ ووَايَه. او بيا يې پر اُوبُو يا عَرَق باندي دَم کَه. د کښنسَر مريض دې وَچيني. ډېر فائدَه مَند دئ.

... د لَقوَه يعني د خولې د کږوالي عِلاَج ...

(1) لَقوَه چې د فَالَج يَو قسم دئ. البتَه په دي کي صِرف د انسَان خُولَه کږَه شي. ستر کَه کږه (کَش) شي. د هغه عِلاَج دا دئ چې په غَيرِ مُستَعمَل

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

یعني نَوي پلبت کي **سُورَةُ الزِّلزَال** ولیکه. دهغه اُوبَه دي مریض چیبنِي. د لَقوې لپاره مُفید دئ.

(2) چي څوک د بِدبِدُو پر وخت دغه آیتونه وَایِي هغه به د فَالَج او لَقوَه څخه محفوظ وي. آیتونه دادي

دا **دُعَاء** حضورِ اَقدَس (صلي الله عليه وسلم) وحضرت اَنَس (رضي الله عنه) ته بنولي ده. او وفرمايل چي څوک سَهَار دا **دُعَاء** وَوايِي نو توله وُرَځ هيڅ يو ظَالِم هم ده ته نُقصَان نَه شي رسولائي. **دُعَاء** داده

بِسمِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ. بِسمِ اللهِ خَيرِ الأَسمَآءِ بِسمِ اللهِ الَّذِي لاَيَضُرُّ مَعَ اِسمِهِ شَيئٌ فِي الأَرضِ وَلاَ فِي السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِيعُ العَلِيمُ. بِسمِ اللهِ عَلٰي نَفسِي وَدِينِي. بِسمِ اللهِ عَلٰي اَهلِي وَمَالِي. بِسمِ اللهِ عَلٰي كُلِّ شَيئٍ اَعطَانِيهِ رَبِّي. اَللّٰهُ اَكبَرُ اَللّٰهُ اَكبَرُ اَللّٰهُ اَكبَرُ. أَعُوذُ بِاللهِ مِمَّا أَخَافُ وَ أَحذَرُ. اَللّٰهُ رَبِّي لاَ أُشرِكُ بِهِ شَيئًا. عَزَّ جَارُكَ وَجَلَّ ثَنَآئُكَ وَتَقَدَّسَت اَسمَآئُكَ وَلآ اِلٰهَ غَيرُكَ. أَعُوذُ بِكَ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مِن شَرِّ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ وَّشَيطَانٍ مَّرِيدٍ وَّمِن شَرِّقَضَآءِ السُّوءِ وَمِن شَرِّ كُلِّ دَابَّةٍ اَنتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا اِنَّ رَبِّي عَلٰي صِرَاطٍ مُّستَقِيمٍ .

... تولہ هفته د شر څخه د حفاظت عمل ...

که هر څوک دا وَظِيفَه خپل مَعمُول وګرزوي نو تولہ هَفتَه به د شَر څخه مَحفُوظ وي. او رِزق به تر حَد زِيَاتَ ترقّي وکړي. او د قيامت په وُرځ به په **ذَاكِرِينَ** کي راپورته کړل شي. عَمَل دادئ

د **جُمعې** د وُرځي وَظِيفَه	**يَااَللّٰهُ.يَاوَاحِدُ**	درې سوه وَارَه
د **هَفتې** د وُرځي وَظِيفَه	**يَارَحمٰنُ.يَارَحِيمُ**	درې سوه وَارَه
د **يَكشَنبې** د وُرځي وَظِيفَه	**يَاوَاحِدُ.يَااَحَدُ**	درې سوه وَارَه
د **دُوَه شَنبې** وُرځي وَظِيفَه	**يَاصَمَدُ.يَارَؤُفُ**	درې سوه وَارَه
د **سه شَنبې** د وُرځي وَظِيفَه	**يَاحَيُّ.يَاقَيُّومُ**	درې سوه وَارَه
د **چَهَارشَنبې** د وُرځي وَظِيفَه	**يَاحَنَّانُ.يَامَنَّانُ**	درې سوه وَارَه
د **پَنجشَنبې** د وُرځي وَظِيفَه	**يَاذَاالجَلَالِ.وَالاكرَامِ**	درې سوه وَارَه

... د امام ابو حنيفه (رحمۃ اللہ علیہ) دُعَاء د قُرب الي الله لپاره ...

امام ابو حنيفه (رحمۃ اللہ علیہ) سَل (۱۰۰) وراه الله تعالٰي په خُوب کي ليدلئ دئ. چي سَلَم واريي په خُوب کي وليدئ نو ده د الله تعالٰي څخه پُوښتَنه وکړه چي **يَااَللّٰه**! ستا بَنده ګان سَتَا د قُرب (نژدېکت) د حاصلولو لپاره څه شَئ وَوَايِي؟ نو الله تعالٰي په خُوب کي دا **دُعَاء** وَرووَښُوَله

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سُبحَانَ الاَبَدِيِّ الاَبَد. سُبحَانَ الوَاحِدِ الاَحَد. سُبحَانَ الفَردِ الصَّمَد. سُبحَانَ رَافِعِ السَّمَآءِ بِغَيرِ عَمَد. سُبحَانَ مَن بَسَطَ الاَرضَ عَلٰي مَآءٍ جَمَد. سُبحَانَ مَن خَلَقَ الخَلقَ فَاَحصَاهُم عَدَدًا .

... د مَاښام د لمونځ وروسته دا دُعَاء وَوَايَه ...

حضرت مُسلِم تَمِيمِي (رضی اللہ عنہ) د رسول الله (صلی اللہ علیہ وسلم) دا حدیث مُبَارک نقل کړئ دئ. چې د **مَاښام** د لمونځ وروسته د خلکو سره د خبرو کولو څخه مخکې اُوَه (۷) وَارَه دا **دُعَاء** وَوَايَه

اَللّٰهُمَّ اَجِرنِي مِنَ النَّارِ .

بیا که چیرې په دغه شُپَه تَاتَه مرګ راشي نو د **دُوزَخ** څخه به مَحفُوظ شي. او که دغه **دُعَاء** د **سَهَار** د لمونځ وروسته د خلکو سره د خبرو کولو څخه مخکې اُوَه (۷) واره وَوَایي او په دغه وَرَځ **مَړ** شي نو د **دُوزَخ** څخه به مَحفُوظ شي .

... د مَاخَستَن د لمونځ وروسته دا وَوَايَه ...

د مَاخَستَن د لمونځ وروسته **سُورَةُ المُلک** (تَبَارَکَ الَّذِي بِيَدِهِ المُلکُ الخ) وَيَل ډېر ثَوَاب او ډېرو شَرَو څخه د حِفَاظَت **حِصَار** دئ .

... چې څه وغواړي هغه به ملاؤ شي ...

حضرت **حَسَنِ بَصرِي** (رحمۃ اللہ علیہ) فرمایي چې حضرت سَمُرَةَ بنِ جُندُب (رضی اللہ عنہ) وفرمایل چې زَه تاسو ته دَاډَوَل حدیث وَاوَرَوَم چې مَا په خپله د حضور څخه څُوځُو واره اَورېدَلئ دئ؟ او د حضرت ابوبکر او د حضرت عُمَر (رضی اللہ عنہما) څخه مي هم څُو څُو واره اَورېدَلئ دئ؟ مَا

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(**حَسَنِ بَصرِي**) ورته وويل چي هُو! ضرور يې بيان کړه. نو حضرت سَمُرَه (رضی الله عنه) وفرمايل چي څوک سَهَار او مَابَنَام دا **دُعَاء** وَوَايِي

اَللّٰهُمَّ اَنتَ خَلَقتَنِي وَ اَنتَ تَهدِينِي وَ اَنتَ تُطعِمُنِي وَ اَنتَ تَسقِينِ وَ اَنتَ تُمِيتُنِي وَ اَنتَ تُحيِنِي .

او ددې د وَيلو وروسته چي د الله تعالٰي څخه څه شَئ وغواړي. ضرور الله تعالٰي هغه شَئ ورکوي.

... عَظِيم (غَټ) نُور به ورته حَاصِل شي ...

حضرت حَافِظ ابوبکر بَزّاز (رحمة الله عليه) په خپل کتاب کې بيان کړئ دئ چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل:- ګوم څوک چي د شپې (هسې په يوه حصّه کې) دا آيت وَوَايِي الله تعالٰي هغه ته دُومره **عَظِيم نُور** ورکوي چي د **عَدَن** څخه تر **مَکّه مُکرّمَه** پورې رسيږي. آيت دا دئ

فَمَن کَانَ يَرجُوا لِقَآءَ رَبِّهِ فَلْيَعمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَّ لاَ يُشرِک بِعِبَادَةِ رَبِّهِ اَحَدًا.

... د جُمعې د لمونځ وروسته د ګناه د بَخښلو نَبَوي نُسخَه ...

څوک چي د جُمعې د لمونځ وروسته سَل (۱۰۰) وَارَه دا **وِرد** وَوَايِي

سُبحَانَ اللهِ العَظِيمِ وَبِحَمدِهِ

نو حضور (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل چي ددې لُوستُونکي يَولَک (۱۰۰۰۰۰) ګناهونه معافيږي. او دده د وَالِدَينُ (**مُور او پُلار**) څليرو شت زَره (۲۴۰۰۰) ګناهونه معافيږي.

(رَوَاهُ اِبنُ السَّنِيِّ فِي:- عَمَلُ اليَومِ وَاللَّيلَةِ صفحة رقم ۲۳۴)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... د آيَاتِ قطَب عجيب و غريب اَوصَاف ...

(۱) چي څوک د سَهَارِ دلمونځ وروسته څلوېښت (۴۰) وَارَه **آيَتِ قطَب** وَوَايِي چي د الله تعالٰي څخه څَه وغواړي الله تعالٰي به هغه ورکړي.

(۲) چي د **بَاچَا** يا **اَمِير** سره يو کار مُعَلّق وي. او مُشکِل يې کاره کيږي نو دُوَه رکعته نَفل لمونځ دي اداء کړي. پر **مُصَلّي** نَاسته دي دړې وَارَه دا آيت وَوَايِي. پر دواړو لاَسُو دي چُو (**چُف**) کړي بيا دي لاَسُونَه پر خپله مَخ تير کړي. اِنشَآءَالله مُرَاد به پوره شي.

(۳) چي پر يو چا باندي د **ديو** (دېو) يا د **آسيب** او يا د **پيري** اَثر وي. نو په کِنِ عُوَرِ کي دې چُو (**دَم**) کړي اِنشَآءَالله هغه اَثر به ختم شي.

(۴) چي **لَرَم** خوړلئ وي دهغه په بَنِي عُوَرِ کي دي چُف کړي اِنشَآءَالله جوړ به شي.

(۵) چي د جَنګ يا مُهِم لپاره دِيَارلَس (۱۲) يا پِنځه لَس (۱۵) وَارَه وَوَايِي اِنشَآءَالله فَتحيَاب به شي.

(٦) چي څلور وَوَارَه ووايې د دُښمَن پر **ګوريې چُف** کړې د دُښمَن ګور به الله تعالٰي خَرَاب کړي.

(۷) چې څوک غواړي چي پر دُښمَن باندي غَالب شي دُوَه لَس (۱۲) وَارَه دې وَوَايِي اِنشَآءَالله دُښمَن به مُطِيع او فَرمَانبَردَارَه شي.

(۸) چي اُوَه (۷) وَارَه يې وَوَايي او مَجلِس ته رَاشِي نو د مَجلِس ټول خلک به دده تَعظِيم وکړي.

(۹) چي پر نَه (۹) دِرَم شِهد (**شَات**) او دُوَه دِرَم د **دَکّهن** پر **مَرَچ** باندې وَوَايِي او بيا هغه وخوري نو **قوّتِ بَاه** به دې زِيَات شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(۱۰) چې هره وُرځ يې زر (۱۰۰۰) وَارَه وَوَايې. **رِزق** او **رُوزِي** به دي زِيَات شي. د غَيب څخه به د رِزق دروازې خلاس شي.

(۱۱) که **آس** شرارت کوي نو دري وَارَه وَوَايَه دَم پرې وکه. آرام به شي.

آيت دادئ

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّن بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغْشَى طَآئِفَةً مِّنكُمْ وَطَآئِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِاللّهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ الأَمْرِ مِن شَيْءٍ قُلْ إِنَّ الأَمْرَ كُلَّهُ لِلّهِ يُخْفُونَ فِي أَنفُسِهِم مَّا لاَ يُبْدُونَ لَكَ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَاهُنَا قُل لَّوْ كُنتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلَى مَضَاجِعِهِمْ وَلِيَبْتَلِيَ اللّهُ مَا فِي صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحَّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمْ وَاللّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ .

... خاص وظيفه د شاه ابرار الحق صاحب (رحمۃ اللہ علیہ) ...

په اَوّل او آخر کې يَولس يَولس (۱۱) وَارَه **دُرُود شريف** وَوَايَه. دهغه وروسته دا آيت **حَسبُنَا اللّٰهُ وَنِعمَ الوَكِيلُ** د دې لاَندې بيان شوي مَقَاصِدُ لپاره وَوَايَه. انشَآءَاللّٰه کامیابي به ملاؤ شي

(۱) د شَر او فتنُو څخه د حِفَاظَت لپاره (۳۴۱) وَارَه وَوَايَه.

(۲) د رِزق د پَرَاخَئ او قَرض لپاره (۳۰۸) وَارَه وَوَايَه.

(۳) د خاص کار د پُوره کولو لپاره (۱۱۱) وَوَايَه.

(۴) د مَصَائِب او مُشکلاَتُ څخه د خلاسون لپاره (۱۴۰) وَارَه وَوَايَه.

... د ذَاتي مکان (کُور) لپاره عَمَل ...

(۱) که چيري تَه د وسېدلو لپاره خپل ذَاتي ځائ. يا خپل ذَاتي مکان (کُور) نَه لري. يا د مَعَاش ذريعه نَه وي. نو هره وُرځ دا آيت يَوسَلِ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

یَوپنځُوس (151) واره وَایَه. تر هغه وخته چې کامیابي ملاؤیږي. په اَوّل او آخر کې یَولس یَولس (11) وَارَه **دُرُودشریف** وَوَایَه. آیت دادئ

وَ لَقَد مَکَّنّٰکُم فِي الاَرضِ وَجَعَلنَا لَکُم فِیهَا مَعَایِشَ. قَلِیلاً مَّا تَشکُرُونَ.

(۲) د خپل ذَاتِي مکان (کُور) د حُصُول لپاره د جُمعې په وُرَځ د مَاځیګر د لمونځ وروسته زَر (۱۰۰۰) وَارَه دا **دُرُودشریف** وَوَایَه او **دُعَاء** وکه. ددې **دُرُودشریف** په برکت به الله تعالٰی خَالص په خپل فَضل او اِحسَان سره د خپل ذَاتِي مکان اِنتِظَام وکړي. آزموړده او مُجَرّب دئ. **دُرُودشریف** دادئ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰي مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ وَ آلِهِ وَسَلِّم.

... د شَبِ قَدر برابر ثواب ...

د قُرآنِ مجید څخه ښکاره ده چې په شَبِ قَدر کې د عِبَادَت ثواب د زَر (1000) میَاشتي تر عِبَادَت اَفضَل دئ. او زَر میَاشتي د هرش زَرَه (30000) شُپې جوړیږي. او ګلونه درې اَتیَا (83) کال او څلور میَاشتي جوړیږي. دا صِرف د الله تعالٰی اِنعَام دئ. او د الله تعالٰی رَحمَت خو هیڅ اِنتِهَاء نَه لري نو که چیرې الله تعالٰی پر بَل عَمَل باندې په دغونه اَندَازَه (یعني د شَبِ قَدر په برابر) ثَوَاب ورکړي نو د الله تعالٰی د رَحمَت په خَزَانُو کې هِیڅ ډَوَل کَمبُوت نَه راځي. نو دغه کَلمَات چې درې وَارَه څوک وَوَایِي هغه ته الله تعالٰی د شَبِ قَدر برابر ثَوَاب ورکوي. تاسو هم دا یَاد کئ او دغه ثَوَاب ځَان ته حَاصِل کئ. هغه **دُعَاء** او **کَلمَات** دادي

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ. سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ.

(کنزالعُمّال. ج۲. صفحة ۲۲۶)

... څلور عَظيم کَلمَات ...

حضورِ اکرَم (ﷺ) يَوه وُرَځ د سَهَار لمونځ ته تشريف يُوړئ. هغه وخت اُمّ المُؤمنين حضرت **جُوَيرِيّه** (رضی الله عنها) پر خپله **مُصَلّي** باندي ناسته وه. حضور (ﷺ) د **څابښت** پر وخت بېرته تشريف راوړئ حضرت **جُوَيرِيّه** پر هغه خپله **مُصَلّي** باندي ناسته وه. حضور (ﷺ) پُوښتَنه وکړه دې ورته وويل چي هُو! د سَهَار د لمونځ څخه تر اُوس پوري ناسته يَم. حضور (ﷺ) ډېر خوشحالَ سو. يوه **وَظيفَه** يې وَروښُوله. چي مَا دهغه وخته څخه تر اُوس محال پوري دا څَلور کَلمَات ويلي دي. چي ستا د تولو وخت د وَظيفې سره دا وَتَلې (وَزَن يې کې) نو دا به تر هغه وَزنِي شي. هغه کَلمَات دادي

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ عَدَدَ خَلْقِهٖ. وَرِضَا نَفْسِهٖ. وَزِنَةَ عَرْشِهٖ. وَمِدَادَ كَلِمَاتِهٖ.

... د مېرکي علاج ...

(1) چي پر يو مَريض باندي د مېرکي دَوره راشي نو هغه وخت دده په عُوَر کي دا **کَلمَات** وَوايَه او په عُوَر کې پُوه که. فَورًا به په هُوښ کي راشي. او آئندَه به هم د دَورُو څخه محفوظ شي. **کَلمَات** دادي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. الٓمّٓصٓ. طٰسٓمٓ. كٓهٰيٰعٓصٓ. يٰسٓ وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ. حٰمٓعٓسٓقٓ. نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(2) هره وُرَځ **سُورَةُ الحَدِيد** دري سوه دِيارلس (313) وَارَه وَايَه. پر اُوبُو يې دَم کوه. بيادي دمبرکي مريض هغه اُوبَه چيښي. انشَآءَالله مرض به ختم شي. ددې عَمَل په اَوّل او آخر کي يَولَس يَولَس (11) واره دُرُود شريف وَايَه. يَووِيشت (21) وُرَځي پرلپسې دغه عَمَل جاري وساته.

پام لرنه :- دا عَمَل څو گَسَان په اِجتِمَاعِي توگه سره هم کولائي شي. او د گُورتول اِنسَانَان يې هم کولائي شي. گُکه چې دَيَوه انسَان لپاره هره وُرَځ دري سوه دِيارلس واره **سُورَةُ الحديد** ويل مُشکل کار دئ.

(3) چې مبرکي بېهوښ کړئ وي. دهغه په نَبي (رَاسته) غُوَږ کي پوره اَذَان وکې او په کِن (چَپ) غُوَږ کې پوره اِقَامَت وکې. اِنشَآءَالله په هُوښ کي به راشي.

(4) پر پاکُ اُوبُو باندي **سُورَةُ فَاتِحَه** او **آيَةُ الکُرسِي** او د **سُورَةُ الجِنّ** يَعنِي **قُل اُوحِيَ اِلَيَّ** اُولَنِي پنځه آيتونه وَوَايَه. دَم (**چُف**) يې کَه. بيا هغه اُوبَه د مريض پر مَخ وِپَاشَه. انشَآءَالله په هُوښ کي به راشي. او کَه چيري مريض په مکان کي يَوشَئ وَښُووَئ نو پر هغه ځائ هم دغه اُوبَه وِپَاشَه.

(5) دا آيتونه پر مريض باندي وَوَايَه. دَم (**چُف**) يې کَه

مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُونَ فَضْلاً مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا. سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الإِنجِيلِ. كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ. وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا .

(6) چې **سُورَةُ الشّمس** د مېرکي والا په غُوږ کي ووايي نو اِنشآءَالله ښه به شي.

... د قحط سالئ يا بَارَان دُعَاء ...

چې بَارَان نَه وي. دُکلي وي. کاختي وي. وَچ کالي وي. فَصلُونَه پر وچېدو وي. د بَارَان ضرورت وي نو په اَودَس سره هره وُرَځ اُوَه (7) واَره **سُورَةُ الوَاقِعَه** وَايَه انشآءَالله د الله په رحمت سره به بَارَان وشي.

... چې بَارَان ډېر زِيَات شي ...

(1) که چيري بَارَان ډېر زِيَات وشي. او خلکو ته نُقصَان ورسيږي. کَښتُونُو. فَصلُونُو ته نُقصَان وي. او بَارَان نَه دريږي. نو د بَارَان د درېدولو لپاره هره وُرَځ په اَودَس سره پِنځه (5) واَره **سُورَةُ الوَاقِعَه** وَايَه. د الله په فَضل سره به بَارَان ودريږي.

(2) د بَارَان د بَنَدَولو لپاره اُوَه (7) پاک ډَبَرِي راواخلئ. **سُورَةُ الفَاتِحَه** او دا آيت اُوَه (7) واَره پرووَايَه. بيا دغه ډَبَرِي په داسي ځائ کي کَښېږده چې دُوئي ته د بَارَان څاڅکي (اُوبَه) نَه رسيږي. بَس فَورًا به بَارَان بَند شي. بياچې گُوم وخت د بَارَان ضرورت پيدا شي نو دغه ډَبَرِي په رَوَانُ اُوبُو کي واچوه. آيت دادي

وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَآءَكِ وَيَا سَمَآءُ أَقْلِعِي وَغِيضَ الْمَآءُ وَقُضِيَ الأَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ وَقِيلَ بُعْداً لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ .

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... استخَارَه ...

د حضورِ اکرَم (ﷺ) اِرشَاد مُبَارَک دئ

مَاخَابَ مَن اِستَخَارَ وَمَانَدِمَ مَن اِستَشَارَ

ترجمه :- ګوم چاچي **اِستِخَارَه** وکړه هغه به په نُقصَان کي نَه وي. او ګوم چاچي **مَشوَرَه** وکړه هغه به پریشَان نَه وي.

هسي یو ښَه کار او مُبَاح کار د کولو څخه مخکي د قَابِلِ مَشوَرَه خلکو سره مَشوَرَه کول ضروري وي. او ددې کارو څخه مخکي **استِخَارَه** کول هم د حضور (ﷺ) سُنّت دئ. حضرت جَابِربن عبدالله اَنصَارِي (رضی اللہ عنہ) فرمایي چي حضور (ﷺ) موږ ته **اِستِخَارَه** دَاډَول رابنوله لکه څنګه چې قُرآن رَابنُوَئ.

عُمُومًا خلک د استِخَارې لپاره عَاملاَنُ. خَطِیبَانُ. پیرَانُ او عُلَمَآءُ ته رُجُوع کوي. د دُوئي دا خِیَال وي چي زَه خو ګناهګَار یم دغه خلک به زُومَا صحیح رِهنَمَایِي وکړي. نو په نورو باندي **استِخَارَه** کوي. په خپله زُومَا څخه هم ډیرو خلکو په څُوښتو کرته د استِخَارې مُطَالَبه کړې ده. که چیري په نورو سره استِخَارَه کول اَفضَل وائ یا په مُقَدّس شَخصِیّاتُ سره استِخَارَه کول اَفضَل وائ نو حضور (ﷺ) به و اَصحَابَانُ ته د استِخَارې تَعلِیم نَه وائ ورکړئ. او دا به فرمایلي وائ چي که هر څوک اِستِخَارَه کوي نو هغه دي مَاتَه رُجُوع کوي. حالانکه په تولَه تَارِیخ کي هیڅ یوه صَحَابي هم په حضور (ﷺ) باندي استِخَارَه نَه ده کړې. نَه یې وروسته د خُلَفَاءِ رَاشِدِینُ څخه د اِستِخَارې مُطَالَبه کړې ده. لِهٰذَا اِستِخَارَه بَایَد انسَان په خپله وکړي. او موږ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تاسو ته د مَسنُون استِخَارې سره سره بغض مُجرّب او مَنقُول استِخَارې هم ذکر کوو. چې تاسو په خپله استِخَارَه وکئ او ځانونه مُطمَئِن کړئ.

... د نَوَافِلُ اسْتِخَارَه ...

شیخ حَقّي (رحمۃ اللہ علیہ) په **خزینَة الاَسرار** کي د حضرت عَلي (رضی اللہ عنہ) څخه روایَت کړئ دئ. چې په دري سَلاَم سره شپږ رکعته نَفل لمونځ وکه (یعني دُوَه دُوَه رکعته کوه). په اَوّل رکعت کي د **سُورَة الفَاتِحَه** وروسته **سُورَة الشّمس** اُوَه (7) واَرَه. په دُوَیَم رکعت کي **سُورَة اللَّیل** اُوَه (7) واَرَه. په دَرَیَم رکعت کي **سُورَة الضّحٰی** اُوَه (7) واَرَه. په څلورم رکعت کي **سُورَة الانشِرَاح** اُوَه (7) واَرَه. په پنځم رکعت کي **سُورَة التّین** اُوَه (7) واَرَه. په شپږم رکعت کي **سُورَة القَدر** اُوَه (7) واَرَه. بیا د لمونځ وروسته سَل (100) واَرَه دا **دُعَاء** وواَیَه. او بیدَه (وِیدَه) شَه. دُعَاء داده

اَللّٰهُمَّ رَبَّ مُحَمَّدٍ وَّ رَبَّ اِبرَاهِیمَ وَرَبَّ مُوسٰی وَرَبَّ اِسحٰقَ وَرَبَّ یَعقُوبَ وَرَبَّ جِبرَائِیلَ وَرَبَّ مِیکَائِیلَ وَرَبَّ اِسرَافِیلَ وَرَبَّ عِزرَائِیلَ عَلَیهِمُ السَّلَامُ وَمُنزِلَ التَّورَاةِ وَالاِنجِیلِ وَالزَّبُورِ وَالقُرآنِ العَظِیمِ اَرِنِي فِي مَنَامِي اللَّیلَةِ مَا اَنتَ اَعلَمُ بِهِ مِنِّي.

... د اِیمَرجَنسَئ (اَچَانک/د تَلوَار) اسْتِخَارَه ...

سُورَة الفَاتِحَه. سُورَة الاخلَاص. دُرُود شَرِیف او **دَرَیَمَه کلمه** یَولَس (۱۱) یَولَس (۱۱) واَرَه وواَیَه. بیا دُوَه رکعته نَفل د استِخَارې په نِیّت وکه. په اَوّل رکعت کي چې **اهدِنَا الصِّرَاطَ المُستَقِیمَ** ته راورسېږي نو دا آیت مُسَلسَل واَیَه واَیَه. کَله چې ساعَت وروسته به یَو **نَادِیدَه قُوّت** ستا

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مَخ (چهره) پر بنِي يا کښ طرف وګرزوي. اُوس به ته سيدا نه شې درېدلائي. که چيري پر بنِي طرف وګرزېده نو هُو دئ (يَعني کارد کولو دئ) او که چيري پر کښ طرف ستا مَخ وګرزېدئ نو نَه دئ (يَعني کار نَه کول دئ). او خپل دُوَه رکعته لمونځ به پوره (مُکَمّل) کړې.

... د دُرُو سورتو استخَارَه ...

اِمَامِ يَافَعِي (رحمۃ اللہ علیہ) د اِستخَارې دا عَمَل بيان کړئ دئ. چې پيدا کړې نو پر بنِي اَړخ و قبلَه ته مخامخ پرېوزه. بيا دغه درې سُورَتُونَه يعني **سُورَةُ اللّيل. سُورَةُ الضّحٰي** او **سُورَةُ الانشرَاح** اُوَه (۷) اُوَه (۷) وَارَه تلاوَت که. بيا دُعَاء وکه او بيدَه شه. انشَآءَ اللّٰه په خُوب کې به يَو څوک تَا مُطّلِع کړي. چې دغه کار وکه يايې مَه کوه.

... د سُورَةُ الاخلَاص استخَارَه ...

د شُپې د بيدبدُو څخه مخکې پِنځَه څلو پښت (۴۵) وَارَه **سُورَةُ الاخلَاص** وَوَايَه. او د هيڅ چا سره خبرې مَه کوه بيدَه شه. اِنشَآءَ اللّٰه رِهنمَايِي به دې وشي. او دا عَمَل به اُوَه (۷) شُپې کوې.

... سُنّت استخَارَه ...

دُوَه رکعته نَفل د اِستخَارې په نِيّت وکَه. بيا وروسته دا **دُعَاء** وکه چې کله **هٰذَا الاَمرُ** ته راورسېږي نو په زړه کې د خپل مَقصَد خيَال وکه او بيا قبلَه ته مخامخ بيدَه شه. **دُعَاء** داده

اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَستَخِيرُکَ بِعِلمِکَ. وَ اَستَقدِرُکَ بِقُدرَتِکَ. وَ اَسئَلُکَ مِن فَضلِکَ العَظِيمِ. فَاِنَّکَ تَقدِرُ وَلاَ اَقدِرُ. وَ تَعلَمُ وَ لاَ اَعلَمُ. وَ اَنتَ عَلاَّمُ الغُيُوبِ. اَللّٰهُمَّ اِن کُنتَ تَعلَمُ اَنَّ هٰذَا الاَمرَ خَيرٌ لِّي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ اَمرِي

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

فَاقدِرهُ لِي وَيَسِّرهُ. ثُمَّ بَارِک لِي فِيهِ. وَ اِن کُنتَ تَعلَمُ اَنَّ هٰذَا الاَمرَ شَرٌّ لِّي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ اَمرِي فَاصرِفهُ عَنِّي وَاصرِفنِي عَنهُ وَاقدِر لِيَ الخَيرَ حَيثُ کَانَ ثُمَّ اِرضِنِي بِهِ .

... مُجرّب ترین استخاره ...

دا استخاره د **عُلَمَاء دیوبند** آزموېده او مُجرّب استخاره ده. اوّل او آخر سَل (۱۰۰) سَل (۱۰۰) واړه **دُرُود ابراهیمي** وَوایه. په مینځ کې یَوکس سوه (۱۱۰۰) واړه دا **دُعَاء**

یَاخَبِیرُ اَخبِرنِي .

وَوایه. بیا پر ښي اړخ بیده شه. د دې عَمَل څخه به ډېره ښه رهنمایي درته ملاؤ شي .

... په خوب کې د لیدلو عَمَل (د استخارې مخصوص قسم) ...

یَوکس سوه (۱۱۰۰) واړه **اَلرَّحِیمُ** وَوایه. بیا د پُنځو رُوپۍ شیرینې د کشنیانُو ترمینځ تقسیم که. او دا نیّت وکه چې د دې ثَواب **اَولِیَآءُ اللّٰه** ته ورسیږي. بَس اُوس ته د دې **عَامل** شوې. د ضرورت پر وخت پر کاغذ باندې **اَلرَّحِیمُ** ولیکه. مَاخَستَن یې تر سَر (بالښ) لاندې کښېږده. چې هر رنګه معامله وي په خُوب کې به درته ښکاره شي. **مُجَرّب** دئ .

... د آسمان او د مځکې د رَحمَتُونُو کلي (چابې) ...

حضرت عُثمَان غَني (رضی اللہ عنہ) فرمایي چې رسول الله (صلی اللہ علیہ وسلم) وفرمایل څوک چې هره وُرَځ سَل (۱۰۰) واړه دا کَلِمَات وَایي هغه ته به کَس نِعمَتُونَه ملاؤ یېږي .

(۱) اَوّل دا چې تېر ګناهونه به معاف شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(٢) هُوَيَم دا چې د اُور (وُور) څخه به نجات وموندي.
(٣) دَرَيَم دا چې دده سره دُوې فَرِشتې مُقَرّر شي چې دئ د وُرَځي او د شُپې د آفَتُونُو او نَاجُورَيُو څخه خُوَندي (مَحفُوظ) سَاتي.
(٤) څلورم دا چې د ثَوَابُونُو خَزَانَه ده ته ورکول کيږي.
(٥) پِنځم دا چې ده ته دهغه سړي برابر ثَوَاب ورکول کيږي چا چې د حضرت اسمَاعِيل (عليه السلام) د اَولادې څخه سَل (١٠٠) غُلامَان (مَرَيَان) آزاد کړي وي.
(٦) شُپَږم دا چې ده ته دُومره ثواب ملاؤيږي لکه ده چې د تَورَاة. انجِيل. زَبُور او قُرآنِ مجيد تلاوت کړئ وي.
(٧) اُوَم دا چې دده لپاره په جَنّت کي کُور (مکان) جوړ شي.
(٨) اَتَم دا چې د حُورُالعِين سره دده نکاح وکړل شي.
(٩) نَهَم دا چې دده پر سَر به د عِزّت تَاج کښېښول شي.
(١٠) لَسَم دا چې د کُور د اَويَا (٧٠) تَنُو (کَسَانُ) په اړه دده شَفَاعَت قبليږي..... دُعَاء او کَلِمَات دادي

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ. لَآاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَاللهُ اَکبَرُ وَسُبحَانَ اللهِ وَالحَمدُ لِلّٰهِ وَ اَستَغفِرُ اللهَ اَلَّذِي لَآاِلٰهَ اِلاَّ هُوَ الاَوَّلُ وَالآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالبَاطِنُ يُحيِ وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَايَمُوتُ بِيَدِهِ الخَيرُ وَهُوَ عَلٰي کُلِّ شَيئٍ قَدِيرٌ .

... د رحمتونو خَزَانَه ...

حضور (ﷺ) وفرمايل څوک چې دا کَلِمَات وَوَايِي او ددې په ذريعه سره د الله تعالٰي څخه د رَحمَت او بَخښنې دُعَاء وکړي نو الله تعالٰي دده

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

زر (۱۰۰۰) درجات بلند کوي. اويا زره (۷۰۰۰۰) فرشتې دده د استغفار لپاره تر قيامت پوري مقرر کوي. په کنزالعمال. طبراني او نورو کتابو کې دا حديث موجود دئ. کلمات دادي

بسم الله الرحمٰن الرحيم. اَلحَمدُ لِلّهِ الَّذِي تَوَاضَعَ كُلُّ شَيئٍ لِّعَظمَتِهِ. وَالحَمدُ لِلّهِ الَّذِي ذَلَّ كُلُّ شَيئٍ بِعِزَّتِهِ. وَالحَمدُ لِلّهِ الَّذِي نَفَعَ كُلُّ شَيئٍ لِّمُلكِهِ. وَالحَمدُ لِلّهِ الَّذِي اِستَسلَمَ كُلُّ شَيئٍ لِّقُدرَتِهِ .

... د ګناهونو. مَعَافِي. يَقِيني. په ګارنټي ...

حضرت ابوهريرة (رضي الله عنه) روايت کوي چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل څوک چې سل (۱۰۰) واره دا کلمات ووايي نو دهغه ټول ګناهونه معافيږي که څه هم د (سمندر) درياب د ځګونو په شان (ډير) وي. هغه کلمات دادي

سُبحَانَ اللهِ وَ بِحَمدِهِ .

... د الله تعالٰي د خوشحال کولو طريقه ...

حضور (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل چې هر مسلمان سهار او مابنام درې درې واره دا کلمات وايي نو الله تعالٰي لازمي (**حتمًا**) هغه بنده د قيامټ په ورځ راشي (خوشحال) کوي. (ترمذي) **دُعاء** داده

بسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ. رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَّبِالإِسلَامِ دِينًا وَّبِسَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ نَبِيًّا وَّرَسُولاً .

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... د ثواب پنځه اَعمال ...

حضور (ﷺ) یو وخت و **حضرت عَلي** (رضی اللہ عنہ) ته وفرمایل. ای **عَلي**! هره وُرَځ د شپې پنځه کارونه کوه بیا بیدبرَه.

(۱) څلور زره دینار صَدَقه (**خَیرَات**) کوه. بیا بیدبرَه.

(۲) یو **قرآن شَریف** وَایَه بیا بیدبرَه.

(۳) د **جَنّت قیمَت** اداء کوه بیا بیدبرَه.

(۴) د دُو جنګ زپلو (مُخَالِفین) ترمینځ **صُلح** کوه بیا بیدبرَه.

(۵) یَو **حَج** کوه بیا بیدبرَه.

حضرت عَلي (رضی اللہ عنہ) عَرض وکړئ یَارَسُولَ الله (ﷺ) دا خو یَو مَحَال (نَامُمکِن) کار دئ. دا زَه چیري کولائي شَم. بیا حضور (ﷺ) اِرشَاد وفرمایئ. چي

(۱) څلور واره **سُورَةُ الفَاتِحَه** یَعني اَلحَمدُ لِلّٰهِ الخ وَایَه بیدبرَه. ددې څخه به د څلور زره (۴۰۰۰) دینَار د صَدَقه کولو برابر ثواب ستا په اَعمَال نَامَه کي لیکل کیږي.

(۲) دري وَارَه قُل هُوَ اللهُ اَحَدٌ الخ وَایَه. بیدبرَه. د یوه قُرآنِ مجید برابر ثواب ستا په اَعمَال نَامَه کي لیکل کیږي.

(۳) لس وَارَه **دُرُود شریف** وَایَه بیدبرَه د جَنّت قِیمَت دي اداء کړي.

(۴) لس وَارَه اَستَغفِرُ اللهَ رَبِّي مِن کُلِّ ذَنبٍ وَّاَتُوبُ اِلَیهِ وَایَه. بیدبرَه. د دُو جنګ زپلو (مُخَالِفینُ) ترمینځ د صُلح کولو برابر ثَواب تاته ملاؤشو.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(۵) څلور واړه درَیمه کَلمه یعني سُبحَانَ الله وَالحَمدُ لِلّهِ وَلآاِلٰهَ اِلاّالله وَالله اَکبَرُ. وَلاَحَولَ وَلاقُوَّةَ اِلاَّ بالله العَلِيِّ العَظِیم . وایه بیدپرده. د یوه حج ثواب به تاته ملاؤ شي .

چې دایې واؤرېدل. نو **حضرت عَلي** (رضی الله عنه) عَرض وکړئ. یَارَسُولَ الله (صلی الله علیه وسلم) اُوس خو به زَه هره وُرَځ دغه اَعمال کوم بیا به بیدپرم .

... د حَاکم مخته حاضرېدل ...

(۱) چې د **حَاکم** یا **مَشر** یا **سَربَراه** مخته حاضرپرې نو دا آیت یَوَلس

(۱۱) واړه ووایه او د شَهَادَت پر ګوته **دَم** که بیا په هغه ګوته پر خپل **ټَندي** باندې **اَلف** کش که. انشآءالله حَاکم به مهرَبان شي. آیت دادئ

وَالله المُستَعَانُ عَلٰي مَاتَصِفُونَ .

(۲) چې **حَاکم** ته حاضرپرې یا **مَشر** یا **سَربَراه** چې هغه سخت طَبیعَت وي نو هغه ته د تُلو (حاضرېدو) څخه مخکې په اَودَس سره اُوه (۷) واړه **سُورَةُ الکَوثَر** ووایه. انشآءالله هغه به نَرم شي.

(۳) دا څلور حروف د خپل نَبسي لاَس پر ګوتو باندې دَم که. حَاکم ته سَلاَم وکه. او فَورًا مُټ بَند که. حَاکِم به مُطِیع او فَرمَانبَردَار شي. حُرُوف دادي

الف ... یَا ... سِین ... مِیم

... چې نوې مېوه مخته راشي ...

چې کله نوې مېوه مخته راشي نو دا **دُعَاء** دي وَوایِي. او په خپل اَولاَد کې تر ټولو کَشنې بَچي ته دي اَوّل هغه مېوه ورکړي. **دُعَاء** داده

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اَللّٰهُمَّ بَارِک لَنَا فِي ثَمَرِنَا. وَبَارِک لَنَا فِي مَدِينَتِنَا. وَبَارِک لَنَا فِي صَاعِنَا.
وَبَارِک لَنَا فِي مُدِّ نَا .

... د مريض د عيادَت د وخت دُعَاء ...

چي کله مريض ته ورشي نو دا دُعَاء دي وَوَايِي

لَاۤبَاۡسَ طُهُوۡرٌ اِنۡشَآءَ اللّٰهُ ... اَسۡأَلُ اللّٰهَ العَظِيمَ رَبَّ العَرۡشِ العَظِيمِ اَنۡ يَّشۡفِيکَ.

... چي د ژُوَند څخه عَاجِز شي ...

چي څوک د ژُوَند څخه نَاأُمِيد شي. د تکليف په وجه ژُوَند دې پر مُشکِل او ګران شي نو دا **دُعَاء** دي وَايِي

اَللّٰهُمَّ اَحۡيِنِي مَا عَلِمتَ الحَيَاةَ خَيرًا لِّي وَتَوَفَّنِي اِذَا عَلِمَت الوَفَاةَ خَيرًا لِّي .

... د حضرت عمر د شَهَادَت دُعَاء ...

حضرت سَهل بن حنيف (رضی اللہ عنہ) فرمايي چي حضرت محمّد مُصطفٰي (صلی اللہ علیہ وسلم) وفرمايل :-

څوک چي په رِشتِيَا زړه سره د الله تعالٰي څخه د شَهَادَت (مرګ) سُوَال وکړي نو الله تعالٰي ضرور هغه د شَهَادَت مرتبې ته رسوي که څۀ هم هغه پر خپله بِستَرَه باندې مَړ شي ... حضرت عمر (رضی اللہ عنہ) د شَهَادَت لپاره داد **دُعَاء** کوله

اَللّٰهُمَّ ارۡزُقۡنِي شَهَادَةً فِي سَبِيلِکَ وَ اجعَل مَوتِي فِي بَلَدِ رَسُولِکَ .

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... اَلرِّسَالَة المُسَمّاة بِ ...

... بُغيَةُ الشَّيمَا ...

-فِي خَوَاصِ-

اَسمَآءِ الحُسنٰي

... للشّيخ ...

عبدالمتين قُطَب

فَاضِل جامعة العلوم الاسلامِيّه عَلاّمَه بِنّوري تاؤن
كراچي

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... خَوَاصُ اَسمَاء الحُسنٰي ...﴾

د الله تعالٰي چي ګوم صِفَاتِي نومونه په قُرآنِ مجيد يا اَحَادِيثُو کي بيان شوي دَي. د هر نُوم ببلا ببل خَاصيّتونه دي. او هر نُوم جَلاَ جَلاَ اَثر لري. ددې نُومُونُو وَينَا او وَظِيفَه کول ډېر عَظِيم فضيلتونه او اَنوَارَات لري. **امامِ بُخَارِي** رح او **امامِ مُسلِم** رح دواړو د حضرت ابو هريرة (رضي الله عنه) رِوَايَت نقل کړي دئ. چي حضور (صلي الله عليه وسلم) وفرمائل

اِنَّ لِلّٰهِ تَعَالٰي تِسعَةً وَّتِسعِينَ اِسمًا: مِائَةً اِلاَّ وَاحِدَةً. مَن اَحصَاهَا دَخَلَ الجَنَّةَ

(مشکوة شريف. ص۱۹۹)

ترجمه :- بيشک د الله تعالٰي نَه نيوي (۹۹) يعني يَو کَم سَل نومونه دي. ګوم چاچي دا محفوظ کړل (يعني دا يې يَاد کړل. پر هغه يې اِيمَان راوړئ) هغه **جَنّت** ته ورسېدئ.

پام لرنه :- هسي د الله تعالٰي ببشماره نومونه دي. په دې حديث کي د هغه نومونو تَذکِرَه شوې ده چي څوک هغه يَاد کړي. محفوظ يې کړي. اِيمَان پر راوړي. د هغه سره د **جَنّت** وَعدَه ده.

په ډېر اِختِصَار تاسو ته موږ د الله تعالٰي د نومونو خَاصيّتونه بيانوُ.

هُوَ

﴿... اَللّٰهُ ...﴾

اَلَّذِي لآ اِلٰهَ اِلاَّ هُوَ

د خدائ پاک ذَاتِي نوم دئ.

(مَعبُود بَرحَق/خدائ تعالٰي/مَعبُود حقيقي)

خَاصيّت :- چي څوک هره وُرَځ زَر (۱۰۰۰) وَارَه دا وَايِي الله تعالٰي به

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کامل یقین ورنصیب کړي. څوک چې د جُمعَه په وُرځ پاک او صاف شي په خلوَت کې دُوَه سوه وارَه ووایِي خپل مَقصَد به آسان شي. چې هر رنګه مُشکِل مَقصَد وي.

﴿... اَلرّحمٰنُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

د خدائ پاک سره دا **وَصف** خَاص دئ.

(لوئ مهرَبان/زَبردَست **رَحم** کونکئ)

خَاصیّت :- چې څوک هر لمونځ وروسته سَل (۱۰۰) وارَه دا وایِي دهغَه د زړه څخه غَفلَت او نِسیَان (هیره) لیرې کیږي. او د دُنیا په مَعَامَلاتُ کې مرسته ملاوَیږي. چې دا نُوم ولیکي دغه (**څانښت**) په اُوبو کې واچوي د تَودې تَبِي څخه الله تعالٰی شِفَاء ورکوي. چې ظَالِم حَاکِم ته حاضریږي هغه وخت **یَارَحمٰنُ یَارَحِیمُ** وایِي دهغه د شَر څخه به محفوظ شي.

﴿... اَلرّحِیمُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(ډېر رَحم کونکئ)

خَاصیّت :- چې څوک هره وُرځ سَل (۱۰۰) وارَه ددې مَعمُول جوړ کړي هغه ته د الله تعالٰی رَحمَت نصیب کیږي. په زړه کې رِقّت او شَفَقَت پیدا کیږي. د خلکو زړونه ددې لپاره نَرم کیږي. چې ډېر ډېر یې وایِي هغه **مُستَجَابُ الدّعوَات** کرزي. چې څوک یَو څلو ښښت (۴۱) وارَه **یَارَحمٰنَ الدُنیَا وَرَحِیمَهَا** یو څلو ښښت (۴۱) وُرځِي ووایِي دهغه حَاجَت به پوره شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلمَلِکُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(د ټول جَهَان بَاچَا)

خَاصِیّت :- چې څوک د زَوَال پر وخت یَوسَل شَل (۱۲۰) وَارَه دا وَوَایِي هغه ته الله تعالیٰ د زړه صَفَایِي او غِنَاء ورکوي. چې څوک یې ډېر وَایِي د هغه نَفس به د هغه اطَاعَت کوي. عِزّت به ورته حَاصِل شي. که چیرې حُکمرَان د دې مَعمُول جوړ کړي نو هر قسم **فرَاعِنَه** (**سَرکَش او مُتَکبِّر خلک**) به دده **فرمانبَردَار** شي. چې د لُمَر راَختَلو وروسته د ډېر زړه (۳۰۰۰) وَارَه وَوَایِي چې هر مُرَاد غواړي هغه به پوره شي.

﴿... اَلقُدّوسُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(ډېر پاکبَاز)

خَاصِیّت :- چې څوک زَر (۱۰۰۰) وَارَه دا وَایِي د هر شي څخه به بېپرَوَاه شي (**حَتّٰی چې د نَاجَائِز شَهوَات څخه هم**). چې څوک یې په سَفَر کي همېشه وَایِي هغه به په هیڅ وخت ستړۍ نَه شي. چې پر **شِیرِینِي** یې د ډېر سوه نَه لَس (۳۱۹) وَارَه وَوَایِي په دُښمَن یې وخوري دُښمَن به مهرَبَان شي. چې همېشه د جُمعَه د لمونځ وروسته پر ډُوډۍ باندي **سُبّوحٌ قُدّوسٌ** لیکي او خوري یې. هغه به **فَرِشتَه سِفَت** اِنسَان شي.

﴿... اَلسّلَامُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(د ټولو نقائصُ. آفاتُ. کمزورۍ څخه پاک. بې عَیب ذَات)

خَاصیّت :- چې څوک همېشه د سَهَار د لمونځ وروسته زَر (۱۰۰۰) وَارَه وَایي. دهغه علم به زیَات شي. چې یَوسَل یَو دېرش (۱۳۱) یا یَوسَل یَوشپېتَه (۱۶۱) وَارَه ووایي پر مریض یې دَم (**چُف**) کي. مریض به جوړ شي. د هر لمونځ وروسته پنځه لَس (۱۵) وَارَه دا وَیل **اَللّٰهُمَّ یَاسَلَامُ سَلِّم** د هر قِسم سَلاَمَتئ لپاره مُفید دئ. چې څوک دا اسم دېرو وَایي یا یې ولیکي دځان سره کښیږدي د دُښمَن څخه به په **اَمَن** شي.

﴿ ... اَلمُؤمِنُ ... ﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(اَمَن او اَمَان ورکونکئ)

خَاصیّت :- چې څوک په کَثرَت سره دا وَایي پر اِیمَان به قَائم پاته شي. او مَخلُوق به دده مُطیع شي. چې څوک یَوسَل شپږ دېرش (۱۳۶) وَارَه دا اِسم وَایي د ظَالمَانُ د ظُلم او د جُملَه آفَاتُ څخه به محفوظ شي. پر ګوم چاچې خَوف او رُعب طَارِي شوئ وي هغه دي **یَاسَلَامُ یَامُؤمِنُ** وَایي. خُصُوصًا چې مُسَافِریې وَایي نو د اللہ تعالٰی لطرف څخه به **سَلَامَتِي** او **اَمَن** ورته نصیب شي.

﴿ ... اَلمُهَیمِنُ ... ﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(د ټولو نګهبَاني کونکئ)

خَاصیّت :- چې څوک غُسل وکړي. بیا په خلوَت کي په تَوَجّه سره

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لمونځ وکړي. او سَل (۱۰۰) واړه دا اسم ووايي دهغه په زړه کي به نُور پيدا شي **مُرَاد** به پوره شي او **لُوړ هِمّت** به الله ورکړي. چي څوک هره وُرځ نَه دپرش (۲۹) واړه دا وايي هغه ته به د هيڅ شي غَم نَه وي. چي همېشه دا اِسم وايي د هر دَوَل مُصيبَتُونو او بَلاګانُ څخه به محفوظ شي.

﴿... اَلعَزِيزُ ...﴾

(... جَل جَلالَہٗ ...)

(دَا دَوَل غَالب او طَاقتوَر چي د هيڅ چا څخه مَغلُوب نَه شي)

خَاصيّت :- چي څوک يې څلوېښت (۴۰) وُرځي څلوېښت څلوېښت (۴۰) واړه وايي الله تعالٰي به مُعَزّز او مُستَغنِي کړي. چي د سَهَار د لمونځ وروسته يو څلوېښت (۴۱) واړه وايي د چا مُحتَاج به نَه شي او د ذلّت وروسته به عِزّتمَند شي. چي د دُښمَن لښکر ته په لاَس سره اشَاره وکړي او اَويَا (۷۰) واړه دا اِسم ووايي د الله په حُکم سره به هغه لښکر شِکست وخوري.

﴿... اَلجَبّارُ ...﴾

(... جَل جَلالَہٗ ...)

(هغه ذَات چي وِيجَار کارونه او حالات صحيح کوي)

خَاصيّت :- چي سَهَار او مَابنَام يې دُوَه سَوَه شُپَږوِيشت (۲۲۶) واړه وايي هغه به د ظَالمَانُ د **ظُلم** او **قَهر** څخه محفوظ شي. چي بَاچَا يې ووايي بَل بَاچَا به پر ده غَالب نَه شي. چي څوک يې همېشه وايي هغه

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

به د مخلوق د **غیبت** او **بدګویي** څخه محفوظ شي. د دې سره چې **ذوالجَلَالِ وَالاِکرَام** ملاؤ کړي نو د حفاظت لپاره ډېر مُفید دئ.

﴿... اَلمُتَکَبِّرُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(د غټ عَظمَت خاوند)

خاصیّت :- چې څوک ځان په ستړئ نه کړي ډېر ډېر دا وَایي هغه ته به بلند قَدر او مَنزلت نصیب شي او هیڅ څوک دده مقابله نه شي کولائي. چې څوک د بې حَیایي څخه ژُغورَي نو لس (۱۰) وَارَه پر هغه وَوَایه چُف یې که. چې د بنځي سره د نژدېکت څخه مخکې لس (۱۰) وَارَه دا وَوَایي. الله تعالٰی به هغه ته نېک پَرهېزګاره زُوئ ورکړي. چې څوک یې یَووِیشت (۲۱) وَارَه وَایي هغه به په خُوب کې نه ښېریږي.

﴿... اَلخَالِقُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(پَیدا کونکئ)

خاصیّت :- چې نِیمَئ شُپَه تېره شي بیا یې څوک یَوَه ګنټه یا د دې څخه زِیَات دا اسم وَایي الله تعالٰی به دهغه زړه او چهرَه (مَخ) مُنَوّر کړي. چې د چا مَال یا زُوئ ورک شوئ وي چې پنځه زَره (۵۰۰۰) وَارَه وَوَایي زُوئ او مَال به پَیدا شي. چې زَر (۱۰۰۰) وَارَه وَایي هغه ته به **نَارِینه اَولَاد** نصیب شي. چې همېشه یې وَایي **الله تعالٰی** د هغه لپاره یوه **فَرِشته** پیدا کوي چې دده لخوا څخه عِبَادَت کوي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلبَارِئُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(رُوح پکښي اچونکئ/پَيدَا کونکئ)

خَاصِيّت :- چي **طَبِيب** يې په پَابَنْدي سره همېشه وَايِي نوپه لاَس کي به **شِفَاء** وي. چي دهَفته په وُرَځ يې سَل (۱۰۰) وَارَه وَايِي الله تعالٰي به **جَنَّتُ الفِردَوس** ورکړي. چي څوک يې همېشه وَايِي الله تعالٰي دهغه لپاره يَو **مُونِس** پيدا کوي. چي په کَثرَت سره دا اِسم وَايِي هغه ته الله تعالٰي د **صَنَائِعِ عَجِيبَه** جوړول آسَان کوي. چي وَچه بنځه اُوه (۷) رُوژې ونيسي. په اُوبُو سره رُوژَه افطَار کړي بيا يَويشت (۲۱) وَارَه **اَلبَارِئُ المُصَوِّرُ** وَوَايِي هغه ته به الله تعالٰي **نَارِينه اَولَاد** نصيب کړي.

﴿... اَلمُصَوِّرُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(صُورَت جوړونکئ)

خَاصِيّت :- چي څوک خپلي بِستَرې ته راشي بيا اُوَه (۷) وَارَه دا اِسم وَوَايِي د خپلي بنځي سره نِژدې بکت وکړي الله تعالٰي به **نيک اَولَاد** ورکړي. چي څوک دا اِسم ډېر ډېر وَايِي هغه ته هره مُشکِل کار آسَان کيږي. چي څوک اَوَدَس وکړي دهغه وروسته د شَهَادَت په ګوته سره پر خپل تَندِي باندي دا اِسم وليکي نو چي د هر چا سره ملاؤ شي هغه به دده دُوست شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلغَفّارُ ...﴾

(... جَلَّ جَلالُہٗ ...)

(ډېر معاف کونکئ)

خَاصِیّت :- چې څوک **یَاغَفّارُ** ډېر ډېر وَاِیي دهغه ګناهونه به معاف شي او نَفسَاني غلط خُوَاهشَات به ختم شي. چې څوک د جُمعَه په وُرَځ سَل (۱۰۰) وَارَه **یَاغَفّارُ اغفرلي ذُنُوبِي** وَایي هغه ته بَخښنه کیږي. او الله تعالٰی یې د قیامت په وُرَځ د خپل **لُطف** او **مَغفِرَت** اُمید وَار ګرزوي. چې د جُمعَه په وُرَځ یې سَل (۱۰۰) وَارَه وَایي دهغه څخه به د رِزق تَنګي لیري شي. نَاګُمَان رِزق به ورته ملاؤ شي.

﴿... اَلقَهّارُ ...﴾

(... جَلَّ جَلالُہٗ ...)

(هغه ذَات چې ټول مخلوقات قَابُو کولائي شي)

خَاصِیّت :- چې څوک حَاجَتمَند وي هغه دي په **مَسجِد** کي یا په **ګور** کي په لَڅ سَر باندي لاَسُونَه پورته کړي سَل (۱۰۰) وَارَه **یَاقَهّارُ** وَوَایي دهغه حَاجَت به پوره شي. څوک چې د اِشرَاق د لمونځ وروسته سَجدَه وکي په سَجدَه کي اُوَه (۷) وَارَه **یَاقَهّارُ** وَوَایي الله تعالٰی به هغه **غَنِي** کړي. د دُنبمَن د **مَغلُوب** کولو لپاره د سُنّت او فَرض په مینځ کي سَل (۱۰۰) وَارَه **یَاغَفّارُ** ویل ډېر مُفید دئ.

﴿... اَلوَهّابُ ...﴾

(... جَلَّ جَلالُہٗ ...)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(غټ فیّاض/ډېر زیات ورکونکئ)

خَاصیّت :- چې څوک هره وُرځ اُوه (۷) واړه وایي **مُستَجَابُ الدّعوَات** به شي. چې څوک یې د مَاخَستَن د لمونځ وروسته څورلس سوه څورلس (۱۴۱۴) واړه وایي هغه ته به پَرَخ رِزق ملاؤ شي. چې د څابښت د لمونځ وروسته د سَجده آیت وَوایي په سَجدَه کې اُوه (۷) واړه **اَلوَهّابُ** وایي د مخلوق څخه به بې پَرواه شي. د **ایمَان د حِفَاظَت** لپاره د هر لمونځ وروسته اُوه (۷) واړه دا آیت ویل مُجَرّب دئ

رَبَّنَا لَاتُزِغ قُلُوبَنَا بَعدَ اِذهَدَیتَنَا وَهَب لَنَا مِن لَّدُنکَ رَحمَةً اِنَّکَ اَنتَ الوَهَابُ .

﴿... اَلرّزّاقُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(بهتَرین رِزق ورکونکئ)

خَاصیّت :- چې په نَهار شَل (۲۰) واړه ددې ویل خپل مَعمُول جوړ کړي هغه ته به الله تعالیٰ دَاډَول **ذهن** ورکړي چې بَاریک او مُشکِلي خبري به ښه فَهمَولَایي شي. چې څوک د مَاخَستَن د لمونځ وروسته په لخ سَر **یَارَزّاقُ تَرزُقُ مَن تَشَآءُ یَارَزّاقُ** یَولس (۱۱) واړه وایي. په اَوّل او آخِر کې **دُرُود شریف** وایي. او یَو څلوېښت (۴۱) وُرځي دا عَمَل جاري وساتي پر هغه به د رِزق غَیبي دروازې خلاس شي.

﴿... اَلفَتّاحُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(د رِزق او **رَحمَت** دروازې خلاسونکئ)

خَاصیّت :- چې څوک خپل لاس پر سِینَه ونیسي د سَهار د لمونځ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وروسته يو اَو يا (۷۱) وارَه دا اسم وَايِي دهغه زړه به پاک او مُنَوّر شي. او د حَق لارِي **حِجَاب** به ځينې لَيرې شي (**حَق به ورته سکاره کيږي**). چې د چينې لوښي پر پلېټ يې وليکي او بيايې په ژَبه وَخَتې ذهن به تېز شي. او چې څوک يې ډېر ډېر وَايِي د **فُتُوحَاتُ** دروازې پر خلاس شي.

﴿... اَلعَلِيمُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(وَسِيع **علم** لرونکئ. ډېر زِيَات پُوه)

خَاصِيّت :- چې څوک **يَاعَلِيمُ** ډېر وَايِي پر هغه به د الله تعالٰي د مَعرِفَت دروازې خلاس شي. چې د الله څخه څه غُوارِي هغه به ژَر ورته ملاؤ شي. حَافظَه به تېزشَي. چې څوک د لمونځ وروسته سَل (۱۰۰) وَارَه **يَاعَالِمَ الغَيبِ** وَايِي الله تعالٰي به **صَاحِبِ کَشف** جوړ کړي. چې استخَارَه کول غواړي نو د جُمعَه په شُپَه په مَسجِد کي سَل (۱۰۰) وَارَه دا اِسم وَوَايَه. په مَطلُوبَه حال به خبر شي.

﴿... اَلقَابِضُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(رُوزِي تنګ کونکئ)

خَاصِيّت :- چې څوک يې هره وُرَځ دېرش (۳۰) وَارَه وَايِي اِنشَآءَالله پر دُښمَن به فَاتِح شي. چې څوک يې څلوېښت (۴۰) وُرَځې پر څلور يا څلوېښت د ډُوډَئ پر لُقمَه (ګولَه) باندي وليکي بيايې وخوري هغه به د لُوړِي او د قَبر د عَذَاب څخه محفوظ وي. چې څوک يې د شُپې په نِيمَئ کي وَايِي اِنشَآءَالله دُښمَن به **مَقهُور** او **مَغلُوب** وي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلبَاسِطُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(رُوزِي پَراخُونکئ)

خَاصِيّت :- چي څوک يې د څابښت د لمونځ وروسته لس (۱۰) وَارَه وَايِي هغه ته به په هره مَعَامَلَه کي کُشَادګي (پَراخي) نصيب شي. او اِنشَآءَاللّٰه په هيڅ وخت به د هيڅ چه مُحتَاج نَه شي. چي څوک يې د شپې په آخِرِي حِصّه کي لاَس پورته کړي لس (۱۰) وَارَه وَايِي همېشه به زړه خوشحال وي. چي څوک يې وليکي د ځان سره کښيږدي په هيڅ وخت به غَمجَن نَه شي.

﴿... اَلخَافِضُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(پَست او کښته کونکئ)

خَاصِيّت :- چي څوک يې پِنځه سَوَه (۵۰۰) وَارَه وَايِي اِنشَآءَاللّٰه حَاجَت به پوره. پرېشَانِي به ليري. د دُښمَن د شَر څخه به محفوظ شي. حِفَاظَتِ اِلٰهِي به هر وخت ورسره وي. چي څوک يې د هر د هر وَايِي د وخت حَاکِم به دده څخه راضي شي. چي څوک د ظَالِم څخه بېريږي هغه دې هره وُرَځ اَويَا (۷۰) وَارَه وَايِي د هغه د ظُلم څخه به محفوظ شي.

﴿... اَلرَّافِعُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(لوړه مرتبه او بُلند مقام ته رسونکئ)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خَاصِیّت :- چې څوک هره میاشته د څلور لَسَم په شُپَه چې نِیمَئ شُپَه تېره شي سَل (۱۰۰) وَارَه **اَلرّافِعُ** وَایِي الله تعالٰی به د مخلوق څخه بېنیاز کړي او مَالدَار به کړي. چې څوک یې دري سوه یَوپنځوس (۳۵۱) وَارَه وَایِي د مخلوق په مینځ کې به عزّتمَند شي. او چې اَویَا (۷۰) وَارَه وَایِي اِنشَآءَالله د سَرکَښ او ظَالمَانُ څخه به محفوظ وي.

﴿... اَلمُعزّ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(عزّت ورکونکئ)

خَاصِیّت :- چې څوک یې د دُوَه شَنبَه یا جُمعَه په شُپَه د مَابَنام د لمونځ وروسته څلو ښښت (۴۰) وَارَه وَایِي اِنشَآءَالله د مخلوق په زړو کې به دده **هَیبَت** پیدا شي. چې څوک یې یَوسَل څلو ښښت (۱۴۰) وَارَه یَو څلو ښښت (۴۱) وُرځې پرلَپسې وَوَایِي په دُنیَا او آخِرَت کې به عِزّت وموندي. د دُوَه شَنبَه یا جُمعَه په شُپَه دې شروع کړي.

﴿... اَلمُذلّ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(ذلّت ورکونکئ)

خَاصِیّت :- چې څوک یې پِنځه اَویَا (۷۵) وَارَه وَوَایِي په سَجدَه کې دُعَاء وکړي الله تعالٰی هغه دُعَاء قبلوي. چې څوک د ظَالِم یا حَاسِد څخه بېریږي هغه دي پِنځه اَویَا (۷۵) وَارَه یا یَوویشت وَارَه (۲۱) وَوَایِي سَجدَه دي وکړي. دا دي وَوَایِي ,, **اِئ الله مَا د فُلَانِي ظَالِم څخه وَسَاتِي** ،، حَق تَعَالٰی به هغه ته اَمَان ورکړي. چې ستا پر یَوچا **حَق** وي

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

هغه په دي کي تّال مَتُول کوي نو دا اِسم ډېر وَايَه خپل **حَق** به درکړي.

﴿... اَلسّمِيعُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(ښَه اَورېدُونکئ)

خَاصِيّت :- چي څوک يې د جُمعَرَات په وُرَځ د څابښت د لمونځ وروسته پنځه سوه (۵۰۰) وَارَه وَايِي اِنشَآءَاللّٰه **مُستَجَابُ الدّعوَات** به شي. چي څوک يې ډېر ډېر وَايِي که په عُوَبُو دُرُوند وي نو قُوّتِ سَمَاعَت به صحيح شي. چي څوک يې د جُمعَرَات په وُرَځ د سَهَار د سُنّتُو او فَرضُ په مينځ کي سَل (۱۰۰) وَارَه وَايِي هغه ته به اللّٰه تعالٰي خَاص نَظَر ورکړي.

﴿... اَلبَصِيرُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(ښَه ليدُونکئ)

خَاصِيّت :- چي څوک د جُمعَه څخه مخکي يا وروسته سَلُ (۱۰۰) وَارَه **يَابَصِيرُ** وَايِي دهغه په سترګو کي به اللّٰه تعالٰي رَنَا (رُونَا) او په زړه کي به نُور پيدا کړي. او هغه ته به د صَالِح اَعمَالُ او اَقوَالُ توفِيق ورکړي. چي څوک دا ډېر ډېر وَايِي د سترګو د اَمرَاضُ څخه به محفوظ شي. چي څوک يې هره وُرَځ د مَاځيګر د لمونځ وروسته اُوَه (۷) وَارَه وَايِي د نَاکهَانِي مرګ څخه به محفوظ شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلحَكَمُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(حَاكِمِ مُطلَق)

خَاصِيّت :- چي څوكه د شپې په آخِرِي حِصّه كي نَه نِيوِي (۹۹) وَارَه په اَودَس سره دا اِسم وَايِي الله تعالٰي به دده زړه د خپلو **اَسرَارُ** او **اَنوَارُ** مَحَل وګرزوي. چي څوک دا اِسم د جُمعَه په شُپَه په دُومرَه اَندَازَه وَايِي چي بې حَال او بې خُود شَي نو زړه ته به الله تعالٰي **كَشف** او **الهَام** نصيب كړي. چي څوک د پِنځو لمونځو وروسته اَتيَا (۸۰) وَارَه **اَلحَكَمُ** وَايِي هغه به د هيڅ څا مُحتَاج نَه شي.

﴿... اَلعَدلُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(سَمَه انصَاف كونكئ)

خَاصِيّت :- چي څوک دا اِسم وَوَايِي. او د جُمعَه په شُپَه يې د ډُوډَئ پر شَل (۲۰) لُقمُو (**ګولُو**) باندي وليكي بيايې وَخُورِي نو د هغه لپاره به زړونه مُسَخّر شي. چي څوک يې د هر لمونځ وروسته وَوَايِي هغه ته به د غَيب څخه **رُوزِي** او د **نيک عَمَل** تَوفِيق ورته ملاؤ شي. چي د مَاښَام د لمونځ وروسته زَر (۱۰۰۰) وَارَه وَوَايِي د آسمَانِي آفَتُو څخه به محفوظ شي.

كفايت دينى كتب خانہ ٹيلى گرام چينل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَللّطِيفُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(بَاريک بِين/ پر بَنده ګانُ **نَرمي** کونکئ)

خَاصيّت :- چې څوک په فَقر/ پريشَاني/ نَاجُوړي/ تَنهَايي/ بيکسي او مُصيبَت کي مُبتَلاء وي هغه دي په دَې طريقه سره اَودَس وکړي دُوَه رکعته لمونځ دي وکړي او خپل مَطلَب او مَقصَد دي په زړه کي وَنيسي بيادي سَل (۱۰۰) وَارَه دا اِسم وَوَايي. اِنشَآءَاللّٰه مَقصَد به پوره شي. هره وُرَځ د **تَحِيّةُ الوُضُوء** وروسته (د **اَودَس دوه رکعته دي وکړي بيا**) سَل (۱۰۰) وَارَه ددې وَيَل د **لُوبُو** د رِشتې د ملاؤبدو لپاره مُفيد دئ.

﴿... اَلخَبِيرُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(د پر خَبَردَارَه/ په هره خَبَره آګاه)

خَاصيّت :- چې څوک اُوَه (۷) وُرَځي پرلَپسې ددې **وِرد** کوي د اللّٰه تعالٰي لطرف څخه ده ته **رُوحَانيّت** نصيب کيږي چې په مَطلُوبَه کارونو کي به دده رِهنَمَايي کوي. چې د **مُؤذي** يا **نَفس اَمّارَه** په لاَس کرفتَار وي هغه دي د پرده پر ددې **وِرد** کوي اِنشَآءَاللّٰه خَلاَص به شي. د اِستِخَارې لپاره دي يَو څلوېښت (۴۱) وُرَځي **يَاخَبِيرُ اَخبِرنِي** دري دري سَوه (۳۰۰) وَارَه وَوَايي. بيا دي د ضرورت پر وخت دري سوه وَارَه وَوَايي بِيدَه دي شِي. حَال به ورته معلوم شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلحَلِيمُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(ډېر بُردبارہ)

خَاصِيّت :- چې څوک يې د مَاپُنبِين د لمونځ وروسته نه (۹) وَارَه وَايِي هغه به په تول مخلوق کې **سُرخ رُو** وي. چې څوک يې پر کاغَذ وليکي په اُوبو کي واچوي بيا هغه اُوبَه په کَښت کي وَپَاشي نو کښت او زِرَاعَت به د هر آفَت څخه محفوظ او بَابَرکَت شي. چې څوک دا وَايِي هغه به **حَلِيمُ الطّبع** شي. صَبر او سُکون به په زړه کي پيدا شي.

﴿... اَلعَظِيمُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(د بُزرګئ او عَظمَت خاوند)

خَاصِيّت :- چې څوک د حُکمرَان څخه خَوفزَدَه وي هغه دي دُوَه لَس (۱۲) وَارَه دا وَوَايِي پر ځان دي دَم کړي. اِنشَآءَاللہ هغه به نَرم شي. چې څوک ډېر ډېر دي **ورد** کوي عزّت به نَصِيب شي او د هر مَرَض څخه به شِفَاء وموندي. چې اُوَه (۷) وَارَه دا اسم وَوَايِي پر اُوبو يې دَم کي هغه اُوبَه وچيښي اِنشَآءَاللہ د **نَس دَرد** به نَه وَوِينِي.

﴿... اَلغَفُورُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(ډېر بَخښنکونکئ)

خَاصِيّت :- چې څوک دا اسم ډېر ډېر وَايِي د زړه څخه به اِنشَآءَاللہ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سیَاهي لیري شي. د **سل** او **دِق** مریض یا د **سَر** د **دَرد** مریض یا **غَمجَن** انسَان ته پر کاغَذ ولیکه بیا پر ډُوډۍ باندي د هغه نَقش جَذب کړه وخوره انشَآءَاللّٰه شِفَاء به وموندي. چي څوک یې په کَثرَت سره وَایِي د بَدُو اَخلاَقُ او رُوحَاني او ظَاهِرِي اَمرَاضُ څخه به نِجَات وموندي. په **مَال** او **اَولاَد** کي به بَرَکَت پیدا شي.

﴿... اَلشَّکُورُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(قَدَردَان/ پر لږ عَمَل ډېر ثَوَاب ورکونکئ)

خَاصِیّت :- چي څلوېښت (۴۰) وَارَه یې پر اُوبُو وَوَایِي هغه اُوبه پر ستړکو وَپَاشي د ستړکو دِیدَ به تېز شي. چي د سَالنډۍ مریض وي یا ستړئ وي یا یې اَندَامُونَه ډېر دَرَانَه (وَزنِي) وي دا اسم دي ولیکي پر بَدَن دې تیر کړي. چي مُفلِس یې یَو څلوېښت (۴۱) وَارَه وَایِي انشَآءَاللّٰه غَنِي به شي. چي څوک یې هره وُرَځ پِنځه زَرَه (۵۰۰۰) وَارَه وَایِي د قِیَامت په وُرَځ به بَلَند مرتبه ورته ملاؤ شي.

﴿... اَلعَلِيّ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(ډېر بُلَند او ډېر بَالاَ)

خَاصِیّت :- چي څوک یې پر **وَرَم** یعني **پَارِسُوب** باندي درې وَارَه وَوَایِي چُو (**چُف**) یې کي انشَآءَاللّٰه صِحّت یَاب به شي. که دا اسم ولیکې د کشنِي په غَارَه وَخَړوې نو هغه به ډېر ژَر **خُوَان** شي. که مُسَافِر ولیکي د ځَان سره کښیږدي نو ډېر ژَر به د خپلو عَزِیزَانُ سره یَوځَائ

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

شي. چي د دې سره **اَلعَلِيمُ** هم وَايِي نو د مُشَائِخُ. بُزرگانُ. طَلَبَاء او سَالِکِينُ لپاره دا په غَټو اَذکارُ کي شمېرل کيږي.

﴿... اَلکَبِيرُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(ډېر غَټ)

خَاصِيّت :- چي د خُوراک پر شي يې وَاپې **مېږه** او **مَينَه** يې وخوري نو د دُوئي تر مينځ به **اُلفَت** او **مُحَبّت** پيدا شي. چي څوک د خپلي عُهدې (رُتبې) څخه مَعزُول (لېرې) شوئ وي هغه دي اُوه (۷) روژې وَنيسي او هره وُرَځ دي زَر زَر (۱۰۰۰) وَارَه **يَاکَبِيرُ** وَايِي نو پر خپله عُهدَه به بَحَال شي بُزرگي به نَصِيب شي. چي څوک يې سَل (۱۰۰) وَارَه هره وُرَځ وَايِي په مخلوق کي به عزّتمَند وي.

﴿... اَلحَفِيظُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(د ټولو مُحَافظ)

خَاصِيّت :- چي **يَاحَفِيظُ** ډېر وَايِي او دُعَا سره ليکلئ کښېږدي انشَآءَاللّٰه د هر **خَوف**. **خَطرې**. **نُقصَان** او **ضَرَر** څخه به محفوظ وي. چي څوک دا اسم وليکي د دُعَا سره کښېږدي هغه به د دُوبېدُولُو. سُوځلُو. پېرَانَانُ او نَظَربَد څخه محفوظ وي. چي د مَابنَام د لمونځ وروسته قبلَه ته مُخَامَخ **يَاحَافِظُ يَاحَفِيظُ يَارَقِيبُ يَامُجِيبُ يَااَللّٰهُ يَااَللّٰهُ** يَرځلو ښښت (۴۱) وَارَه وَايِي د غَيب څخه به رُوزِي ورته ملاؤ شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلمُقِیتُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(هغه **کامِلُ القُدرَت** ذات چې هر شي ته خپل خُوراک ورکوي. غذا بَخش)

خَاصِیّت :- چې ستر ګې سَرې وي. دَرد کوي لَس (۱۰) واړه وَایه دَم یې که. چې څوک دا اسم د **اَلقَائِمُ** سره یوځای د هره لمونځ وروسته اُوه (۷) واړه وَایي هغه به ذ سَل (۱۰۰) دَائمي اَمرَاضُ څخه شِفَاء وموندي. چې هره وُرځ اُوه (۷) واړه پر اُوبو وَایي چیښي یې هغه ته به د غَیب څخه رُوزي ملاؤ شي. چې د رُوژَه دَارد هَلاکَت خَطرَه وي سَل (۱۰۰) واړه دې پر **ګُل** وَوَایي هغه دې بُوئي کړي طَاقَت به پیدا کړي.

﴿... اَلحَسِیبُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(د پر بَنَه حِسَاب اخستونکئ)

خَاصِیّت :- چې د غَلَه. حَاسِد. هَمسَایَه. دُښمَن. نَظَربَد یا د ستر ګو د زَخم خَطرَه وي نو یوه هَفتَه د لُمَنز د راختو څخه مخکې او مَابنَام د لُمَنز د پرپوتُو څخه مخکې اَویَا (۷۰) واړه دا وَایَه **حَسبِیَ اللّٰہُ الحَسِیبُ**. د هفتې د تېرېدو څخه مخکې به الله تعالٰی **اَمن** درنصیب کړي. ټول کارونه به صحیح شي. د جُمعَرَات د وُرځي څخه شروع که. که په حِسَاب کې د تَشَدّد یا رِشتَه دَارَانُ لخوا څخه خَوف وي نو اُوه (۷) وُرځي د **طُلُوعِ آفتَاب** او **غُرُوبِ آفتَاب** څخه مخکې شَل (۲۰) واړه دا وَایَه.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلجَلِيلُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(د غټ شان والا)

خَاصِيّت :- چې څوک يې هره وُرځ درې اَويَا (۷۳) وَارَه وَايِي د وَقَار او عزّت مَالک به شي. چې څوک لس (۱۰) وَارَه دا اِسم پر خپلو اَسبَابُ بَاندي وَوَايِي د غَلا کېدو څخه محفوظ شي. چې څوک يې ډېر ډېر وَايِي. په **مُشک** او **زَعفَرَان** سره وليکي **تعويذ** د ځان سره کښيږدي او په اُوبو کې (**خَابښت**) وچښي **عِزّت. مَنزَلَت. قدر** او **مرتبه** به الله ورکړي.

﴿... اَلکَرِيمُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(غټ سَخي او فَيّاض)

خَاصِيّت :- چې څوک هره وُرځ **يَا کَرِيمُ** وَايِي په دغه وَيلو کې بيديږي. هغه ته به الله تعالٰي د عُلَمَآء او صُلَحَآء په مينځ کې عزّت ورکړي او د غَيب څخه به رُوزي ورته ملاؤ شي. چې څوک په **کَثرَت** سره **اَلکَرِيمُ ذُو الطَّولِ الوَهَّابُ** وَايِي دهغه په اَسبَابُ او اَحوَالُ کې به بَرکَت پيدا شي.

﴿... اَلرَّقِيبُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(ډېره ښه نگرَاني کونکئ)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خَاصِيّت :- چي څوک دا اِسم وَايِي **مَال** او **عَيَال** به محفوظ وي. چي شَئ يې وُرک شي نو چي دا اِسم ډېر ډېر وَايِي هغه وُرک شئ به پيدا شي. چي د **اِسقَاطِ حَمَل** خَطرَه وي پر حَامِلَه يې اُوَه (۷) وَارَه وَوَايَه حَمَل به محفوظ شي. چي څوک خپل مَال يعني **مُوټَر** او **مُوټَرسَائِيکل** ودروي دا اِسم دي پر وَوَايِي اِنشَآءَاللّٰه محفوظ به وي. چي پر خپل اَولَاد مَينَه يَا مَال يې اُوَه (۷) وَارَه يا اَويَا (۷۰) وَارَه وَوَايې **چُفَ** يې کې هغه به د هر قِسم **دُښمَنَانُ**. **پېرَانَانُ** او **آفَتُونُو** څخه محفوظ شي.

﴿... اَلمُجِيبُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(دُعاء اَورېدُونکئ او قَبلُونکئ)

خَاصِيّت :- چي څوک دا اِسم ډېر ډېر وَايِي اِنشَآءَاللّٰه دهغه دُعَاءګانِ به د اللّٰه په دَربَار کي قبول شي. چي دا اِسم د ځَان سره ليکلئ کښېږدي د اللّٰه تعالٰي په اَمَان کي به وي. چي د **سَر د دَرد** (دَرد) لپاره دري وَارَه وَوَايي دَم يې کي نو **دَردِسَر** به ختم شي. چي څوک د **طُلُوعِ آفتَاب** پر وخت پِنځه پِنځوس (۵۵) وَارَه وَيُولُو معمول جوړ کړي هغه به **مُستَجَابُ الدّعوَات** شي.

﴿... اَلوَاسِعُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(وَسعَت ورکونکئ پَرَاخي راوستونکئ)

خَاصِيّت :- چي څوک دا اِسم ډېر ډېر وَايِي ظَاهِرِي او بَاطِني غِنَاء به نصيب شي. عزت. حَوصَلَه. بُردُبَارِي. وَسعَت قَلبِي او د زړه صَفَايِيَ به

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نصیب شي. چي لږم يې وخوري اَويا (۷۰) وارَه دا وَوايَه د **زَهر** اَثر به ختم شي. د رِزق د وُسعَت لپاره چي څومره ډېر ډېر وآيِي هغونه به رِزق ډېر شي. چي دا اِسم وايِي **مَلَائِکَه عظَام** پر نازليږي.

﴿... اَلحَکِيمُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(د غَټ حِکمَت والا)

خَاصِيّت :- چي څوک **يَاحَکِيمُ** ډېر ډېر وَايِي پر هغه به الله تعالٰي د **علم** او **حِکمَت** دَروازې خلاس کړي. **لَطِيف** او **بَارِيک** نُکتې به پر ژَبه جاري شي. چي د چا يو کار نَه پوره کيږي هغه دي په پابَنْدي سره دا اِسم وايِي انشَآءَاللّٰه کار به پوره شي. چي څوک د مَاپښين د لمونځ وروسته نِيوي (۹۰) وارَه دا اِسم وايِي په تول مخلوق کي به سُرخ رُوئ شي.

﴿... اَلوَدُودُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(د نېک بَندَه ګانُ سره تَرحَد زِيَات مُحَبّت کونکئ)

خَاصِيّت :- چي څوک زَر (۱۰۰۰) وارَه پر دُودَئ **يَاوَدُودُ** دَم (چُف) کړي مېړه او مَينَه يې وخوري د دُوئي تر مينځ به مُحَبّت پيدا شي. چي د چا زُوئ په بَدُو بَدُو اَخلاَق کي مُبتَلاء وي هغه دي زَر (۱۰۰۰) وارَه د جُمعَه په وُرَځ پر مُعَطّر شِيرِينِي باندي وَوايِي او دُوَه رکعت لمونځ دي اداء کړي او هغه شِيرِينِي دي په زُوئ وَخُورِي اِنشَآءَاللّٰه صَالِح به شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلمَجِيدُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(غَمتُ بُزرگ)

خَاصِيّت :- چې څوک په خپلو ملګرو (**اَنهِيوَالاَنُ**) کې عِزّت او حُرمَت نَه لري هغه دي هر سَهَار نَه نِيوِي (۹۹) وَارَه دا اِسم وَايِي پر ځان دي دَم کوي اِنشَآءَاللہ عِزّت او حُرمَت به پيدا کړي. چې د ګرمئ په مُوسَم کې وَايِي هغه به د تَندِي څخه محفوظ وي. چې څوک شَل (۲۰) رُوژې وَنيسي او د افطَار پر وخت اُوَه پِنځوس (۵۷) وَارَه دا اِسم وَايِي هغه به د **مُؤذِي اَمرَاضُ** څخه محفوظ وي.

﴿... اَلبَاعِثُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(هغه ذَات چې مَړي ژُوَندي کوي)

خَاصِيّت :- چې څوک دا اِسم ډېر ډېر وَايِي **خَوفِ الٰهي** به پر غَالب وي. چې هره وُرَځ پر سِينَه لاَس کښيږدي سَل (۱۰۰) وَارَه **يَابَاعِثُ** وَايِي د هغه زړه به اللہ تعالٰي د **علم** او **حِکمَت** څخه ډک کړي. چې څوک هره وُرَځ سَل (۱۰۰) وَارَه خپل مَعمُول جوړ کړي د ده څخه به نيک اَعمَال صَادِرِيږي د بَد اَعمَالُ څخه به محفوظ وي. چې اُوَه (۷) وَارَه وَوَايِي پر ځان يې **چُف** کړي د حَاکِم مخته وُلاړ شي هغه به پر ده مِهرَبَان شي.

﴿... اَلشَّهِيدُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(حَاضِر و نَاظِر / هغه خَبَردَارَه چې دده د علم څخه هیڅ شَئ پټ نَه وي)
خَاصِيّت :- چې د چا **مَينَه** يا **اَولَاد** نَافَرمَان وي هغه دي سَهَار دهغه پر تَندي لاَس کښيږدي يَو ويشت (۲۱) يا يَو دېرش (۲۱) وَارَه **يَاشَهِيدُ** وَوَايِي دَم (**چُف**) دې کي فَرمَانبَردَار به شي. چې څوک يې په پَابَندي سَره وَايِي اِنشَآءَاللّٰه د ګناهونو څخه به پَرهېزګاري نصيب شي. د **اَهلِ مُرَاقبه** او د شَهَادَت تَمَنّا کونکو لپاره دا اِسم ډېر مُفِيد دئ :

﴿... اَلحَقّ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُهٗ ...)

(ثَابِت او بَرحَق)

خَاصِيّت :- چې هره وُرَځ زَر (۱۰۰۰) وَارَه دا وَايِي دهغه اَخلَاق به صحيح شي. د طَبِيعَت اصلَاح به وشي. چې يَو شَئ وُرک شي پَاک څلور ګُونَجَ کاغَذ راوخلَه پر هر ګُونَج يې **اَلحَقّ** وليکه او نِيمَه شُپَه کاغَذ پر وَرغَوي باندي کښيږده تر آسمان لاندي ودرېږه او دا اِسم نَه نيوي (۹۹) وَارَه وَوَايَه اِنشَآءَاللّٰه **وُرک شَئ** به پَيدَا شي. که **قَيدي** په نِيمَه شُپَه کي په لَخ سَر يَو سَل اَتَه (۱۰۸) وَارَه دا اِسم وَوَايِي نو د **قَيد** څخه به خلاص شي.

﴿... اَلوَكِيلُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُهٗ ...)

(غَټ کارسَاز)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خَاصِيّت :- چي هره وُرَځ د مَاځيګر پر وخت اُوَه (۷) وَارَه دا اسم وَايِي هغه به د الله تعالٰي په پَنَاه کي وي. چي څوک د بَدُو کارو څخه نَه شي مَنعَ کېدلائي هغه دي لَس (۱۰) وَارَه دا اسم وَايِي پر ځان دي دَم (چُف) کوي او دا اسم دي وليکي **ځَابِسْت** دئ په اُوبو کي هم وَچيبنِي اِنشَآءَالله د بَدُو کارو څخه به بَچ شي. د هر حاجت لپاره د دې ډېر وَيل مُفِيد دئ.

﴿... اَلقَوِيّ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(د ډېر طَاقَت او قُوّت والا)

خَاصِيّت :- چي کَم هِمّت انسَان يي وَايِي بَاهِمّت به شي. چي کمزور انسَان يي وَايِي زُورَور به شي. چي مَظلُوم يي د خپل ظَالِم د مَغلُوبوُلو لپاره وَايِي اِنشَآءَالله ظَالِم به مَغلُوب شي. چي څوک دا اسم ډېر ډېر وَايِي هغه به د قُوّت مالک شي او ډېر ژَر به غَټ مَنصَب ته ورسيږي. چي د جُمعَه په دُوَيَم سَاعَت کي دا اسم ډېر وَايِي **نِسيَان** به ختم شي.

﴿... اَلمَتِينُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(د قُوّت او اقتدَار والا)

خَاصِيّت :- چي د ګُومي بنځي **شِيدِي** کَږ وي يا نَه وي هغې ته **اَلمَتِينُ** پر کاغَذ وليکه د دې **ځَابِسْت** اُوبه دي وَچيبنِي اِنشَآءَالله بنې شِيدِي به پيدا شي. چي پر فَاسِق هَلک يا انجِلئ باندي لَس (۱۰) وَارَه **اَلقَوِيّ اَلمَتِينُ** وَوَايي د هغه اِصلَاح به وشي. چي څوک مُلکي **مَنصَب** غواړي

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

هغه دي د اتوار په وُرځ په اَوّل سَاعَت کي دري سوه شپېتَه (۳۶۰) وَارَه په دغه نِيّت وَوَايِي اِنشَآءَاللّٰه مَنصَب به ورته ملاؤ شي.

﴿... اَلوَلِيّ ...﴾

(... جَلّ جَلَالَہٗ ...)

(مَددګار/حمَايَتي)

خَاصِيّت :- چي څوک دا اِسم ډېر وَايِي اِنشَآءَاللّٰه هرچاته به مَحبُوب شي. وِلَايَتِ عُظمٰي به ورته ملاؤ شي. د شَيَانُ حَقَائِق به پرده باندي ښکاره شي. چي خپلي مَيني ته نژدې ېکيږي وَوَايِي نو يَوبَل ته به په کار ورشي. چي څوک د خپلي مَيني د عَادَتُونو څخه خوشحال نَه وي چي ددې مَختَه ځي نو دا اِسم دي وَايِي اِنشَآءَاللّٰه نېک خَصلَت به شي.

﴿... اَلحَمِيدُ ...﴾

(... جَلّ جَلَالَہٗ ...)

(قَابِلِ تَعريف. د هر ډَوَل بَنَه صِفَاتُ مَالک)

خَاصِيّت :- چي څوک پِنځه څلوېښت (۴۵) وُرځِي پَرلَپسې په تَنهَايِي کي دري نِيوِي (۹۳) وَارَه **يَاحَمِيدُ** وَايِي دهغه ټول بَدعَادَتُونَه به لِيري شي. چي څوک پُچ ګُوئي (يعني د خُولې بَدګُوئي) وي او د بَدُو خبرو څخه ځان نه شي ساتلائي هغه دي پر پِيَالَه (ګِلَاس) باندي **اَلحَمِيدُ** ولِيکي بيادي نَه نِيوِي (۹۹) وَارَه وَوَايِي دَم دې کي. همېشه دي په دغه پِيَالَه يا ګِلَاس کي اُوبَه چِيښِي. د فُحش ګُوئي څخه به په اَمَان شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلمُحصِي ...﴾

(... جَلَّ جَلالَہٗ ...)

(شُمَار کونکئ/احَاطَه کونکئ)

خَاصِيّت :- چې د جُمعَه په شُپَه يې زَر (۱۰۰۰) وَارَه ووَايِي الله تعالٰي به د قِيَامَت د حِسَاب او کِتَاب څخه نجَات ورکړي. چې دُوډئ لس ټُکړې کې پرهره ټُکړه باندې شَل شَل (۲۰) وَارَه دا اِسم ووَايِي بيايې وخورې الله تعالٰي به مخلوق ستا لپاره مُسَخّر کړي. چې څوک دا اِسم ډېر ډېر وَايِي د ګناهونو څخه به بَچاؤ وي او د الله په پَنَاه کې به وي.

﴿... اَلمُبدِئُ ...﴾

(... جَلَّ جَلالَہٗ ...)

(اَوّل وَار پيدا کونکئ)

خَاصِيّت :- چې څوک د دې اِسم **وِرد** کوي دهغه د ژَبې څخه به صحيح او سَمِي خبرې جاري کيږي. چې دا اِسم ډېر ډېر وَايِي د ګناهونو څخه به محفوظ شي او نېک اَفعَال به ځيني صَادريږي. چې دا اِسم وليکي د ځان سره کښيږدي الله تعالٰي به د تولو **بَلِيّاتُ** څخه نجَات ورکړي. چې مَال يې وُرک شوئ وي دا اِسم وَايِي هغه مَال به ورته ملاؤ شي.

﴿... اَلمُعِيدُ ...﴾

(... جَلَّ جَلالَہٗ ...)

(دُوَيَم وَار ژُوندَئ کونکئ)

خَاصِيّت :- چې انسَان يا حَيوَان وُرک شوئ وي چې د ګور تول

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

انسانان بیدہ شي نو د ګور په څلور سره ګونجان کي اویا اویا (۷۰) واړه **یَامُعِیدُ** وواید. انشآءالله ورک به په اوه (۷) ورځي کي بېرته راشي. چي په یو کار کي مُتَحَیّر (**حَیرَان**) وي نو زر (۱۰۰۰) واړه دا اسم ووایه شک او تَحَیّر او تَرَدّد به دي ختم شي.

﴿... اَلمُحیِي ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(ژوندۍ ورکونکئ)

خَاصِیّت :- چي د چا د قهر څخه بېریږي هغه دي پر ډوډۍ اته پنځوس (۵۸) واړه دا ولیکي بیادي وخوري انشآءالله محفوظ به شي. چي دا اسم په پر وایي دهغه زړه به مُنَوّر شي. چي نه اویا یعني یو کم اتیا (۷۹) واړه دا اسم ووایي پر ځان یې دَم کي هغه به د هر قسم قَید او بَند څخه محفوظ وي. چي درد وي یا د یو اَندام د ضَائع کېدو خَطره وي نو اوه (۷) واړه دي **اَلمُحیِي** ووایي انشآءالله جوړ به شي.

﴿... اَلمُمِیتُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(مړ ورکونکئ)

خَاصِیّت :- چي څوک دا اسم دُومره زیات ووایي چي پر ده باندي حَال طَاري شي او بیا د ظَالِم او فَاسِق د هَلاکت دُعَاء وکړي هغه ظَالِم او فَاسِق به هَلاک شي. چي څوک په اِسراف کوي یا یې نَفس پر عِبَادَت باندي نَه راځي هغه دي دا اسم په پر وایي. یوه طریقه یې داده چي بیدیږي پر سینه دي لاس کښیږدي **اَلمُمِیتُ** دي وایي وایي په دغه کي

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دي بِيدَه شي اِنشَآءَالله نَفس به ثَابِع شي.

﴿... اَلحَيّ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(همېشه ژوندئ)

خَاصِيّت :- چي څوک هره وُرځ دري واړه د **اَلحَيّ** وِرد کوي په هيڅ وخت به نَاجُوړ (مَريض) نَه شي. چي پر مَريض باندي زَر (۱۰۰۰) واړه دا اِسم وَوَايِي اِنشَآءَالله دهغه عُمر به وُږد شي او رُوحَاني قُوّت به زِيَات شي. چي يَوسَل شَل (۱۲۰) واړه دا اسم پر کاغَذ وليکي د کُور پر دَروازَه يې وځړوي نو د کُور ټول اِنسَانَان به د خَطرنَاک اَمرَاضُ څخه محفوظ شي.

﴿... اَلقَيّومُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(هغه ذات چي ټولو ته سَهَارَا ورکړي ده)

خَاصِيّت :- چي څوک ډېر بِيدِيرِي دهغه پر سَر باندي دا آيت

الم. اللّٰهُ لا إِلَـٰـهَ إِلاّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ.

وَوَايَه دَم يې که اِنشَآءَالله خُوب به وَتَښتي. چي څوک يې هره وُرځ په تَنهَايِي کي اَويَا (۷۰) واړه وَايِي ذِهن به تېز شي حَافظَه به قَوِي شي زړه به مُنَوّر شي. چي يَو څلو ښت (۴۱) وُرځِي دا دُعَاء وَوَايِي اِنشَآءَالله دهغه مَرزړه به ژوندئ شي. **دُعَاء** داده

يَاحَيُّ يَاقَيُّومُ لآاِلٰهَ اِلاّ اَنتَ اِنِّي اَسئَلُکَ اَن تُحيِيَ قَلبِي بِنُورِ مَعرِفَتِکَ اَبَدًا.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلوَاجِدُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(چې هر شَئ لري / هغه **غَنِي** ذات چې په هيڅ وخت نَه **مُفلس** کيږي)

خَاصِيّت :- چې د دُوډئ د خوړلو پر وخت د **يَاوَاجِدُ** وِرد کوي دغه غذَاء به دده د زړه د طَاقَت او قُوّت او نُورَانِيّت ذريعه شي. چې په تَنهَايِي کې د هر وَايِي مَال به زِيَات شي. چې دُومرَه زيات يې وَايِي چې بې حَال شي هغه به په خپل **بَاطِن** کي دَادَول **نُور** محسوس کړي چې مخکي به نَه وي ليدلئ.

﴿... اَلمَاجِدُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(د بُزرگئ او عَظمَت والا)

خَاصِيّت :- چې څوک دا اِسم پر اُوبُو دَم (**چُف**) کړي بيايې مريض وَچيبنِي انشَآءَاللّٰه هغه مريض ته به اللّٰه تعالٰي شِفَاء ورکړي. چې دا اِسم لَس (۱۰) وَارَه پر **شَربَت** وَايِي بيايې چيبنِي هغه به په هيڅ وخت بِيمَار نَه شي. چې دا اِسم د هر وَايِي د مخلوق په نَظر کي به عِزّتمَند شي.

﴿... اَلوَاحِدُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(په خپل ذَات او صفَات کي تَنهَا / بې مثَالَ)

خَاصِيّت :- چې څوک هره وُرَخ زَر (۱۰۰۰) وَارَه **اَلوَاحِدُ الاَحَدُ** وَايِي دهغه د زړه څخه به د مخلوق **مُحَبّت** او **خَوف** ختم شي. چې د چا اَولاَد نَه

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کیږي هغه دي **اَلوَاحِدُ الاَحَدُ** وليکي د ځان سره دې کښيږدي انشآءالله **صَالِح اَولاَد** به نصيب شي. چې څوک په تَنهَايِي (يَکړوَالِي) کې بيريږي هغه دي په اَودَس سره زَر (۱۰۰۰) وَارَه دا اِسم ووَايِي اِنشآءالله خَوف به ختم شي.

﴿... اَلاَحَدُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(يَو / يَوَائِي. په خپلو صِفَاتُ کي بې مِثَالَ)

خَاصِيّت :- حضور (ﷺ) د يوه صَحَابِي څخه دا **دُعَاء** وَاؤرېدله

اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسئَلُکَ بِاَنِّي اَشهَدُ اَنَّکَ اَنتَ اللّٰهُ الَّذِي لآاِلٰهَ اِلاَّ اَنتَ الاَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَم يَلِد وَلَم يُولَد وَلَم يَکُن لَّهُ کُفُوًا اَحَدٌ .

نوحضور (ﷺ) وفرمائل:- چې دې سړي د **الله تعالٰي** څخه د **اسمِ اَعظَم** په ذريعه **دُعَاء** وکړه چې دهغه په ذريعه سره څَه وَغُوَارې نو الله تعالٰي يې ورکوي. چې پر **مَار** خورلي باندې يَوسَل يَو (۱۰۱) وار **اَلوَاحِدُ الاَحَدُ** ووَايِي هغه به جُور تَندُرَست شي.

﴿... اَلصَّمَدُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(د هر شي څخه بې نِيَاز)

خَاصِيّت :- چې د پښتلَمي (**تَهَجُّد**) پر وخت په سَجدَه کي سَر کښيږدي يَوسَل پِنځه لَس (۱۱۵) يا يَوسَل پِنځه وِيشت (۱۲۵) وَارَه ووَايِي انشآءالله **صدق ظَاهِري** به نَصِيب شي او د هيڅ ظَالِم په لاَس به گرِفتَار نَه شي. چې څوک يې زَر (۱۰۰۰) وَارَه وَايِي پردُښمَن به فَتح وموندي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چې په اَودَس ددې وِرد کوي د مخلوق څخه به بې نِیازشي.

﴿... اَلقَادِرُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(د قُدرَت والا)

خَاصِیّت :- چې په اَودَس کې د هر اَندَم د پرېمنځلو پر وخت **اَلقَادِرُ** وَایِي هغه به د ظَالِم په لاَس کرفتار نَه شي. که یو مُشکِل کار پېښ شي نو یو څلو پښت (۴۱) وَارَه دا اِسم وُوَایَه انشَآءَاللہ هغه کار به آسان شي. چې څوک دُوَه رکعت لمونځ وکړي بیا سَل (۱۰۰) وَارَه **اَلقَادِرُ** ووَایِي دُښمَن به ذلیل او رَسوَا شي. که چیرې دئ پر حَق وُ نو د ظَاهِرِي طَاقَت څخه عَلاَوَه **بَاطِنِي طَاقَت** به هم اللہ تعالٰی ورکړي.

﴿... اَلمُقتَدِرُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(کامِل قُدرَت لرونکئ)

خَاصِیّت :- چې دا اِسم د هر وَایِي یایې لږ تر لږ شَل (۲۰) وَارَه وَایِي دهغه تول کارونه به انشَآءَاللہ آسان شي. چې څوک یې په تَوَجّه سره وَایِي د هغه غَفلَت به لیرې شي. چې څوک حَقِیقَتًا مظلوم وي هغه دي د مِیَاشتِي په آخِرِي شُپَه په تَارِیک خُونَه (کُوتَه) کې پر لَمځه مُځکه دُوَه رکعته لمونځ اداء کړي او د دُوَیَم رکعت په آخِرِي سَجدَه کې دي **اَلمُقتَدِرُ الشَّدِیدُ القَوِيُّ القَادِرُ** وَوَایِي د ظَالِم خِلاَف دي **دُعَاء** وکړي انشَآءَاللہ **دُعَاء** به قبول شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلمُقدّمُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(مختہ کونکئ)

خَاصِیّت :- څوک چې د جنګ پر وخت **اَلمُقَدّمُ** په کَثرَت سره وَایِي هغه ته به الله تعالٰي به پېش قَدمِي ورکړي. د دُښمَنَانُ څخه به محفوظ شي. زَخم به نَه ورورسيږي. چې څوک نَه (۹) وَارَه دا اِسم پر **شِیرِینِي** باندي وَوَایِي دَم يې کي په هر چاچې وخوري هغه به دده سره مُحَبّت شروع کړي. د غَلَط او نَاجَائِز مَقصَد لپاره دا عَمَل کول **حرام** دئ.

﴿... اَلمُؤَخّرُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(وروسته کونکئ)

خَاصِیّت :- څوک چې **اَلمُؤَخّرُ** ډېر وَایِي د رِشتُونِي تُوبَه توفیق به نصیب شي. چې هره وُرَځ يې درې زره (۳۰۰۰) وَارَه تر يَو څلوېښت (۴۱) وُرَځِي پوري وَوَایِي چې څَه وغواړي هغه به ورته ملاؤ شي. د حضور (ﷺ) څخه دا **دُعَاء** منقول ده

اَللّٰهُمَّ اِغفِرلِي مَاقَدَّمتُ وَمَا اَخَّرتُ وَمَا اَسرَرتُ وَمَا اَعلَنتُ اَنتَ الْمُقَدِّمُ وَاَنتَ الْمُؤَخِّرُ وَاَنت عَلٰي كُلِّ شَيئٍ قَدِيرٌ .

﴿... اَلاَوّلُ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(تر ټولو اَوّل)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خَاصِیّت :- چې مُسَافر یې د جُمعه په شُپَه زَر (۱۰۰۰) وَارَه ووَایِي نو په خَیرِیّت او عَافِیّت به وَطَن ته راشي. چې څلوېښت (۴۰) جُمعَه یې د هرې جُمعَه پَه شُپَه زَر (۱۰۰۰) وَارَه دا اِسم ووَایِي اِنشَآءَاللّٰه تول حاجتونه به پوره شي. چې سَل (۱۰۰) وَارَه هره وُرَځ دا اِسم وَایِي دهغه مَینَه به دهغه سره مُحَبّت شروع کړي.

﴿... اَلاٰخِرُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(ترټولو وروسته)

خَاصِیّت :- څوک چې هره وُرَځ زَر (۱۰۰۰) وَارَه **اَلاٰخِرُ** وَایِي دهغه د زړه څخه به د **غَیرُاللّٰه** مُحَبّت ختم شي. او دغه به د ټول عُمر د کُوتَاهَیو **کَفّارَه** جوړ شي. او خَاتمَه به په **خَیر** شي. او نَسَبه اَعمَال به حُسني صَادِرِیږي. چې څوک **ضَعِیفُ العُمر** شي او نیک اَعمَال یې نَه وي هغه دي د دې اِسم **وِرد** پرَه دې پر کوي اِنشَآءَاللّٰه **عَاقِبَت** به په **خَیر** شي.

﴿... اَلظّاهِرُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(ښکاره/ واضِح)

خَاصِیّت :- چې د **اِشرَاق** د لمونځ وروسته پنځه سوه (۵۰۰) وَارَه ددې **وِرد** کوي اللّٰه تعالٰی به هغه ته د سترګو **رُوښَنَایِي** او د زړه **نُور** ورکړي. چې د **ګور** پر **دِیوَال** دا اِسم ولیکي اِنشَآءَاللّٰه دیوال به سَلَامَت شي. چې د بَارَان خَطرَه وي نو دا اِسم په کَثرَت سره ووَایَه په اَمن به شي. او دا د **اَصحَابِ کَشف** ذکر دئ.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلبَاطِنُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(پټ/غیر واضح)

خَاصِیّت :- چې هره وُرځ دري دېرش (۳۳) واړه **یَابَاطِنُ** وایي پر هغه به **بَاطِنِي اَسرَار** ښکاره شي په زړه کې به **اُنس** او د الله مُحَبّت پیدا شي. چې دوه رکعت لمونځ وکړي دهغه وروسته یو سَل پنځه څلوېښت (۱۴۵) واړه دا ووایي

هُوَ الاَوَّلُ وَالآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالبَاطِنُ وَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيئٍ قَدِيرٌ .

چې چاته اَمَانَت ورکړي یایې په مځکي کې پټ کې او پر کاغذ باندي **اَلبَاطِنُ** هم ورسره ولیکي په دغه اَمَانَت کې کښیږدي نو اِنشَآءَاللہ په هغه کې څوک خِیَانَت نه شي کولائي.

﴿... اَلوَالِيّ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(مُتَوَلّي/مُتَصَرّف/حاکم/کارساز)

خَاصِیّت :- چې څوک خپل **گُور** یا د بَل **گُور** د بَلا او بَربَادي څخه خُوندي ساتي هغه دي دري سوه (۳۰۰) واړه **اَلوَالِيّ** ووایي اِنشَآءَاللہ هغه گُور به محفوظ شي. چاته چې پر نورو خلکو باندي بالادَستي حاصل وي مَثَلاً **حَاکم/اَفسَر/شیخ/اُستَاذ/امام** دهغوئي لپاره د دې اسم وَیل ډېر مُفید دئ. که دیوچا د تَسخِیر په نِیّت یو لس (۱۱) واړه دا اسم ووایي هغه به **مُطیع** او **مُنقَاد** شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلمُتَعَال ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(ډېر بَلند او بَرتَر)

خَاصِیّت :- چې څوک د اَلمُتَعَال وِرد کوي انشَآءَاللہ ټول مُشکلات به رَفعَ شئ. چې بَد کردَارَه ښځه د حَیض په حالت کې دا اسم ډېر ډېر وَایِي انشَآءَاللہ دخپلي **بَدفعلي** څخه به نِجَات پیدا کړي. څوک چې د اتوار په شپه غُسل وکړي خُولَه و آسمان ته کړي دري (۳) وَارَه دا اِسم وَوَایِي چې کُومَه **دُعَاء** وکړي اللہ تعالیٰ به قبوله کړي.

﴿... اَلبَرّ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(نیک خَصلَت/ښَه سُلوک کونکئ)

خَاصِیّت :- چې څوک په **شَراب خُوري** یا **زِنَاء کاري** کې مُبتَلاء وي هره وُرَځ دې اُوَه (۷) وَارَاه وَایِي انشَآءَاللہ د ګناهونو څخه به زړه لیري شي. څوک چې د دُنیَا په مُحَبّت کې بُخت وي هغه دې دا اِسم ډېر ډېر وَایِي انشَآءَاللہ د زړه څخه به د دُنیَا مُحَبّت لیري شي. څوک چې د خپل بَچِي پر سَر لاس کښیږدي او پِنځه لَس (۱۵) وَارَه دا **دُعَاء** وَوَایِي

اَللّٰھُمَّ بِبَرَکَۃِ ھٰذَا الاِسمِ رَبِّہٖ لَایَتِیمًا وَلَالَئِیمًا .

انشَآءَاللہ **دُعَاء** به قبول شي. بَچِئ به نَه **یَتِیم** شي او نَه به **لَئِیم** شي.

﴿... اَلتَّوّابُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(توبه قبلونکئ/ د توبه توفیق ورکونکئ)

خَاصیّت :- چي پر ظَالِم باندي لس (۱۰) وَارَه دا اِسم وَوَایي دَم یې کې اِنشَآءَاللّٰه دهغه څخه به خَلاَص شي. څوک چي د څَابنست دلمونځ وروسته دا **دُعَاء**.

اَللّٰهُمَّ اغفِرلِي وَتُب عَلَيَّ اِنَّکَ اَنتَ التَّوّابُ الرَّحِيمُ .

وایي. دهغه ګناهونه به اِنشَآءَاللّٰه وَبَخښَل شي. چي دا اسم ولیکي د **بَارَان** په اُوبُو یې پرېمنځي په **شَرَابِي** یې وَچیښي اِنشَآءَاللّٰه د شَرَابُ عَادَت به پریږدي.

﴿... اَلمُنتَقِمُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(بَدلَه اخستونکئ)

خَاصِیّت :- چي څوک پر حَق وي او د **دُښمَن** څخه بَدلَه نَه شي اخستلائي هغه دي دري جُمعَه په کَثرَت سره **یَامُنتَقِمُ** وَایي اللّٰه تعالٰی به د دُښمَن څخه په خپله اِنشَآءَاللّٰه **انتِقَام** واخلي. چي څوک په نِیمَئ شُپَه کي دا اِسم وَایي چي کُوم نِیّت یې وي هغه کار به پوره شي. چي څوک په کَثرَت سره دا اِسم وَایي هغه به د سترګو تکلیف محسوس نَه کړي.

﴿... اَلعَفُوّ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(د بَرَبَښ کونکئ)

خَاصِیّت :- چي څوک دري هَفتي د دي اِسم **وِرد** وکړي تول دُښمَنَان به

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دُوستَان شي او په خلکو کي به عزّت پيدا کړي. چي څو يې هره وَرځ يَوسَل شُپَږ پِنځوس (۱۵۶) وَارَه وَايِي الله تعالٰي به د خَوف څخه اَمَن ورکړي. او که ددې سره **اَلغَفُور** هم وَايِي نو د قَبُولِيّت دِپاره زِيَات امکان يې دئ. چي دا اِسم دِپاره وَايِي نو د **خَوف** څخه به په **اَمَن** وي.

﴿... اَلرَّؤُف ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(غَټ مِهرَبَان/عظيم شَفَقَت کونکئ)

خَاصِيّت :- څوک چي مَظلُوم د ظَالِم د لاَس څخه راخلاسوي هغه دي **يَارَؤُف** لَس (۱۰) وَارَه وَوَايِي اِنشَآءَاللّٰه هغه ظَالِم به سَفَارَش قبول کړي. چي څوک لَس (۱۰) وَارَه **دُرُود شَرِيف** او لَس (۱۰) وَارَه دا اِسم وَوَايِي دهغه خَبنَم به ختم شي. او که چيري پر بَل **غَضَبنَاک** اِنسَان وَوَايِي دهغه خَبنَم به ختم شي.

﴿... مَالِکُ المُلک ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(د ټول جَهَان مَالِک)

خَاصِيّت :- څوک چي **يَامَالِکَ المُلک** همېشه وَايِي الله تعالٰي به **غَنِي** کړي. د خلکو څخه به بېنِيَاز کړي. د هيڅ چا مُحتَاج به نَه وي. کُوم **بَاچَا** چي د خپل مُلک اِستِحکام غواړي يا بَل مُلک فَتح کوئ هغه دي دا اِسم دِپاره وَايِي. چي څوک **يَامَالِکَ المُلک يَا ذَالجَلَالِ وَالاِکرَام** دِپاره وَايِي که **فَقِير** وي نو **غَنِي** به شي. لېکن دا اِسم دِپاره **جَلَالِي** دئ.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... ذُو الجَلَال وَالاکرَام ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(د عَظمَت و جَلَال د انعَام و اکرَام والا)

خَاصیّت :- څوک چې **یَا ذَا الجَلَالِ وَالاکرَامِ** وایي الله تعالیٰ به عزّت. عَظمَت او د مخلوق څخه اِستِغنَاء ورکړي. بعض دې ته **اِسمِ اَعظَم** ویلي دي. څوک چې

یَا ذَا الجَلَالِ وَالاِکرَامِ بِیَدِکَ الخَیرُ وَاَنتَ عَلٰی کُلِّ شَیئٍ قَدِیرٌ

سَل (۱۰۰) وَارَہ وَوَایِي پر اُوبُو یې دَم کړي هغه اُوبه مریض وچیښي شِفَاء به وموندي. او که غَمکِین وُ ددې عَمَل څخه به خوشحال شي.

﴿... اَلمُقسِطُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(عَدل وانصَاف کونکئ)

خَاصِیّت :- څوک چې هره وُرَځ دا اسم وَایِي د شَیطَانِي وَسوَسُو څخه به محفوظ وي. چې اُوه سَوَه (۷۰۰) وَارَہ د مخصوص او جائز مقصد لپاره دا اسم ووَایِي اِنشَآءَاللہ مَقصَد به پوره شي. چې په غَم کُي مُبتَلَاء وي اَویَا (۷۰) وَارَہ دې ووَایِي د هغه غَم څخه به نجَات پیدا کړي. ددې اِسم ډیر ډیر ویل په عِبَادَاتُ کي د وَسوَسُو څخه حِفَاظَت کوي.

﴿... اَلجَامِعُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(ټول مخلوقات جمع کونکئ)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خَاصِيّت :- چې دچا رِشتَه دَارَن **مُنتَشِر** او **مُتَفَرّق** شوي وي هغه دي د **خَابِسَت** پر وخت **غُسل** وکړي او آسمان ته دي خُولَه وکړزوي لَس (۱۰) وَارَه دي دا اسم وَوَايِي د هر وَار وَيلو سره دي د لاَس يَوه يوه گوتَه بَندَوِي چې لَس سره گوتي بَند شي نو بيا دي لاَسُونَه پر مَخ تېر کړي اِنشَآءَاللّٰه ټول به سره جَمع شي. دِجائز مُحَبّت لپاره دا ويل هم مُفِيد دئ.

﴿... اَلغَنِيّ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(دِ پر بېنيَاز)

خَاصِيّت :- چې هره وُرَځ اَويَا (۷۰) وَارَه **يَاغَنِيّ** وَايِي اللّٰه تعالٰي به په مَال کې برکت وَاچَوِي. چې څوک په ظَاهِرِي يا بَاطِنِي مرض کې مُبتَلَاء وي هغه دي پر ټولو اَندَامُو باندي **يَاغَنِيّ** دَم کړي. اِنشَآءَاللّٰه جوړ به شي. دا عَمَل د **مَرَضِ طَمع** (لاَلچ) لپاره هم مُفِيد عِلاَج دئ. چې څوک دا اِسم وليکي په مَال کې کښيږدي په هغه کې به بَرَکت پيدا شي.

﴿... اَلمُغنِيّ ...﴾

(... جَلّ جَلالَہٗ ...)

(غَنِي کونکئ/بېنيَاز کونکئ)

خَاصِيّت :- چې څوک تر لَس (۱۰) جُمعَه پوري هره جُمعَه زَر (۱۰۰۰) وَارَه يا لَس (۱۰) وَارَه دا اِسم وَوَايِي اللّٰه تعالٰي به د مخلوق څخه بېنيَاز کړي. څوک چې دا وليکي د ځان سره کښيږدي په هيڅ وخت به فَقِير نه شي. چې د قُربَت څخه مخکې اَويَا (۷۰) وَارَه دا وَوَايِي تر دې بره پوري به امسَاک وي. د زړه د صَفَايِي لپاره هره وُرَځ يَولَس سَوَه (۱۱۰۰) وَارَه

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دا اِسم ویل ډېر مُفید دئ.

﴿... اَلمَانِعُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(هَلاکت او تَبَاهِي منع کونکئ)

خَاصِیّت :- چې د خپلې مَینې سره اختلاف وي نو کله پر بِستَرَه پرېږدي هغه وخت دې شَل (۲۰) وَارَه وَوَایِي اِنشَآءَاللّٰه جنګ جګړې به ختم شي. چې څوک سَل (۱۰۰) وَارَه دا اِسم وَوَایِي اِنشَآءَاللّٰه د دُو کسانُ تر مینځ به جنګ خَتِم شي. چې څوک دا اِسم ډېرو ډېرو وَایِي د هر شَر څخه به محفوظ شي.

﴿... اَلضّارُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

(ضَرَر رسونکئ)

خَاصِیّت :- چې څوک سَل (۱۰۰) وَارَه د جُمعَه په شُپَه **اَلضّارُ** وَایِي هغه به اِنشَآءَاللّٰه د ټولو ظَاهِرِي او بَاطِنِي آفَتُونو څخه محفوظ شي. او قُربِ خُدَاوَنْدِي به ورته حَاصِل شي. څوک چې دا اِسم پاک وَوَایِي او د ظَالِم نُوم واخلي اِنشَآءَاللّٰه هغه ته به ضَرَر رسیږي. څوک چې د هرې جُمعَه په شُپَه سَل (۱۰۰) وَارَه **اَلضَارُ النّافِعُ** وَایِي په خپل قَوم کې به مُعَزّز شي او بَدَنِي عَافِیّت به ورته حَاصِل شي.

﴿... اَلنّافِعُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَہٗ ...)

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(نَفع رسونکئ)

خَاصِيّت :- څوک چې يَو کار شروع کوي يَو څلوېښت (۴۱) وَارَه وَوَايِي اِنشَآءَاللّٰه هغه کار به دده د مَرضئ مطابق وشي. چې د مَينې سره د نژدېکت څخه مخکې دا اسم وَايِي اِنشَآءَاللّٰه **صَالِح اَولَاد** به نصيب شي. چې د **رَجَبُ المُرَجَّب** په مياشته کې ددې **وِرد** کوي اِنشَآءَاللّٰه په **اَسرَارِالٰهِي** به آګاه شي. چې څومره طَاقَت يې په هغونه اَندَازَه يې څلور وُرځې ووَايِي اِنشَآءَاللّٰه په هيڅ وخت به په غَم کې مُبتَلاء نَه شي.

﴿... اَلنُّورُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(ډېره رُوښَانَ/ رُوښَانَ کونکئ)

خَاصِيّت :- چې د جُمعَه په شُپَه اُوَه (۷) وَارَه **سُورَةُ النُّور** او زَر (۱۰۰۰) وَارَه دا اسم ووَايِي زړه به په **نُورِالٰهِي** سره مُنَوَّر شي. چې دغه اسم د **اَلنَّافِعُ** سره يَوځائ ووَايِي پر مريض دَم وکړي هغه ته به اللّٰه تعالٰي شِفَاء ورکړي. چې د سَهَار پر وخت ددې اِسم ذِکر لَازِم کړي دهغه زړه به رُوښَانَ وي.

﴿... اَلهَادِي ...﴾

(... جَلَّ جَلَالَهٗ ...)

(هِدَايَت ورکونکئ)

خَاصِيّت :- چې يَو مُشکل پېښ شي دُوَه رکعته لمونځ دي وکړي. په دواړو رکعتو کې د **سُورَةُ الفَاتِحَه** وروسته دي **سُورَةُ الاِخلَاص** ووَايِي د سَلَام وروسته په يَوَه سَا چې څومره طَاقَت وي هغونه وَارَه ووَايِي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چي کله سَا ختم شي نو **دُعَاء** دي وکړي اِنشَآءَاللّٰه قبول به شي. چي د دې ذکر کوي يايې وليکي د ځان سره کښيږدي نو بَصيرَت او صحيح فَهم به نصيب شي. د دې ذِکر د **اَهلِ حُکُومَت** لپاره ډېر مُفيد دئ.

﴿... اَلبَدِيعُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(نَوئ پيدا کونکئ/بغير مِثال پيدا کونکئ)

خَاصِيّت :- چې غَم يا مُصيبَت يا هسې يَو مُشکل پېښ شي نو زَر (۱۰۰۰) وَارَه دي **يَابَدِيعَ السَّمٰوٰتِ وَالاَرضِ** وَوَايِي اِنشَآءَاللّٰه کشَاد کي به نصيب شي. څوک چې دُوَه کَس سَوَه (۱۲۰۰) وَارَه د مَاخَستَن د لمونځ وروسته **يَابَدِيعَ العَجَائِبِ بِالخَيرِ يَابَدِيعُ** دُوَه کَس (۱۲) وُرَځِي پَرلَپسې وَوَايِي چې د کُوم کار يا مَقصَد لپاره وَوَايِي د دې عَمَل د ختم کيدلو څخه مخکي به هغه مَقصَد پوره شي.

﴿... اَلبَاقِي ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(هميشه پاته کيدونکئ)

خَاصِيّت :- چې د جُمعَه په شُپَه يې زَر (۱۰۰۰) وَارَه وَوَايِي اللّٰه تعالٰي به د هر ضَرَر او نُقصَان څخه محفوظ وساتي. چې د لُمَر راختو څخه مخکي هره وُرَځ سَل (۱۰۰) وَارَه وَايِي اِنشَآءَاللّٰه تر مرګ پوري به هيڅ تکليف نَه وَوِيني. او عَاقِبَت (آخرَت) به په خَير وي. چې د هر لمونځ وروسته يَو سَل دِيَارلَس (۱۱۳) وَارَه د دې مَعمُول جوړ کړي هغه به هيڅ څوک د خپل **مَنصَب** څخه **مَعزُول** نَه کړي. که څَه هم ټول **انس او جِن**

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دده دُښمنان شي.

﴿... اَلوَارِثُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(د ټولو شیانُ حقیقي مَالِک)

(چې د هر شي د فَنَاء کېدو وروسته د مخکي او دهغه د ټولو شیانُ مَالِک دئ)

خَاصیّت :- چې د لُمَر د راختو پر وخت سَل وَارَه یَا وَارِثُ وَایِي انشَآءَاللّٰه د دُنیَا او آخِرَت د هر تکلیف. غَم. مُصیبَت. سَختي څخه به مَحفوظ او خَاتمَه به په خَیر وي. دا د اللّٰه تعالٰی د خُفیه رَازُونو څخه یَوپَت راز هم دئ. چې دا اِسم دېرډېر وَایِي په مَال کي به بَرکَت وي او عُمَر به زِیَات وي.

﴿... اَلرَّشِیدُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(د ټولو رِهنَمَا / سیدَا لاَرَه بنکاره کونکئ)

خَاصیّت :- څوک چې د خپل کار یا خپل مَقصَد په تَدبِیر نَه پُوهیږي چې څنګ وکړم؟ هغه دي د مَانبَام او مَاخَستَن په مینځ کي زَر (۱۰۰۰) وَارَه **یَارَشِیدُ** وَوَایِي انشَآءَاللّٰه په خُوب کي به تَدبِیر ورته بنکاره شي یا به په زړه **اَلقَاء** وشي. د صحیح او دُرَست فَیصلي د رِهنَمَایِي لپاره دا اسم د مَاخَستَن وروسته سَل (۱۰۰) وَارَه ویل ډېر مُفید دئ. چې څوک سَل (۱۰۰) وَارَه د مَاخَستَن وروسته وَایِي دهغه اَعمَال به قبول شي.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

﴿... اَلصَّبُورُ ...﴾

(... جَلَّ جَلَالُہٗ ...)

(ډېر برداشت کونکئ/غټ بُردبار)

خَاصِيّت:- چې د لُمر راختُو څخه مخکې سَل (١٠٠) وارَه وَوايِي انشآءَاللّٰه د هر مصيبت څخه به محفوظ شي د **دُښمَنانُو** او **حَاسِدِينُ** خُولې به وتَړل شي. چې څوک دا اسم ډېر ډېر وايِي **غَم** به لِيرې شي خوشحالي به نصيب شي. د ټولو حَاجَاتُ لپاره دا اسم دُوَه سَوَه اَتَه نِيوِي (٢٩٨) وارَه هره وَرځ وِيل مُفِيد دئ. دا اسم د **اَهلِ مُجَاهَدِي** د مخصوص **اَوراد** څخه دئ د دې په ذريعه هغوئ ته **ثابِت قَدمِي** نصيب کيږي.

اَللّٰهُمَّ ثَبِّت اَقدَامَنَا عَلَي الصِّرَاطِ المُستَقِيمِ.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

... د ګناهونو فهرست ...

ددې لاندې بیان شو ګناهونو څخه په خپله هم ځان ساتل ضروري دئ او نورو ته هم ددې څخه د ځان ساتلو **دَعوَت** ورکول ضروري دئ

(۱): د الله تعالیٰ سره شوک شریک کول (۲): جَادُو کول (۳): نَاحَق قِتل کول (۴): سُود خوړل (۵): د یَتِیم مَال خوړل (۶): د **جِهَاد** د مَیدَن څخه تَښتېدل (۷): پرپاک اِیمَان دَارَه بنځه باندې تُهمَت لګول (۸): زِنَا کول (۹): غَلاَ کول (۱۰): شَرَاب چیښل (۱۱): ډَاکه وَهَل (۱۲): دَغَنیمَت په مَال کې خِیَانَت کول (۱۳): په اَمَانَت کې خِیَانَت کول (۱۴): دُرواغ ویل (۱۵): د وَعدې خِلاَفورزِي کول (۱۶): بنکنځا کول (۱۷): په قَصدًا لمونځ پرېښول (۱۸): په لمونځ کې سُستِي کول (۱۹): لمونځ په جَمَاعَت سره نَه کول (۲۰): د جُمعَه لمونځ پرېښول (۲۱): د رِیَاء عِبَادَت کول (۲۲): نېک اَعمَال د دُنیَا لپاره کول (۲۳): د شُهرَت لپاره عَمَل کول (۲۴): زکوٰة نَه ورکول (۲۵): د فَرضِیّت وروسته حَج نَه کول (۲۶): فَرض رُوژې پرېښول (۲۷): قُرآنِ کریم هېرول (۲۸): په دِین کې **بِدعَت** جاري کول (۲۹): د دُنیَا لپاره **علم دِین** حَاصلول (۳۰): بغیر عُذر د **دِین علم** پَتَول (۳۱): و حضور ته د دُروغ حَدیث **نسبَت** کول (۳۲): دَاَولِیَآءُ الله سره دُښمَنِي کول (۳۳): بغیره بَلَنِي د خلکو **دَعوَت** ته تلل (۳۴): حَرَام مَال خوړل (۳۵): حرام مَال ګټل او وَارِثَانُ ته پرېښول (۳۶): د سُودِي لَین دَین (کار او مَعَامَله) لیکل او دهغه ګواه جوړېدل (۳۷): په سُود کې مُعَاوِن (مَرَستیَال) جوړېدل (۳۸): د حرام شَیَانُ خَرڅول او رَانیول (۳۹): په نَاپ او تُول (تَرَازُو/ګزَانَه/پُتَانَه) کې ګَمي

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کول (۴۰): رِشوَت ورکول. اَخَستَل او مُعَاوِن جوړېدل (۴۱): د شریعت خلاَف تېکسونه وُصُولَول (۴۲): د دُرُوغُ قَسَم خورِل (۴۳): د بَل پر مَال ذَاتي دَعوَه کول (۴۴): د ضرورت پر وخت غَلّه بَندَول (ذَخِیرَه کول) (۴۵): د دُرُوغ گواهي ورکول (۴۶): د غَیرُاللہ قَسَم خورِل (۴۷): د شریعت خِلاَف کار **نَذر** (مَنّت) اِیښُول (۴۸): خُودکُشي کول (۴۹): مُؤمِن قتل کول (۵۰): نَر د نَر سره او ښځه د ښځي سره اغلاَم بَازِي کول (یعني هم جِنس پرستي کول) (۵۱): د **مَزدُور** مَزدُورِي نَه ورکول (۵۲): پر بَل ظُلم کول (۵۳): دُوکه ورکول (۵۴): د **رِعَایَا** په حق کي خِیَانَت کول (۵۵): بُخل کول (۵۶): د انسَانَانُ حق تَلفي کول (۵۷): چې د پور (**قَرض**) د اداء کولو بغیر مَړ شَي (۵۸): په خپل مِینځ کي بُغض کول (۵۹): حَسَد کول (۶۰): بَدگُمَاني او تَجَسّس کول (۶۱): هَمسَایَه زَیرَول (۶۲): د چا بېعِزّتي کول (۶۳): خُمَار کول (۶۴): احسَان بنکاره کول (اِحسَان اَچَول) (۶۵): ډُولُونَه/سُرُوزُونَه وَهَل (۶۶): چُغلي کول (۶۷): دُوَه رُخي کول (۶۸): طَعنَه (پېغُور) ورکول (۶۹): د بَل چا پېښې (نَقَل/چَمُونَه) کول (۷۰): مُور او پُلاَر زَیرَول (۷۱): قَطعِ تَعَلّق کول (۷۲): په دُرُوغجَن قَسَمُونو مَال خَرڅَول (۷۳): تَکبّر کول (۷۴): د بَولُو د ځاځکو څخه ځان نَه سَاتَل (۷۵): اَمرِبالمَعرُوف او نَهيِ عَنِ المُنکر پرېښول (۷۶): د خلکو څخه (بغیر شَرعِي جواز) سُوَال کول (۷۷): د خپلو بِي بِي گانُو (**مَیئُو**) تر مینځ برابَري نَه کول (۷۸): د مېړه نَافَرمَاني کول (۷۹): د ښځي بې پَردَه کېدل (۸۰): د خُسَر گَني د رِشتَه دَارَانُ څخه پَردَه نَه کول

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(۸۱): د چا سَتَر ته کتل (۸۲): د حَیض په حالت کي جِمَاع (نږدې کت) کول (۸۳): د مېرې او مَیني تر مینځ جُدَایي راوَستَل (۸۴): نَسَب بَدلول (۸۵): نَجُومي او جَادُوګرانُ ته تلل (۸۶): د بنځي خوشبو لګول او دَنرانُ بُوئي کول (۸۷): بَدنَظري کول (۸۸): د اَغیَارُ مُشَابَهَت کول (۸۹): بِیرَه خَرَیل یا کشنَئ کول او بُرېتُونَه غَټَول (۹۰): په غَیر مَحرَم باندي بَدَن مَالش کول (۹۱): نَر د بنځي او بنځه د نَر مُشَابَهَت اختیَارَول (۹۲): د نُوم او شُهرَت لپاره کپړي اَغُوستَل (۹۳): د شُهرَت لپاره زِیوَرَات استعمَالول (۹۴): د بنځي دَاډَول لبَاس (جَامَه) اَغُوسستَل چي د بَدَن اَعضَاء (اَندَامُونَه) وَاضِح وي (۹۵): د نَر پائڅي تر بِجلګو کښته ځړېدل (۹۶): د نَر سره زَرِیا زِیوَرَات استعمَالول (۹۷): ګورته (بغیره ضرورت) تَصوِیر یا سُپَئ اِیښُول (۹۸): تَصوِیر جوړول (۹۹): د مَال عَیب پَټَول او مَال خَرڅَول (۱۰۰): مَاتَم کول په زوره ژَړَل او ګرېوانونه څېرل (۱۰۱): د شَریعت خِلاَف وَصِیّت کول (۱۰۲): اَصحَابَانُ ته بَدبَد وَیل.

... مُنَاجَات مَقبُولت ...

اِئ اللّٰه! موږ عَاجِز بنده ګان ستا پاکي بیان وُ او ستا و حضورته مِي خپل لاَسُونَه پورته کړي دي.

اِئ اللّٰه! زموږ زړونه په اخلاَص سره خپل دِین ته رَاوګرزوې.

اِئ اللّٰه! زموږ صَغِیرَه او کَبِیرَه معاف کړې.

اِئ اللّٰه! موږ مَضبُوط (پاخَه) او رِشتُونِي مسلمانان کړې.

اِئ اللّٰه! زموږ مُشکِلاَت حَل کړې.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ائ اللہ! موږ ته پر اسلام باندي استقامت رانصیب کړې.
ائ اللہ! زموږ څخه راضي شې. موږ د شیطان او نفس د شر څخه وساتې.
ائ اللہ! ائ زموږ خاتمه پر ایمان کې.
ائ اللہ! زموږ قدمونه (گامونه) پر صراط مستقیم باندي قائم کړې.
ائ اللہ! ستا پر **قضاء** او **رضاء** موږ ته د راضي کېدو توفیق راکړې.
ائ اللہ! خپل خاص رحمت نازل کړې د قهر و غضب څخه مو وساتې.
ائ اللہ! د قیامت د رسوایي څخه موږ وساتې.
ائ اللہ! د خپل عرش تر سایه لاندي ځائ رانصیب کړې.
ائ اللہ! د قیامت په ورځ ستا دیدار رانصیب کړې.
ائ اللہ! د حشر د ورځې د رسوایي څخه ټول امّت محمّدیّه په خپله پناه کي وساتې. اسلام ته غلبه ورکړې. د اسلام بیرغ بالا او بلند کړې.
ائ اللہ! ټول مسلمانان د غفلت څخه راویښ کړې. د اسلام حفاظت وکړې. زموږ خطاګانې معاف کړې.
ائ اللہ! د قبر د تاریکي او ستا د عذاب څخه موږ وساتې. د منکر او نکیر د سوالاتو پر وخت زموږ مرسته وکړې. اعمال نامه په ښي لاس راکړې.
ائ اللہ! موږ ته حلال روزي رانصیب کړې. زموږ په کاروبار کي په خپل رحمت سره برکت واچوې. او مالي ترقي راکړې.
ائ اللہ! موږ ته اخلاص رانصیب کړې. زموږ د زړو څخه حسد. بغض او کینه لیري کړې. موږ د دجّال د فتنې. د مرګ د سختي. د قبر د عذاب. د قیامت د ګرمۍ او د جهنّم د وور (اور) څخه محفوظ کړې.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ائ اللہ! د پُلِ صِرَاط لاَرَه موږ ته آسَان کړې او جَنّتُ الفِردَوس کې ځائ راکړې.

ائ اللہ! تَنګدَستي. ګبراؤ بدل. پرېشَـانۍ او قَـرض بُـوج راڅخـه لیـرې کړې. په آخِرَت کې ستا دِیدَار رَانَصِیب کړې.

ائ اللہ! موږ ته ښَه صِحّت راکړې چې موږ ستا عِبَادَت وکړو.

ائ اللہ! د مرګ پر وخت مو کَلِمَه نَصِیب کړې. زموږ دُعَاء ګانِ قبول کړې.

ائ اللہ! زموږ اَولاَدُونَه د عِلم دِین په دَولَت سره سَرفَرَاز کړې. نېک او صَالِح یې کړې.

ائ اللہ! موږ د ګناهونو تر پِیټُو لاندې شوي یو. بَل هیڅ اُمِید نَه لرو. په خپل رَحمَت سره موږ وبَخښې.

ائ اللہ! ائ غَفُور او رَحِیم زموږ ګناهونه مَعَاف کړې.

ائ اللہ! موږ د ګناهونو څخه تُوبَه کوو زموږ خَطَاء ګانِ معاف کړې.

ائ اللہ! موږ پر خپلو ګناهونو باندې شَرمِندَه یو.

ائ اللہ! ګوم ګناهونه چې موږ په قَصدًا کړي دي یا زموږ څخه سَهوًا خَطَاءً شوي دي هغه ټول معاف کړې.

ائ اللہ! زموږ نَرَان او ښځې د لمونځ پَابَند کړې.

ائ اللہ! زموږ عِبَادَتُونَه قبول کړې.

ائ اللہ! ټول مسلمانان نېک او صَالِح کړې.

ائ اللہ! موږ ټول د هرډَول نَاجُورِیُو څخه محفوظ وَسَاتې.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اۓ اللہ! اسلام غالب کړې. د مسلمانان ټول مُشکلات حل کړې. او زمونږ هر مُشکل آسان کړې. او مونږ ټولو ته راحت راکړې.

اۓ اللہ! مسلمانان ته په دین او دُنیا کې عزّت ورکړې.

اۓ اللہ! کمزورو خلکو ته قوّت ورکړې.

اۓ اللہ! مَریضانُ ته شفاء وزکړې.

اۓ اللہ! مُسافرین په خَیر ګورُونو او خپلوانُ ته راولې.

اۓ اللہ! زمونږ ټول جائز حاجتونه پوره کړې.

اۓ اللہ! د تنګدستانُ تنګدستي لیرې کړې.

اۓ اللہ! چې بې اولاد دي هغوئي ته نیک صالح نارینه اولاد ورکړې.

اۓ اللہ! زمونږ **اولادونه** او دهغوئي د نسل څخه چې ګوم دُنیا ته راروان دي هغه ټول صالحین او نیک کړې.

اۓ اللہ! زمونږ مُرده ګانُ ته بخښنه وکړې. د دُوئي قبرُونه د جنّت باغیچې وګرزوې. بلند درجات ورکړې.

اۓ اللہ! ټولو مسلمانانُ ته د خپل عظیم پیغمبر حضرت مُحمّد مُصطفٰی (ﷺ) **شفاعت** نصیب کړې. آمین!

... یوه مُفید دُعاء ...

څوک چې د هر لمونځ وروسته په پابندي سره دا دُعاء وایي خُصوصًا د جُمعه د لمونځ وروسته الله تعالٰی د هر خوف د شي څخه دهغه حفاظت کوي او دهغه پر دُښمنانُ باندي دهغه مرسته کوي او هغه غني ګرزوي او هغه ته به د دا دَول ځای څخه رُوزي ورورسوي چې هلته به دده وهم او خیال هم نه وي. او ده ته به دده ژوند آسان کړي. او قرض به اداء

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کړي که څه هم د غږه په شان قرضي وي الله تعالي به په خپل فضل او کرم سره اداء کړي. دُعَاء داده

يَااَللّٰهُ يَااَحَدُ يَاوَاحِدُ يَامَوجُودُ يَاجَوَّادُ يَابَاسِطُ يَاكَرِيمُ يَاوَهَّابُ يَاذَاالطَّولِ يَاغَنِيُّ يَامُغنِيُّ يَافَتَّاحُ يَارَزَّاقُ يَاعَلِيمُ يَاحَكِيمُ يَاحَيُّ يَاقَيُّومُ يَارَحمٰنُ يَارَحِيمُ يَابَدِيعَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرضِ يَاذَاالجَلَالِ وَالإِكرَامِ يَاحَنَّانُ يَامَنَّانُ نَفِّحنِي مِنکَ بِنَفحَةِ خَيرٍ تُغنِينِي بِهَا عَمَّن سِوَاکَ اِن تَستَفتِحُوا فَقَد جَآءَکُمُ الفَتحُ. اِنَّا فَتَحنَا لَکَ فَتحًا مُّبِينًا. نَصرٌ مِّنَ اللهِ وَفَتحٌ قَرِيبٌ. اَللّٰهُمَّ يَاغَنِيُّ يَاحَمِيدُ يَامُبدِئُ يَامُعِيدُ يَاوَدُودُ يَاذَاالعَرشِ المَجِيدُ يَافَعَّالٌ لِّمَايُرِيدُ اِكفِنِي بِحَلَالِکَ عَن حَرَامِکَ وَاَغنِنِي بِفَضلِکَ عَمَّن سِوَاکَ وَاحفَظنِي بِمَاحَفِظتَ بِهِ الذِّکرَ وَانصُرنِي بِمَانَصَرتَ بِهِ الرُّسُلَ اِنَّکَ عَلٰي کُلِّ شَيءٍ قَدِيرٌ.

... مُلاَحَظَه ...

شيخ الاِسلاَم اِمَام اِبن قَيّم (رَحمَةُاللهِ عَلَيه) په خپل کِتَاب زَادُالمَعَاد فِي هَدي خَيرِالعِبَاد کي يو حديث بيانوي چي د حضرت ابو خزيمه (رضي الله عنه) څخه رِوَايَت دئ. دئ فرمائي چي مَا د حضور (ﷺ) څخه پُوښتَنه وکړه چي د دَم. دُرُود. دَوَاء او د نَاجُورِيو څخه د ځان سَاتَلو نورو تَدبِيرُونو په اړه ستا څه رآيه ده؟ آيا په دي سره د الله تعالي تَقدِير ليري کيدلائي شي؟ حضور (ﷺ) وفرمايل چي ،، دا خو هم د الله تعالي تَقدِير دئ ،،.

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

..... (د مُترجم نور کتابونه) .....

(۱) د سلام شرعي حيثيّت (اردو) .....

(۲) د تبرکاتُ شرعي حيثيّت (اردو) .....

(۳) د ګناه ګارانو ژړا (پښتو) .....

(۴) تزئين قواعد الصرف (پښتو) .....

(۵) الحُسنٰي شرح کنديا (پښتو) .....

(۶) رابطې او تعلقات (پښتو) .....

(۷) د موبائل فون غلط استعمال (پښتو) .....

(۸) عصري تقريرونه (پښتو) .....

(۹) د لمونځ کتاب (پښتو) .....

(۱۰) الشرح الثميري (پښتو) مکمّل څلور جلد .....

(۱۱) بيضآءالانظار علٰي نورالانوار (عربي) .....

(۱۲) حاشية المتنبي (عربي غير مطبوعه) .....

(۱۳) تعليم الاسلام (پښتو) خُرد / کلاَن .....

(۱۴) تفسير سورة يٰس (پښتو) .....

(۱۵) ډاکټر ذاکر نائک څوک دئ؟ پښتو (غَيرمَطبُوعَه).....

(۱۶) خُطبَات قُطب دُوَه جِلد پښتو .....

(۱۷) مُجَرّبَاتِ قُطب پښتو .....

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کفایت دینی کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395